
افغانیک

# زما ژوند او مبارزه



ژباړونکی انجنیر غلام محمد

۱۳۹۴

زما ژوند او مبارزه
My life & Struggle
ژباړونکی انجنیر غلام محمد
۱۳۹۴

Afghanic

# My life & Struggle

as narrated to K B Narang

ISBN 978-9936-200-03-6

Translator Eng Ghulam Mohammad

2016

# زما ژوند او مبارزه

## د خان عبدالغفار خان اټوبيوګرافي

ترتيب کوونکی: ک. ب. نرنګ

ژباړونکی: انجنير غلام محمد

کابل، ۱۳۹۴

بسم الله الرحمن الرحيم


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | زما ژوند او مبارزه: د خان عبدالغار خان اټوبیوګرافي |
| ترتیب کوونکی | ک. ب. نرنګ |
| ژباړونکی | انجنیر غلام محمد |
| لومړی چاپ | ۱۳۵۳، کابل |
| دوهم چاپ | ۱۳۹۴، کابل |
| چاپشمېر | ۱۰۰۰ |
| چاپځای | سهر مطبعه، کابل، افغانستان |

ای اس بي ان

# فهرست


سریزه........................................ الف
د املایی تغیراتو یادونه........................ ج
زما کوچنیوالې....................................... ۱
زموږ کلتوري میراث................................. ۵
شهرت غوښتنه او هېواد پالنه، دوه تضاد اصلونه دي.......... ۸
پوهه - رشد او مرئیتوب............................. ۱۲
د هېواد په ګوټونو کې................................ ۱۹
مایوسي، محرومیتونه او بندیخانې................... ۲۵
ولې موږ بندیان شو؟................................ ۳۱
هجرت................................................. ۳۴
د خلافت جنبش...................................... ۳۸
د جېلونو بدلون...................................... ۴۲
په برتانوي جېل کې.................................. ۵۴
ځمرۍ او مېږه....................................... ۶۱
په ژورنالیزم کې تجربې............................. ۶۲
خدایي خدمتګاران.................................. ۷۰

غونډې او کنفرانسونه................................................ ۷۴
د سور پوښو زجر او تړښه........................................... ۸۰
د بنو کلابندي....................................................... ۸۵
جنبشونه او ظلمونه ................................................ ۹۰
د ګاندي ایروین تړون.............................................. ۹۷
زه او جواهر لال..................................................... ۱۰۰
په سیمله کې......................................................... ۱۰۵
تشدد که عدم تشدد ؟.............................................. ۱۱۲
په جېل کې دوستي................................................. ۱۱۷
په بنګال کې......................................................... ۱۲۱
رښتیا ویل جرم دی !................................................ ۱۲۳
کورنۍ الې ګولې ..................................................... ۱۲۷
ټبرونو ته د جرګو لېږل.............................................. ۱۳۲
د پښتنو ترمنځ وېش ............................................... ۱۳۶
ریفرنډم او انتخابات ................................................. ۱۴۰
د کابینې ماموریت .................................................. ۱۴۵
سرحدونو ته د جواهر لال تګ ..................................... ۱۴۷
عدم تشدد ........................................................... ۱۵۵
کسات په کسات باندې.............................................. ۱۵۷
د هندوستان وېش.................................................... ۱۶۱
آیا آزادي داسې وي؟ ................................................ ۱۶۷
آیا موږ خپل اعتبار خوړلی دی؟.................................... ۱۷۰
انګلیسي سریزه....................................................... ۱۷۴

# سریزه

«زما ژوند او مبارزه» کتاب د My Life & Struggle. Autobiography of Badshah Khan کتاب پښتو ژباړه ده، چې د باچا خان له خولې لیکل شوی او ښاغلي K. B. Narag ثبت او بیا په کال ۱۹۲۹ په هند کې په انګریزي ژبه چاپ شوی دی.

همدا کتاب بیا د ښاغلي انجنیر غلام محمد لخوا پښتو ته اړول شوی او د لومړي ځل لپاره د اطلاعاتو او کلتور وزارت لخوا په کال ۱۳۵۳ په کابل کې په دولتي مطبعه کې چاپ شوی دی.

ما په کامه کې د حمزه بابا کتابتون کې د همدې کتاب یوه نسخه ولیدله او د ټایپ نه وروسته دا دی تاسو ګرانو لوستونکو ته یې وړاندې کوم.

د استاد صمیم دغه خدایي خدمت ستایم.

د همدې کتاب انګلیسي متن یو ځل بیا په کابل کې د افغانستان ټایمز خپرولو مرکز لخوا په کال ۲۰۰۸ چاپ شوی او په الماني ژبه هم په کال ۲۰۱۲ کې چاپ شوی دی.

څرنګه چې د کتاب پښتو نسخه هم نه پیدا کېدله، نو موږ دا کتاب بیا چاپ کړ، ترڅو خلک د باچا خان د ژوند او مبارزې څخه خبر شي، ځان پرې وپوهوي او عمل پرې وکړي.

ما د باچا خان خبرې له بېلا بېلو کتابونو څخه راټولې او د کتاب په شکل «زموږ د باچا خبرې» تر نامه لاندې چاپ کړې دی، په دغه کتاب زما د سریزې یوه برخه دلته رانقل کوم:

« په افغانستان کې په د پرشو کلونو کې څه ناڅه هره ورځ په خبرونو کې راځي، چې دلته او هلته چاودنه، حمله، جګړه او ځانمرګې حمله وشوه او پکې دومره کسان ژوبل او دومره کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

د دغه حالت یو اصلي عامل زموږ د خلکو په سرونو او زړونو کې د خپلو هیلو، غوښتنو، ټولنیزو او سیاسي هدفونو ته د رسېدلو د تشدد له لارې دی.
زموږ په ملک کې د دربیو لسیزو جګړو او د بېلابېلو افراطي ډلو راتګ یو مهم علت همدا دی.
د ترکیې د مذهبي چارو ریاست (دیانت) مشر پروفیسور ډاکټر محمد ګورش وایي: «د مسلمانانو تر ټولو لویه ستونزه دا ده، چې دوی نه شي کولای د خپل دین او ورځني ژوند ترمنځ صحیح رابطه تینګه کړي. ډېر اسلامي مشران او عالمان د دې پر ځای چې ستونزې حل کړي، دوی پخپله ستونزې جوړوي»
زموږ باچا سل کاله مخکې دغه حیاتي مسئلې ته متوجه او د هغه د حل لپاره یې عملي ګامونه اېښي وو، خو له بده مرغه چې د دومره وخت په تېرېدلو سره لا هم ډېر افغانان پخپلو سرونو او زړونو کې د تشدد په موجودیت یا پوه نه دي او یا هم د هغه د لرې کولو لپاره هیڅ کوم اساسي او عملي قدمونه نه دي اېښودل شوي. له بده مرغه افغانان، نور مسلمانان او هم نور خلک د باچا خان له فکر او عمل څخه بې خبره دي.
ده سل کاله مخکې افغاني او اسلامي ټولنه ډېره ښه تحلیل، تشخیص او پېژندلې وه او په تداوي کې یې عملي او بریالي ګامونه اخیستي وو.
باچا خان ټول ژوند د خپلو خلکو د ستونزو په حل کولو کې جد و جهد کړی دی. ده هر چېرته د سولې، وروروله، مینې، عدم تشدد غږ پورته کړی دی.
له بده مرغه دا زمونږ د مشرانو او زمونږ خپله ملامتي ده، چې د غفار خان د فکر او جد و جهد نه مو ځانونه نه دي خبر کړي او د ده لاره مو نه ده تعقیب کړې. زموږ د باچا خبرې او د باچا خان د نورو کتابونو له چاپ څخه زمونږ یوه موخه همدا د عدم تشدد مسئله ده.

یحیی وردک

کابل، نومبر، ۲۰۱۵

# د املايي تغيراتو يادونه

څرنګه چې دغه کتاب څلويښت کاله پخوا ترجمه، ټايپ او چاپ شوی ؤ، مونږ يوازې ډيرکم املايي تغيرات پکې راوستل، چې د ګرانو لوستونکو د معلوماتو لپاره يې دلته ذکر کوو:

| اصل متن | تغير شوی متن | صفحه |
|---|---|---|
| ۱- پاته | پاتې | ۳ |
| ۲- په | پر | ۵ |
| ۳- اولس | اولسونه | ۶ |
| ۴- وځنډيده | وځنډيدل | ۸ |
| ۵- تالو | طالعو | ۹ |
| ۶- رسختي | رخصتي | ۱۰ |
| ۷- شوه | شو | ۱۱ |
| ۸- کيدي | کيږدي | ۱۴ |
| ۹- شنه | شين | ۱۴ |
| ۱۰- کور | کوربه | ۱۴ |
| ۱۱- پاته | پاتې | ۱۶ |
| ۱۲- کوزده | کوژده | ۱۹ |
| ۱۳- کين | کينې | ۲۳ |
| ۱۴- اصل متن: پښې يې په زور پکې تخته کړې<br>تغير شوی متن: پښې مې يې په زور پکې تخته کړې | | ۲۶ |
| ۱۵- کامل | کاملاً | ۳۳ |
| ۱۶- ووي | ووېل | ۸۰ |
| ۱۷- په | پرې | ۸۳ |
| ۱۸- وي | دی | ۹۰ |
| ۱۹- ښه راغلی | ښه راغلاست | ۱۴۹ |
| ۲۰- منکې | مکې | ۱۵۴ |
| ۲۱- وشو | وشول | ۱۶۷ |

# زما کوچنیواله

زه په هستانګر چې اوس په هشتنغر سره مشهور دی د اتمانزو په کلي کې د خان بهرام خان په کور کې زېږېدلی یم. په هغه زمانه کې زمونږ په کورنیو کې رواج نه و چې د خپلو ماشومانو د زېږېدو نېټه یادداشت کې. او برسېره پر هغه ډېرو کمو وګړو لوستل او لیکل کولای شو.
نو له دې کبله زما د زېږېدنې د نېټې او کال ریکارډ نشته دی. مګر زه په دې باور لرم چې زه په ۱۸۹۰ع کال کې زېږېدلی یم؛ دا ځکه چې مور به مې تل راته ویل، کله چې زما د ورور ډاکټر خان صاحب واده ؤ زه یوولس کلن وم.
څنګه چې نوموړي په ۱۹۰۱ع کال کې واده وکړ، نو هرومرو به زما د زېږېدو کال ۱۸۹۰ع وي. زما پلار د خپل قوم لوی مشر او خان ؤ، مګر د مشرۍ او خانۍ غرور او هوا یې په ککره کې نه وه. هغه خورا نرم مزاج، سخي حوصله من، خدا ترس او د عالي کرکتر خاوند ؤ. په هره شخړه کې یې د ببوزلو ملاتړ کاوه. که چا به ورسره تېری او ناروا هم وکړه، نو هیڅکله یې د کسات (انتقام) اخیستلو هڅه نه کوله او برعکس د تېري کوونکي په کړنو به یې سترګې پټولې او عفوه به یې ورته کوله. زما مور هم سخاوتي او آزاد طبیعته ښځه وه. هغې زمونږ د ببوزلو ګاونډیانو لپاره ډوډۍ تیارولـه او پخپله به یې ورباندې وېشله. ډېر ځله به مسافر زمونږ حجرې ته راتلل او مونږ به نه پېژندل، چې څوک او د کوم ځای وو.
مګر دا مسافر به که زمونږ مېلمانه وو او که عادي لاروی پلار به مو ډوډۍ او نور څه د هغوی کوټو ته پخپله وروړل. که څه هم مونږ مزدوران لرل، خو بیا هم زما پلار به د وچې ډوډۍ شکرۍ په سر او کتغ (پوخ شوی نګولی) به یې په لاس کې ؤ، د مېلمنو کوټې ته ورتللو او ډوډۍ به یې پخپله ورکوله. ځکه چې زما پلار به تل «چې ناپېژنده (نا اشنا) لاروی هم د مونږ مېلمه دی او خدای(ج) مونږ ته را استولی دی، نو زه باید پخپل لاس ډوډۍ ورکړم او خدمت یې وکړم». د نورو خانانو برعکس زما پلار د

حکومت ستاینده وی نه ؤ. هغه هیڅکله له حکومتي مشرانو سره د اړیکو پیدا کول نه غوښتل او نه یې دا چې هغوی ته د خدمت کولو چمتو والی څرګند کړي، غوړه مالي (چاپلوسي) کوله.

زما نیکه سیف الله خان هم داسې ژوند کاوه. هغه وخت چې په سورکاوه کې جنګ ولګېد او برتانویانو غوښتل چې بنیر ونیسي، نو زمونږ ځینو خانانو له هغوی سره مرسته کوله. لېکن زما نیکه سیف الله خان د مظلومانو او بېوزلو ملاتړ وکړ او له هغو قهرمانو جګړه مارانو سره یوځای شو، کوم چې د دښمن په مخامخ یې توره راخیستې وه.

کوم وخت او کوم ځای کې به چې برتانویانو په جګړه لاس پورې کړ او هڅه به یې کوله چې زمونږ اولس ووژني او خپله باداري وربانده ومني، نو زما نیکه به پخپلو هېوادوالو ټینګ ولاړ ؤ او له هغه چا سره چې د باندینو پیاوړتوبونو (قدرتونو) تر لاس لاندې ځپل شوي وو، یوځای اوږه په اوږه مبارزه کوله.

زما غور نیکه عبید الله خان هم مشهور - پیاوړی او د خپل اولس نامتو او ګران مشر ؤ. نوموړي د خپل هېواد پالنې د احساس او باخبرۍ په هکله په کورنیو شخړو کې مړ شو. او له هغه څخه وروسته کله چې د برتانیې حکومت منځته راغی، نو زمونږ هېواد یې له پنجاب سره د تړلو هڅه وکړه.

برتانویانو په پنجاب کې ډېر ښوونځي جوړ کړل، مګر زمونږ د کوچنیانو زده کړې په هکله یې یو ګام هم وانه خیست. د پښتون او انګرېز ترمنځ خو کومه مینه نه وه، خو پنجاب هم په مونږ کوم زړه سوی ونکړ. په څو کلیو کې یو څه شمېر کلیوالي ښوونځي جوړ شول، مګر یو پښتون ښوونکی یې هم نه درلود. په هغو ښوونځیو کې چې د برتانیې لخوا په هندوستان کې جوړ شوي وو، ټولو کوچنیانو ته د دوی په مورنۍ ژبه سبق ویل کېده، مګر زمونږ یو اځنی بدمرغه هېواد وو، چې چا د زده کړې په هکله ورته کوم ترتیب نه وو نیولی او کوم هغه لږ شمېر ښوونځي، چې په ځینو کلیو کې و، هغوی په پردۍ ژبه زده کړه کوله. بلکه دا د ډېرې خواشینۍ خبره ده، چې که څه هم برتانیې زمونږ لپاره ځیني ښوونځي جوړ کړل، مګر له بلې خوا په لاس جوړ

کړي ملایان یې هم مونږ ته را واستول، چې هغوی به د اولس په منځ کې د روحانیت دعوې کولې او هر چا چې به په دغو ښوونځیو کې سبق لوست، نو هغوی به یې مردود (منحرف) بلل. دغو صاحبانو به د ښوونځیو په هکله پروپېګنډې کولې او ویل به یې: «هغه پلرونه چې خپل ماشومان ښوونځي ته استوي، یوازې د پیسو لپاره دي. د دغو زده کوونکو لپاره په جنت کې ځای نشته او ټول به دوزخ ته درومي!» د دې پروپېګنډې منظور دا ؤ، چې پښتانه ښسواده او نازده کړي پاتې شي او همدا سبب و چې په دغه استعماري دوره کې پښتون له علمي لحاظه وروسته پاتې شو.

د پښتنو ماشومانو لپاره د زده کړې کومه بله لیار هم نه وه.

یوازې په جوماتونو کې ځینې مذهبي سبقونه لوستل کېدل او دا سبقونه چې ملایانو به ویل، هغه چا ورځنې ګټه اخیستله چې د جوماتونو امام شي.

نور عام اولس د زده کړې او تعلیم څه پروا نه کوله، ځنګه چې د اسلام د مقدس دین له راتلو نه مخکې زمونږ دې اولس برهمني ؤ، نو دا «زده کړه برهمینانو لپاره وه» مفکوره لا تر اوسه پورې زمونږ په ټولنه کې روانه وه، هغه وو چې په پای کې زمونږ اولس لکه د هند د مذهبي فریقو په شانته وویشل شو.

که څه هم زما پلار سیستماتیکي تعلیم نه و کړی، مګر له زده کړې او تعلیم سره یې خورا مینه لرله. زه پنځه کلن وم کله چې یې جومات ته د زده کړې لپاره ملا ته ورواستولم، خوارکی ملا ځنګه چې پخپله ښسواده او بې تعلیم ؤ، نو ځنګه به یې ماته څه را زده کړي وو؟ نوموړي د قرآن مجید څو سورتونه زده کړي وو. مګر زه دې شکمن یم چې که ګوندې دې د یوه ټکي په معنی هم خبر ؤ!

ملا ما ته د قرآن پاک د دېرشو سپارو په راښوولو پیل وکړ. هغه ورځ چې ما د قرآن مجید په قرآئت کولو پیل وکړ، مور او پلار مې مېوه ووېشله. هغوی په دې هکله چې زما زده کړه پیل شوه ډېرخوښ وو. عجیبه خو دا وه چې خوارکی ملا په دې قادر نه و چې یوازې الف - ب را وښیي، مګر د قرآن مجید راښوولو ته یې ملا وتړله دا به نو ځنګه وي!

څنګه چې هغه پخپله د الفبا نیمايي زده نه وه، ما ته څرنګه د قرآن مجید د لوستلو توقع ورڅخه کېدلای شوه؟

دا خو د ملا ګناه نه وه ځکه چې پخپله ده هم دومره څه زده کړي وو، چې هغه وخت زمونږ په هېواد کې رواج وو.

زمونږ ښوونکی ډېر مستبد ؤ. نوموړي به بې زړه سویه وهلو او ټکولو. څو وخته وروسته ما ټول قرآن مجید یاد کړ، زما مور آو پلار څنګه چې ما دا سپېڅلي وظیفه سرته رسولې وه، له خوښۍ په جامو کې نه ځایېدل.

پښتنو له زده کړې سره خورا مینه لرله. ټول کوچنیان به یې د زده کړې لپاره جوماتونو ته استول، دا ځکه چې دوی د زده کړې لپاره له بلې لارې او مېتود سره اشنا نه وو. که چېرې ښوونځي هم وای، نو ملایانو هغوی ته د ورتګ اجازه نه ورکوله ځکه چې دا ټولې دنیوي زده کړې یې (کفر!) بللې. دوی ټول ولس او خلکو ته داسې شعرونه ورزده کړي وو، چې حتی په کوڅه- بازار او دوکانونو کې به یې هم زوړ زمونږ غوږونو ته رارسېده:

«سبق د مدرسې وايي - لپاره یې د پیسې وایي»

«جنت کې به یې ځای نه وي- دوزخ کې به غوټې وهي»

زه له خدای راضي یم چې له نېکه مرغه یې سخاوتي او جهانبین پلار او مور راکړي وو، چې په دې خبرو او څه چې ګاونډیانو ویل چرت نه واهه. زما ورور ډاکتر خان صاحب یې ښوونځي ته واستاوه. ترکومه پورې چې زه معلومات لرم نوموړی لومړنی ماشوم ؤ چې له هشتنغر څخه ښوونځي ته استول شوی ؤ. کله چې ما هم د قرآن مجید لوست پای ته ورساوه ښوونځي ته یې واستولم. دا وخت نو زه اته کلن وم.

که څه هم ملایانو هڅه وکړه چې زما مور او پلار ته د ضرر لومې واچوي، مګر ویې نه کولای شو چې ما له ښوونځي څخه راوګرځوي او دا زړه یې هم نه درلود چې زما په مور او پلار د کفر حکم وکړي. څنګه چې زما پلار د اتبار خاوند او لوی خان ؤ، نو ملایانو د ده په مخکې په ډاګه او آزادۍ څه ویلی نشو.

# زمونږ کلتوري میراث

زما زړه ډېر راتـه خواشیني شي کله چې وګورم چې زما هېواد چې د تـاریخ پـه مختلفـو دورو کـې د کلتـور او زده کـړې زانګـو وه، د ځینـو بـدمرغیو او بـدمرغو وګـړو لـه لاسـه پداسې خـاوره او ملـک بـدل شـو، چې پـه هغـه کې د داسې غـوره کـار لپـاره لکـه د تعلیم او زده کـړې لپـاره ځای نه وي پاتې شوی.

زمـونږ هېـواد ډېـر راغلـي او تللـي کلتورونـه لیـدلي دي. داسـې وخـت ؤ چـې زمـونږ هېـواد د آریـن د تمـدن زانګـو وه. بیـا بـودا راغـی او خپلـه لیـار (طریقـه) یـې خلکـو تـه بیانولـه. کلـه چـې بـودیزم مـخ پـر وړانـدې تـګ کـاوه، نـو زمـونږ هېـواد ډېـر پرمختـګ کـړی ؤ چـې نښـې نښـانې یـې د هغـه وخـت لـه پـاتې شـوو آثـارو څخـه څرګند بـدلی شي. حتـی نـن ورځ د ګوتامـا او بـودا خـورا لـویې مجسـمې پـه بامیـانو کـې لیـدل کېـږي، چـې ممکـن د نـړۍ دا مجسـمې چـې د دنګـو غرونـو پـه لمـن کـې پـه ډبـرو او کمرونـو بانـدې کنبـل شـوي دي، د هغــه وخـت د معمـارۍ او مجسـمه جوړولـو د فـن پرمختـګ او عظمـت ښـکاره کـوي. د دې غرونـو پـه څنـډو کـې د مجسـمو شـاوخوا تـه هغـه سـمڅې (مغـارې) لیـدل کېـږې کـومې چـې د بـودایي مـذهبي مشـرانو او لارښوونکو استوګنځی ؤ.

جـلال آبـاد تـه نـږدې پـه هـډه کـې یـو بـودایي پوهنتـون ؤ چـې وړانـې شـوې نښـې یـې اوس هـم څرګنـدې دي. بـل پوهنتـون پـه ټاکسـیلا کـې ؤ. وړانـې شـوې ودانـۍ-د مجسـمو او تصـویرونو پاتـه شـوي اثـار چـې پـه بېسـاري زیرکـۍ او قـدرت پـه تیـږو او لرګـو کینـدل شـوي دي، د هغـه وخـت د پښـتنو د پرمختللـي کلتـور شـواهد او نمـونې دي. زمـونږ هېـواد دومـره پـه مـخ تللـی ؤ چـې کـولی مـو شـول چـې لـرو هېوادونـو تـه

لکه چین او لرې ختیز ته سفرونه وکړو او د بودیزم زېرې یو سو.

نږدې څو کاله پخوا ارکیالوجستانو زمونږ د کلي تر څنګه په کیندلو پیل وکړ او یو لوی ښار را برسېره شو، چې ویل کېږي چې دا ښار به د کندهار د شاهي کورنۍ مرکز وي.

که چېرې مونږ د تاریخ پاڼو ته لږ څه ژوره کتنه وکړو، نو وبه ګورو چې دا د پښتنو کور چې د افغانستان او یا پښتونستان په نامه یادېږي، د بشر د خورا لویو کورنیو زانګو ده. تاریخ پوهانو ته دا ټول شواهد په لاس ورغلي دي، چې د آرین نژاد د ورځې لومړنۍ رڼا په دې هېواد کې د آمو پر غاړو لیدلې او همدغه خاوره ده چې د دوی لوی کلتور په کې روزل شوی دی.

وروسته کله چې ورو ورو د نفوسو شمېر زیات شو او د زیاتو ځمکو لپاره اړه پیدا شوه، نو په وار وار نورو هېوادونو ته خپاره شول. دا ولسونه د ایران له لیارې اروپا ته لاړل او ځینې یې په هندوستان کې مېشته شول او هغه وو چې پر مختلفو ولسونو او ټولنو ووېشل شول. د مختلفو جغرافیایي اوضاعو له کبله د آریانا بنسټي خصوصیتونه بدل شول- مختلف کلتورونه او ژبې منځته راغلې. هغه وخت چې آرین نژاده اولس پخپله خاوره (آریانا ویجو) کې چې اوس افغانستان او پښتونستان دی استوګنه کوله، یوه ګډه ژبه لرله چې ژبپوهنه کې اوس ورته د (آرین ژبه) نوم ورکړ شوی دی. پښتو دغه آرین ژبې ته ډېره نږدې ده. څنګه چې پښتانه په لوړو غرونو او غرنیو منطقو کې اوسېدل، نو له باندنیو (خارجي) تاثیراتو څخه ساتل شوي دي، نو ځکه دا هېواد د (آریانا ویجو) په نامه بلل کېده.

دا همدغه خاوره «آریانا ویجو» وه چې په تاریخ کې لومړنی مذهبي پېشوا (زوراستر) په کې زېږېدلی دی. تر هغه پورې چې څرګنده ده نومړی د بلخ اوسېدونکی ؤ چې وروسته بیا ایران ته

لاړ. د ده په کتابونو کې چې دا نن هم لوستل کېدلای شي د بلخ د ځلاندو دورو سندرې او نغمې وايي. دا هغه خاوره وه چې د (اوداس) سندره چې د هندوانو مذهبي نغمه ده، پکې کمپوز (جوړه) شوې ده.

پانيني هم د دغې لويې خاورې هغه بچی دی چې د سانسکريت ګرامر يې وليکه او نړۍ يې له دې ژبې سره اشنا کړه. پانيني د اندوس د غاړو چې اوس ورته د صوابۍ تحصيل وايي اوسېدونکی ؤ، دا ډېره په زړه پورې او د يادولو وړ خبره ده چې د يوه سين نوم: (اندوس) د يوه هېواد نوم: (سيند) او د يوه ولس نوم: (هندو) درې سره د پښتو له يوه ټکي (سيند) څخه راوتلی دی.

د آرين د نژاد له ډېرو اولسونو څخه چې د نړۍ نورو ګوټونو ته خپاره شول، دلته افغانان بلوڅ او ځينې نور اولسونه پاتې شول او خدای دغو واړو ته هغه سپېڅلې وظيفه ورکړه چې له هېواد پالنې څخه عبارت ده.

وروسته بيا نو دې هېواد ته اسلام راغی. دا وخت عربي نړۍ ځينې هغه رڼا ګانې له لاسه ورکړې وې، کومې چې د اسلام پيغمبر د دوی زړونه وربانده روښانه کړي ؤ او ځينې نورو لوړو شخصيتونو لکه ابوبکر صديق او حضرت عمر ورته پراختيا ورکړې وه.

عربو ته يو څه د امپراتورۍ لويو لو نظريه هم پيدا شوې وه. دا وخت يو کم شمېر مېړونه چې هغوی په رښتيا سره د خدای په لياره روان وو او په اسلامي فلسفه کې په خبړنو او زده کړه بوخت وو هم موجود وو، چې د هغوی په موجوديت بايد چې رښتينی افتخار وشي.

# شهرت غوښتنه او هېواد پالنه
# دوه تضاد اصلونه دي

ما خپل لومړني تحصيلات د پېښور د ښاروالۍ په ليليه ښوونځي کې بشپړ کړل او ورپسې د ميسيون ښوونځي ته لاړم. لږ څه وروسته زما ورور خپله زده کړه په دې ښوونځي کې پای ته ورسوله او د طب (درمل) د زده کړې لپاره بمبۍ ته لاړ. زه د ميسيون په ښوونځي کې له خپل خدمتګار باراني کاکا سره پاته شوم.

باراني کاکا به تل ترتله ما ته د نظامي زده کړو په هکله کيسې کولې او زه به يې دې ته متوجې کولم چې ګوندې پوځي خدمت څومره سپېڅلی او له وياړه ډک ؤ. نوموړي به تل د پوځيانو ښې نقاشي کولې چې ښکلي يونيفورمونه به يې اغوستي وو، توري به يې په لاس کې وې او د خپلو ټوليو په مخ کې به روان وو. د باراني کاکا دغو کيسو او نقلونو په ما دومره اغېزه کړې وه چې په دې هڅه کې شوم چې په پوځ کې شامل شم، بې له دې نه چې له مور او پلار څخه مې اجازه اخيستې وی، نو مې يو غوښتنليک د هندوستان لويې قوماندانۍ ته ولېږه چې ما ته په پوځ کې د مستقيمې برخې اخيستلو اجازه راکړي او د هغه د ځواب رارسېدو ته مې انتظار ويوست. د ځواب رارسېدل يو څه موده وځنډېده دا ځکه چې ښکاره ښکنده خبره وه چې حکومت زما په هکله ځينې معلومات راټولول.

دا وخت زه له نهم ټولګي څخه لسم ټولګي ته بريالی شوی وم. ما د تريکولېشن ازموينه لا نيمايي ته نه وه رسولې چې زما په نوم يو رسمي ليک را ورسېد او زما غوښتنليک په پوځ کې د (ډايرکټ کمېشن) په هکله منل شوی ؤ او زه بايد چې د هغې ورځې پر سبا په لسو بجو په دفتر کې حاضر شوی وای.

زه له خوشحالۍ په جامو کې نه ځايېدم؛ دا ځکه چې په هغه زمانه کې به چا چې ډايرکټ کمېشن (په پوځ کې مستقيم ګډون کول) واخيست، نو ځان به ورته ډېر غټ غوندې ښکاره کېده. څنګه چې زه ډېر خوشحاله وم نو د ازموينې په پای ته

رسولو پسي مې سر ونه ګرځاوه، په چټکتیا مې ځان دفتر ته ورساوه او وروسته له هغې څخه چې معاینه شوم نو سمدلاسه مې نوم ولیکل شو. د توپ او زرهدارو یوغونډ چې د (ګایډ) په نوم یادېده هغه وخت په مردان کې پروت ؤ. دا په هندوستان کې خورا یو مهم او غوره پوځي واحد وو نو هغه ته ورشاملېدل هم آسان کار نه ؤ. ډېرو لویو او شتمنو کورنیو حتی نشو کولای، چې خپل زامن هلته په کې شامل کړای شي. زه هلته له دې کبله شامل کړی شوم چې زه پیاوړی ځوان وم، قد مې شپږ فټه او درې انچه او د تحصیل درجه مې هم لوړ ټولګي ته رسېدلې وه. نو دا سببونه وو چې برتانوي افسرانو زه په پوځ کې د شاملېدو لپاره غوره کړم. زما پلار په دې هکله یو ازې اجازه رانکړه، بلکې زما د دغه ښه بخت او طالعو په هکله خورا ډېر خوښ ؤ. یوه ورځ زه پېښور ته ولاړم، ترڅو چې یو خپل پوځي ملګری ووینم. مونږ په کوڅه کې ولاړ وو او خبرې مو کولې چې یو برتانوي منصبدار راڅخه تېر شو. زما ملګري څنګه چې خپل وښتان یې ښه جوړ کړي وو او پېکی یې په تندي را پروت ؤ، لوڅ سر ولاړ ؤ. کله چې انګرېزي افسر دا حال ولید نو له غضب څخه ډک شو او چیغه یې له خولې ووته: (رښتیا!! ته لعنتي سردار صاحبه! ته نو اوس غواړې چې لکه د یوه انګرېز په شانته یې؟ آ- دا سې غواړې؟) زما د ملګري رنګ سپین و تښتېده او زړه یې ونشو کولی چې د هغه جواب ورکړي.

دغې پېښې زه تر ډېر تاثیر لاندې راوستلم. (باراني کاکا ما ته نه وو ویلي چې پوځي خدمت د احترام او درناوي وړ دی؟). مګر ما دلته اوس دا سې تحقیر او تعجیز پخپلو سترګو ولید چې په خوب کې مې هم لیدلي نه ؤ. په هغه ورځ مې پوځ ته د شاملېدو خیال له ککرۍ ویوست او له برتانویانو څخه مې د وظیفې له غوښتنې څخه لاس ونیو. زما پلار زما په دغه پرېکړه لږ څه خواشینی شو ځکه چې په هغو ورځو کې دا سې وظیفې ته شاملېدل خورا د ویاړ وړ ؤ! مګر ما پخپله په کې کوم د ویاړ ټکی ونه لید او نه په کې هغه درناوی او عزت موجود ؤ، کوم چې ما اورېدلي ؤ. بلکې برخلاف ما ډېر لوی تعجیز او بې پتي په خپلو سترګو ولیده.

څنګه چې زما پلار له ما سره خوابدی ؤ، نو ما خپل ورور ته چې اوس

انګلستان ته تللی ؤ او په یوه طبي ښوونځي کې په لندن کې شامل شوی ؤ، ولیکل. ما هغه ته ولیکل، چې ما نه غوښتل چې د برتانوي حکومت عسکر شم، څنګه چې ما په کې کوم درناوی ونه موند او په حقیقت کې دا یو تعجیز، قمار او مریتوب منل و. ډاکتر خان صاحب زما د دغې پرېکړې په هکله خورا خوښ شوی وو او زما پلار ته یې ولیکل چې ګوندې ما ډېر ښکلی او عقلمن کار کړی ؤ. هغه زما لپاره غوښتنه کړې وه چې له ما سره خوابدی نه وي او په زور مې پوځ ته تللو ته مجبور نکړي.

ما خپلې زده کړې او لوست ته بیا ملا وتړله او له یوه ملګري سره کمبلپور ته ولاړم. هلته په یوه لېسه کې شامل شوم. له بده مرغه د دې ځای هوا ډېره ګرمه وه چې روغتیا ته مې یې تاوان وکړ، نو مجبور وم چې له هغه ځخه لاړ شم. بیا قادیان ته لاړم، مګر د هغه ځای هوا هم په زړه پورې نه وه. یوه شپه مې خوب ولید چې په ډېره ژوره څاه کې لوېدلی وم. زه په دې هڅه کې وم چې څنګه ځان وژغورم چې د یوه لیاروي را پام شو، هلته راغی خپل لاسونه یې را ښکته کړل او له کوهي څخه یې راوویستم. لاروي راته وویل چې: (ولې دې ځان کوهي ته ورغوځار کړ؟ آیا نه دې لیدل چې هلته کوهی دی؟) څنګه چې مې سهار خپل ملګري ته دا کیسه وویله نو نومړي پرېکړه وکړه چې باید ژر تر ژره له هغه ځای څخه ځان وباسو. مونږ دواړه خپل کلي ته لاړو مګر ډېر وخت هلته تم نشو، زما ملګری پېښور ته لاړ چې په لېسه کې شامل شي او زه پخپله علیګړ ته لاړم چې په فاکولته کې شامل شم. څنګه چې زما لپاره په لیلیه کې ځای خالي پاته نه وو نو د ځان لپاره مې په ښار کې یوه کوټه ونیوله. زه د ورځې فاکولتې ته تلم او د شپې به مې بېرته خپلې کوټې ته ځان راساوه. کله چې د دوبي رخصتي شوه نو د رخصتۍ تېرولو لپاره بیا کلي ته لاړم کله چې کور ته را ورسېدم نو سمدلاسه مې تر غوږ شول چې زما ورور له لندن څخه زما د پلار په نوم یو لیک راستولی او په هغه کې یې لیکلي دي چې زه باید لندن ته لاړ شم او انجینري ولولم. هغه پخپل لیک کې زیاته کړې وه: «زه به طبي زده کړې ته ادامه ورکړم او دی (مقصد یې زه وم) به د انجینري فاکولتې ته لاړ شي، څنګه چې تل په هندسه کې بریالی وو» زما پلار په دې هکله له ما سره خو ښه او خبرې وکړې او

په پای کې پرېکړه وشوه چې لندن ته مې واستوي. وروروته مو خبر ورکړ، زما د تګ لپاره يې په يوه بېړۍ کې ځای هم ونيو. زما پلار په ډېره مهربانۍ درې زره روپۍ هم راکړې او زه د تللو لپاره تيار شوم. او س څنګه چې مې غوښتل چې له خپلې مور څخه خدای پاماني واخلم، نو له رواج سره سم ورغلم او ورته مې وويل: مورې اجازه ده چې لاړ شم؟ هغې په ژړا پيل وکړ او د تګ اجازه يې نه را کوله. ما خورا هڅه وکړه چې هغه پوهه کړم چې زه مجبوروم چې لاړ شم مګر هغې ونه منله. ما ورته وويل: «مورې ! زمونږ هېواد ته وګوره... انګرېزانو زمونږ د ولس ترمنځ د تور بختۍ ـ بې اتفاقۍ او دوه مخۍ تخم کرلی دی، بې ګناه خلک په جېلونو کې پراته دي او ځينې نور چې هيڅ ګناه يې هم نه ده ثابته شوې اعدام کېږي او زمونږ د نفاق او بې خبرۍ په هکله هغه څوک چې د جرمونو مرتکبين دي آزاد ګرځي او بې ګناه اولسونه په جېلونو او بنديخانو کې اچول کېږي. دلته د هيچا ژوند په امن (ساتلی) ندی !». هرڅو چې ما ورته وويل مګر مور را سره موافقه ونکړله؛ دا ځکه چې خلکو ورته ويلي وو چې ګوندي ولايت ! دا سې يو باندينی هېواد ؤ چې څوک چې هلته تللي دي نو بيا ورته د بېرته راګرځېدو هيله نشته ده ! هغې هم دا خبره په مغزو کې کلکه ساتلې وه. خلکو دا سې پوه کړې وه چې: «يو زوی دې مخکې له مخه هلته دی، نو که دا بل ته هم د تللو اجازه ورکړې نو ته به يوازې پاتې شې او بيا به دومره څوک نه وي چې په سپين سرۍ کې ستا خدمت وکړي».

مونږ يوازې دا دوه ورونه وو، اوس نو يو مخکې له مخه له لاسه وتلی وو له دې کبله يې ما ته د تګ اجازه رانکړه. څنګه چې په ما خپله مور ډېره ګرانه وه او زه هم ورباندې ګران وم، نو څنګه مې کولای شو چې د دې له خوښې څخه پرته لاړ شم؟ هغه وو چې لندن ته د تګ خيال مې له سره والوت او پرېکړه مې وکړه، چې ځان بايد د خپل هېواد او اولس ـ د خدای او بشريت خدمت ته وقف کړم.

***

## پوهه - رشد او مرئیتوب

په ۱۹۰۱ کال کې برتانویانو زمونږ د ایالت لپاره ځینې داسې ظالمانه قانونونه جوړ (وضع) کړل چې هلاکو خان به هم د خلکو لپاره وضع کړې نه وي، دا قانون «د سرحداتو د جرمونو د قانون» په نوم یادېده. دا دومره ظالم او بېرحمه اکټ (قانون) ؤ چې مونږ ورته تور قانون وایه. برتانویانو دغه قانون پداسې بېرحمه او له انساني لرې لیارو باندې ورځخه کار اخیست، چې په پای کې یې د پښتنو ترمنځ سکتور غوښتنه - عدم استقرار او څو اړخیزې د ښمنۍ را پیدا کړلی. او له هغې نېټې څخه وروسته آرام ژوند او مینه د پښتنو له منځه مخ په کمېدو شوه.

له هغه نه وروسته دوی په یووالي او آرام زړه ژوند ته انګرېزانو نه پرېښودل. په ټولو برسېره دغه قانون چې له مدني ژوند څخه ډېر لرې ؤ، زمونږ پتمن ژوند یې له لوی خطرې سره مخامخ کړ. حتی زمونږ ښځې او ماشومان به هم کله کله بندیخانو او جېلونو ته استول کېدل او تر دې تور او بې سره قانون لاندې پولیسو کولای شول چې هر هغه څوک چې به د برتانویانو خوښ نه وو په ډول ډول د سیسو جوړولو بند ته ولېږي. هیڅ اثبات او شواهدو ته هم ضرورت نه ؤ. البته باید ووایم چې هغه څوک به چې متهم شو نو جرګې ته به استول کېده. مګر کومه جرګه؟ دا جرګه د خلکو نه وه بلکه برتانویانو په لاس جوړ کړې څو تنه داړه ماران به وو، وګړي بې له دې نه چې محکمه طلب شي او «اپیل» وکړي نو د ۱۲ تر ۱۴ کلونو په بند محکومېدل د مثال په ډول د حبیب نور د مبارزې او مړینې پېښه. هغه وخت چې په ۱۹۳۱ کال کې برتانویانو په دې خبره زور واچاوه ترڅو خدایي خدمتګاران په چارسده کې محکوم کاندي او ویې زوروي، نو حبیب نور ډېر زیات پرېشان او خواشینی شو.

کله چې د برتانیې د کمیشنر مرستیال د فقرې د اورېدلو لپاره محکمې ته لاړ، نو حبیب نور هم هلته حاضر و.

نو موړي له ځان سره یوه توپانچه وړې وه او دا یې مقصد ؤ چې برتانوي کمیشنر مرستیال دوزخ ته واستوي. مګر څنګه چې یې په ماشه ګوته ټینګه

کړه تو پانچه خلاصه نشوه.

نو حبیب نور د اسیستانت کمیشنر پښې له ځمکې څخه او چتې کړې ــ د غولي (صحن) په مخ یې پلن کړ او ورته وې ویل: «خیر! که دې ونه وژلای شم، نو دومره خو مې په وس کې دي چې زنګونونه دې مات کړم!!» پولیس راغله او جېل ته یې بوت او د څلور ویشتو ساعتو په موده کې چار ماري شو. ما د حبیب نور نوم یوازې د مثال په توګه یاد کړ. په دا ډول پېښې بې شمېره وې او ځینې لا له هغې څخه هم مستبدانه او له عدالت څخه لرې وې.

د هغه قانون (اکت) یوه بله برخه چې د څلوېښتمې مادې (سکشن-۴۰) په نوم یادېده موجوده وه. دغه ماده د دې لپاره وه چې د لویو جرمونو مرتکبینو ته د هغې په اساس جزا ورکړي- مګر برتانویانو هغه په سیاسي بندیانو باندې تطبیق کوله. انګرېزان خو پرېږده! خو پاکستان یې دا نن د قهرمانو پښتنو په مقابل کې استعمالوي. یو سړی به په کوڅه کې او یا په عام سړک پخپل کار پسې روان وي، ناڅاپه د پولیس لخوا درول کېږي او ورڅخه د جریمې اخیستلو غوښتنه کېږي.

طبیعي خبره ده چې لاروی پوښتنه کوي چې ولې؟ نو پولیس یې لنډ په جواب کې وایي چې «په سبب پسې مه ګرځه! هله جریمه راکړه!» که چېرته لاروی د جریمې له ورکولو غاړه وغړوي، نو سمدلاسه د درېیو کلونو په بند محکوم شوی وي.

زه او په زرګونو زما نور ملګري تر دې مادې لاندې جېل ته استول شوي یو. دغه بېرحمه او بې عدالته قانون په ۱۹۰۱ کال کې راووت او په همدې وخت کې مونږ تر سختې شکنجې لاندې نیول شوي وو. یوازینی دلیل دا ؤ چې پښتنو انګرېزان وپېژندل چې د دوی لوی دښمنان وو او غوښتل یې چې پر پښتون ټبر خپله باداري ومني. دا هغه وخت ؤ چې د پښتنو په منځ کې یو ډېر سخت او لوی جنبش رابرسېره شوی ؤ، هر وخت او هر چېرته به یې چې انګرېز لیدلو نو هڅه یې کوله چې تاوان ور واړوي او یا یې ووژني. ډېرو انګرېزانو خپل ژوند په دې لیار کې له لاسه ورکړ او هغوی هم د کسات (انتقام) اخیستلو په ترڅ کې ډېر پښتانه چار ماري کړل. په مونږ باندې د استبداد او تور قانون ټول منظور دا وو

چې دا چال چلن له منځه یوړل شي او پښتون د مرییتوب ژوند ته غاړه کیږدي. زمونږ ځینې ملکان او خانان اکثر د انګریزي لاسونو بازیچه وو او له تعلیم او زده کړې څخه د اولس را ګرځول پسې دوام وکړ. انګریزانو زمونږ د ځینو ملکانو خانانو او ملایانو په کګرو کې داسې څه کښلي وو چې که چېرته پښتانه تعلیم وکړي او خپل ښه له بدو څخه توپیر کاندي نو د هغوی ګټې به له خطر سره مخامخ شي.

ما به په وار وار هڅه کوله چې له خپلو ملایانو سره خبرې وکړم او دا ټول څه ورته تشریح کړم، مګر له بده مرغه په هغوی به یې کومه اغېزه نه کوله. هغوی ته به مې ویل: «ګوره! د اسلام دین مونږ ته لارښوونه کړې چې علم او پوهه په هر نارینه او ښځینه فرض دی. ډېره ښه! خلکو ته وواياست چې خپل کوچنیان دې د انګریزانو ښوونځیو ته نه استوي، مګر د ځان لپاره دې پخپله ښوونځي او مدرسې جوړې کړي ترڅو څه زده کړای شي. دا به نو زمونږ د هېواد لپاره یو خدمت وي.

مګر تر هغه وخته پورې چې مونږ او تاسو خپل ملي ښوونځي جوړوو دا به غوره خبره وي چې زمونږ ماشومان دې د دې په ځای چې ناپوهه او د نورو د اوږو پېټي شي، برتانوي ښوونځیو ته واستول شي». مګر په دوی زما خبرو تاثیر نه کاو.

یوه ورځ په دوبې کې هغه وخت چې زه په موري کې وم یو ملا صاحب زما مېلمه شو.

ماښام مونږ د چکر وهلو لپاره بهر ته لاړو. دا وخت کله چې مونږ چکر واهه په یوه ډېره ښکلې بنګله راغلو. زه ودرېدم او ومې ویل: «ګوره ملا صاحب هغې بنګلې ته! څنګه درته ښکاري؟» ده مې په جواب کې وویل: «دا خو ښکلی ځای دی! زما ډېر خوښ شو!» هغه شین بڼ ګوره! ګلانو ته ګوره او هغه کور به ته ګوره چې پکې ژوند کوي. پوهېږې هغه څوک دی؟ ملا په جواب کې وویل « نه! زه یې نه پېژنم چې څوک دی؟» ما نو ورته وویل چې هغه یو انګرېز مذهبي مشر دی. وګوره ملا صاحب کوم هېواد چې ترقي کړې وي او پر مخ تللی وي، نو ولس یې پداسې بنګلو کې ژوند کوي او په موټرو کې چکرې وهي. نو ترهغه

پورې چې زمونږ او تاسو خاوره په مخ تللې نه وي، له علم او پوهې څخه بې برخې یو. نو مونږ به د ژوند تر پایه په تور بختیو او بدمرغیو کې ژوند تېر وو او زمونږ ملایان او عالمان به هم له بدې ورځې سره لاس په ګرېوان وي او در په دره به ګرځي، اوس ته خپل ژوند د هغه انګرېز له ژوند سره انډول (مقایسه) کړه! څومره توپیر لري مګر زما دا ټولې خبرې هغه ته هیڅ وې چې خدای هغه ته ښودلې نه وه نو ما به څه کړي وه.

ما په یوه میشن (تبلیغاتي) ښوونځي کې سبق لوستلی وو او ښوونکی مې هم له دغه ښوونځي څخه ؤ. زما ډېر نور ملګري او همزولي په پېښور کې د اسمعیلي ښوونځۍ ته لاړل. د ښوونځي په دوره کې هغه وخت چې له ما سره د خپل هېواد او ولس د خدمت کولو او پالنې سوځوونکې مینه پیدا شوه، زما نور ملګري چې نورو ښوونځیو ته تللي وو په زړونو او ککرو کې یې د وطن د خدمت او مینې کومې نښې نه ځرګندېدلې. له ما سره په دې هکله لویه پوښتنه را پیدا شوه او په شاوخوا کې مې فکر وکړ - وروسته دې فیصلې ته ورسېدم چې زما د داسې روزنې کریډټ باید زما ښوونکو ته ورکړ شي چې د هغو تر لارښوونې لاندې له ما سره دا احساس را پیدا شوی ؤ. د ښوونکي اغېزه په زده کوونکي خورا د غور وړ ده، نو دا یوازې زما ښوونکی ؤ چې زه یې د خدای او بشریت خدمت کولو ته متوجه کړم.

زما ښوونکی یو تن انګرېزي مبلغ (میشونري) ؤ چې «ای - اف - ای ویګرام» نومېده. نوموړي یو ورور درلود چې ډاکتر ؤ. داسې ویل کېږي چې د دوی پلار خورا ښه او ممتاز سړی و چې دواړه زامن یې د تبلیغ لپاره وقف کړي وو او د هغوی تنخوا (معاش) به یې له خپل ځانه ورکوله. مشر ورور یې د میشن (تبلیغاتو) د ښوونځي سر ښوونکی ؤ او کشر ورور یې د دې ښوونځي په روغتون کې ډاکتر ؤ. دوی د خلکو خدمت ډېر د زړه له کومې او په ډېر اخلاص کاوه.

څنګه چې زه په هغه هاسټل کې اوسېدم کوم چې د دوی کور ته نږدې ؤ، نو ما د هغوی خدمت کول پخپلو سترګو لیده. هغه وخت هاسټل په هغه ځای کې و کوم چې نن هلته د تبلیغاتو د ښوونځي ودانۍ ولاړه ده.

زمونږ سر ښوونکی ویګرام به درې یا څلور سکالرشیپونه ځینو بېوزلو او بې کوره زده کوونکو ته پخپل لګښت ورکول. دغه چال چلن زه تر ډېر تاثیر لاندې راوستلی وم او له ځان سره به مې ویل: «وګوره مونږ ته! پښتانه او مسلمان یو - مګر له خپلو بېوزلو او نیازمندو ورونو سره مرسته نه کوو! او دا خلک (خارجیان) چې له بل هېواد څخه راځي - دوی په بل ملت او مذهب پورې اړه لري او زمونږ د خلکو د مرستې لپاره راغلي دي. دوی به هرومرو له بشریت سره مینه او زړه سوی لري.» لکه څنګه چې په دري کې یو متل دی چې: «خربوزه خربوزه دیده رنګ می ګیرد» نو د خدمت کولو او وقفیت رنګ کوم چې ما د ویګرام او د هغه په ورور کې ولید، نو هرومرو به په ما باندې هم لویدلی وي.

زه به ډېر نیکمرغه وای چې که انګلستان ته تللی وی او له داسې چا سره مې لکه دا دوه ورونه سبق لوستلی وای. مګر زما مور ماته د تګ اجازه رانکړه او زه پاتې شوم. په پای کې مې خپل ځان د خدای او بشریت خدمت کولو ته وقف کړ، ما ته ښه دا را څرګنده شوه، چې بې علمي او ناپوهي به زما ولس له خاورو سره برابر کړي، نو زما لومړنی دنده دا وه چې د بېسوادی د لرې کولو لپاره هڅه وکړم.

له چا څخه مو د مرستې او لاس نیوي توقع نه درلوده، هغه وو چې زه او زما څو تنه ملګري سره راغونډ شو او په دی هکله چې څنګه به وکولای شو چې د علم او پوهې څراغ په هغه تورتم کې چې زمونږ ولس پکې دی رڼا کړو، خبرې اترې وکړې. له مونږ سره د ترنګزو حاجي صاحب لویه مرسته وکړه. (حاجي صاحب له ټولنیز «اجتماعي» ریفورم سره ډېره مینه لرله. هغه په دې هیله ؤ چې وګوري چې زاړه شوي رواجونه له منځه لاړ شي. نوموړي هڅه وکړه، چې یو اسلامي ښوونځی جوړ کړي او بریالی هم شو. برتانویانو نوموړی جېل ته واستاوه مګر څنګه چې ورڅرګنده شوه چې په دې هکله د هغه پالندویان څومره خواشیني شول، نو له بندیخانې څخه یې ببرته خوشې کړ. نوموړی د دې لپاره چې له انګرېزانو سره جګړه وکولای شي له خپل کلي څخه بل ځای ته لاړ او د ژوند تر پایه یې د هغو په مخامخ کې کلکه مبارزه وکړه. یو انګرېز وویل: «هغه وخت چې حاجي صاحب ته مونږ موقع ورکړه چې د مونږ له بند نه ووځي اوس پوهېږو چې

د څومره لوېې اشتباه مرتکب شوي يو». )

حاجي صاحب ربښتينی مينه پال انسان و. د ده تر کتنې لاندې مونږ په ګډه کې د دارالعلوم پوهنځی جوړ کړ چې مشر يې مولوي تاج محمد ؤ او له هغه سره مولوي فضل محمد ربي او مولوي فضل محمد مخفي مرسته کوله. په ۱۹۰۱ کال کې ما او مولوي عبدالعزيز په اتمانزو کې يو ملي اسلامي ښوونځی پرانست. زمونږ د دغو هلو ځلو په پای کې مونږ ډېر ښوونځي جوړ کړل- ډېر کوچنيان مو ښوونځيو ته ولېږل او خلکو هم په ورو ورو له زده کړې او تعليم سره مينه پيدا کړه.

په دې وخت کې ځينې ورځپاڼې لکه د ظفر علي خان (زميندار) د مولانا ابو الکلام آزاد (الهلال) او نور داسې لکه مدينه شهرت ته رسېدلې وې او مونږ هم په هغو کې ګډون وکړ. مونږ به دا ورځپاڼې يوازې له ځان سره نه لوستلې، بلکې نورو ملګرو ته به مو هم ورښوولې. په هغه زمانه کې څوک د ورځپاڼو له لوستلو سره عادي نه و- مګر څنګه چې مونږ به ورځپاڼې ورکولې او ورته لوستلې به مو نو ورو ورو يې مينه ورسره پيدا کړه.

پوليس او سي- ای- ډي په دغه چال چلن خبر وو او د الهلال د ورځپاڼې د ګډون کوونکو نومونه يې په تور ليست کې ليکلي ؤ. زمونږ ډېر شمېر ماشومان په ديوبند کې په لوست بوخت وو.

مولوي فضل ربي او مولوي فضل محمد مخفي هم له ديو بند سره نږدې اړيکي لرلې. نو له دې کبله به مونږ ډېر هلته تګ و راتګ کاوه. د ديوبند د تعليمي موسسې مدير محمود الحسن صاحب لوی عالم سړی ؤ. مونږ ژر تر ژره له هغه سره ښې اړيکې پيدا کړلې. دا ځکه چې د هغه زړه هم لکه د مونږ غوندي د هېواد او ولس له مينې ډک ؤ. د هغه هيله هم د مونږ په شانته دا وه چې څنګه خپل هېواد د خارجي منګولو څخه وژغورو او پرې يې نږدو چې په مونږ باداري وکړي. د ده په شان مونږ له مولانا عبيدالله سندي سره هم پېژندګلوي پيدا کړه. (مولانا عبيدالله سندی خورا لوی انقلابي مشر ؤ. د برتانويانو د اقتدار په وخت کې نوموړي ډېر انقلابي ګروپونه جوړ کړل. ده د خپل ژوندانه وروستۍ ورځې په لاهور کې تېرې کړې او په سپين ږيري توب کې هم د ځوان زړه خاوند

ؤ.)
مونږ به له نوموړي سره د خپلو افکارو تبادله کوله. نوموړی هغه وخت هغو ماشومانو ته چې په فتح پور کې یې انګرېزي تعلیم کړی ؤ د قرآن مجید سبق وایه. ده به هر هغه چاته چې د بي- ای (لیسانسه) ازموینه یې تېره کړې وه پنځوس روپۍ ورکولې. ځکه چې ده به ویل چې هغه ماشومان چې انګرېزي تعلیم یې کړی وي ښځګه کولای شي چې بې له دې نه چې خپل مذهب وروښودل شي، دوی دې له خپل هېواد، خاورې مذهب سره مینه پیدا کړي؟.
مولانا صاحب پخپل دغه عزم ټینګ ولاړ ؤ او په دې لیار کې یې نه ستړې کېدونکې خدمتونه وکړل، مګر افسوس چې دا ټولې خوارۍ او تکلیفونه یې بریالي نه ؤ. تر ټولو خواشینه خبره خو دا ده چې د مولانا یو شاګرد چې له هغه سره یې تکلیفونه ایستلي وو په پای کې جاسوس وخوت. د څو بې ارزښته او بې پته پیسو ګټلو لپاره په هر هغه څه چې د ټولګي دننه ویل شوي وو حکومت ته اطلاع ورکوله.
وګورئ! کله چې د یوه هېواد پوه او تعلیم یافته ځوانان پیسه پرست شي او د خپل حرص لپاره دومره ټیټ او پستي ته لاهو شي چې هېواد او مذهب د څو پیسو لپاره وپلوري، نو څنګه ور څخه دا سې هیله کېدای شي، چې د هغو په زړونو کې دې د هېواد او ولس ته خدمت د میني لمبې بلې وي؟!!!.
یوائینی سبب چې ولې مسلمانانو خپل ځانونه خراب او برباد کړل له پیسو او شتمني سره مینه وه. کله چې دې شیانو اهمیت پیدا کړ او دوی د لوی خدای په ځای د مال او دنیا سره مینه پیدا کړه، نو له دوی څخه درناوی- عزت او ویاړ کډه واخیسته او په تردد او ناپوهۍ کې لاهو شول!.
په فتح پور کې ما له مولوي سیف الرحمن سره هم ښه پېژندګلوي پیدا کړه. نوموړی زمونږ د کلي ؤ او د اوږدې مودې لپاره په عربي پوهنځي کې استاد ؤ.
په هغه زمانه کې برتانویان په دې بریالي شوي وو چې هغه څوک چې له حکومت څخه وېرېدل، وډار کړي. مګر مونږ وکولای شول چې کله کله په پټه کې دیوبند ته د خپلو ملګرو د لیدلو او خبرو کولو لپاره لاړ شو.

# د هېواد په ګوټونو کې

په ۱۹۱۲ کال کې زما مور او پلار کوژده راته وکړه او واده مې وکړ په ۱۹۱۳ کال کې مې زوی (غني) وزېږېد.

په هغه زمانه کې زمونږ په کلیو کې وګړي له میټنګونو (غونډو) او مظاهرو کولو سره بلد نه ؤ. برسېره په دې خبره که چاته د داسې کار خیال هم پیدا شوای وي، نو هیچا دا جرئت (زړورتیا) نه درلود چې د حکومت له بېرې یې په کولو لاس پورې کړای وای. لېکن یوه ورځ په ۱۹۱۳ کال کې ځینې پوسټرونه «پاڼې» ولیدلې چې د مسلم لیګ غونډه یې په اکره کې د ابراهیم رحمت الله تر مشرۍ لاندې اعلامولې.

آغا خان او مولانا ابوالکلام آزاد هم په دغه غونډه کې ګډون او خبرې کولې. زه ډېر هیله من وم چې په دغه غونډه کې برخه واخلم، نو له څو تنو ملګرو سره اکرې ته لاړم. مونږ د غونډې د مشر خبرې او د آغا خان او ابوالکلام آزاد لکچرونه واورېدل. زمونږ لپاره دغه غونډه ډېره په زړه پورې او لارښوونکې وه.

له اکرې څخه زه ډیلي ته لاړم او څو ورځې مې د مولوي فضل الرحمن له خوریي سره تېرې کړې. هلته ناروغ شوم او ژر بېرته کور ته را وګرځېدم.

په ۱۹۱۴ کال کې ما ته د شیخ الحسن لخوا یو لیک راورسېد چې له ما څخه یې غوښتنه کړې وه چې بې له درنګه دیوبند ته لاړ شم. نو مولوي فضل محمد، مولوي فضل الربي او زه درې واړه لاړو. په دیوبند کې د ډګر مولوي صاحب هم مونږ ته سترګې په لیار ؤ.

مونږ د هغې غوره پوښتنې په هکله چې په ککرو کې مو وه د څو ساعتونو لپاره وربانديې فکر وکړ او خبرې مو پرې وکړې. هغه غوره پوښتنه د انګرېزي تسلط څخه د خاورې او ولس آزادي وه! مونږ د یوه داسې مرکز جوړولو په هکله چې له هغه څخه د مبارزې پیل وشي، خبرې وکړې. داسې ویل کېده چې

په بنېر کې له پخوا نه داسې مرکز موجود ؤ. مګر که رښتیا خبره وي نو دا مرکز هیڅ قدرت نه درلود او هغه چا چې هغه یې مخ پر وړاندې بیولو بېکاره او یوازې په نوم ؤ. هغوی کوم تبلیغات او بل کوم کار ونکړ. هغوی یوازې یو کوچنی ګروپ و. هغوی ته به د هندوستان نه پیسې راتلې او عیش به یې پرې کاوه. د دوی په منځ کې یو شتمن سړی ؤ چې نعمت الله نومېده او زمونږ د ایالت ؤ. نوموړی له یوه پولیس منصبدار سره چې «شارټ» نومېده ډېر نږدې ملګری ؤ. لنډه دا چې په دې ګروپ کې څو نور جاسوسان هم موجود ؤ.

دغه وګړي لومړی له هندوستان څخه د دې لپاره، چې د سیکانو پر ضد مبارزه وکړي دلته راغلي ؤ. وروسته له هغه څخه کله چې د دوی مشران سید احمد صاحب او سید اشمیل صاحب شهید په جګړه کې ووژل شول، نو دوی خپلواک بنیر ته لاړل او هلته مېشته شول. کله چې د هندوستان اولس ته رښتني بڼه څرګنده شوه او په دې وپوهېدل چې دا ګروپ د دوی لپاره ګټور نه ؤ، نو د بل مرکز په جوړولو پسې را ووتل. له ډېرې اوږدې مذاکرې وروسته مونږ پرېکړه وکړه چې زه او فضل محمد صاحب به باجوړ ته لاړ شو او د یوه مرکز جوړولو لپاره به مناسب او خوندي ځای پیدا کړو. بیا به نو مولوي عبیدالله سندي په مونږ پسې وروسته راشي او د هغه ځای پر غوره کولو به خپله وروستنۍ موافقه څرګنده کړي. هغه ؤ چې څو ورځې وروسته زه او مولوي فضل محمد په پټه د باجوړ په لور روان شوو. مونږ په تختابي کې په ګاډي (ریل) کې سپاره شوو او چې درګۍ پورې ولاړو، له هغه نه وروسته مو ټانګه (بګۍ) ونیوله کله چې ملکنډ ته نږدې شوو، نو لږ څه وېره راسره پیدا شوه ځکه چې دلته مو لیدل چې په هغه ځای کې پولیس ځای په ځای شوي ؤ. دوی له هر چا څخه که پلی ؤ او که سپور، تپوس کاوه او تالاشي کول یې. که څوک به لږ څه هم تر اشتباه لاندې راغله نو جبل ته یې استول.

زما لپاره دا ډېره سخته وه چې خپل قد او بڼه پټه کړم، زه په دې چرت او لټه کې وم چې څنګه ځان له پولیس څخه بې له دې چې و مې ویني تېر کړم هغه څه چې اوس زما په لاس کې وو، دا و چې څنګه پخپل څادر کې پټ شم.

کله چې د پولیسو تانې ته راورسېدو، نو ټانګه ودرېده او یو تن راغی چې د ټانګې په منځ کې وګورئ چې څوک ؤ. اوس ماښام و او ورځ تیاره شوې وه. زما ملګري هم له ټانګې څخه کوز شوي و. د ټانګې والا په رسا غږ وویل: «صاحب هیڅوک په ټانګه کې نشته» مګر پولیس پخپله غوښتل چې یو ځل دننه وګوري او ټانګې ته رانږدې شو. زه یې له سره څخه تر پښو پورې ولیدم او ټانګې والا ته یې وویل چې ځه لاړ شه! زه خورا ډېر خوښ شوم او مونږ تر بتخېلې پورې لاړو. اوس څنګه چې شپه ناوخته وه نو هلته پاتې شوو سبا سهار ډېر وختي کله چې په کلي کې د لمانځه آذان وشو، مونږ وخوځېدو.

کله چې د چکدرې له پله څخه تېرېدو نو د پولیسو په بله تانه مو سترګې ولېګدې، خو له هغه ځای بې له کوم تکلیف څخه تېر شوو.

مونږ دا ورځ ټول په پښو مزل وکه او ماښام د سیند غاړې ته ورسېدو. د فضل محمد کلی د سیند په هغه بله غاړه ؤ، څنګه چې ژمی و نو سیند بېخي وچ ؤ، له دې کبله مونږ سیخ ورباندې تېر شو او کلي ته مو ځان ورساوه.

مونږ ډېر وږي او ستړي ؤ څنګه چې مو ډوډۍ وخوړه نو بې له درنګه ویده شو او تر سهاره پورې ویده وو.

سبایي فضل احمد کور پاتې شو ترڅو د عبید الله راتلو ته انتظار وباسي، هغه خپل د تره زوی ته وویل چې له ما سره ملګری شي. مونږ دواړه د باجوړ په خوا روان شو. دیر ته ورسېدو. لومړی بابړې ته لاړو او ورپسې بیا چمرکند ته، ترڅو د هډې د ملا صاحب کور ته لاړ شو، مګر ژر را څرګنده شوه چې نوموړی وفات شوی ؤ. د ملا صاحب یو مرید هلته و چې خورا ښه مېړه سړی ؤ.

هغه د هډې صاحب د خوب او خوراک کوټې را وښوولې. دا د غرونو په منځ کې کوچنی او ښکلی کور ؤ چې بې له هغه یوه تن شېخ څخه بل چا هلته ژوند نه کاوه. دغه شېخ یو کوچنی کور درلود او د شاتو مچۍ یې ساتلې وې.

شپه مو له هغه شېخ سره تېره کړه سبایي وختي بیا روان شو او کوټکي ته لاړو په کوټکي کې دوه خانان چې زغرور خان او زړور خان نومېدل استوګنه

درلوده، دواړه مېړني سړي ؤ. کله چې به برتانويانو يرغل وکړ هغوی به يې په مقابل کې درېدل. وروسته سالارزيو او مومندو ته لاړو.

دا په باجوړ کې دواړه خپلواکې سيمې وې او ولس يې سپېڅلي زړور پښتانه ؤ. دا پښتانه هم هغه څوک وو چې تل يې د استعمار خونې ورانې کړې وې. مونږ په دې سيمه کې څه ناڅه ټول کلي وليدل.

ما د مهمندو په سيمه کې د ډگي کلي زمونږ د مرکز جوړولو لپاره غوره کړ، هلته پاتې شو او د مولوي عبيدالله سندي را رسېدو ته سترگې په لیار ؤ. مونږ څو ورځې هلته په انتظار پاتې شو، مگر د دوی لخوا کومه پته راڅرگنده نشوه. زه وډار شوم چې زما پاتې کېدل به په هغه ځای کې وگړو ته شک واچوي نو له ځان سره مې پرېکړه وکړه چې (چېله) شم.

په جومات کې يوه ډېره کوچنۍ کوټه وه. په هغه کوټه کې چيله شوم. کله چې مې چېله پای ته ورسېده. ترهغه پورې لا هم د عبيدالله کوم حال را څرگند نشو. وروسته مجبور شوم او بېرته لاړم. د فضل محمد د تره زوی تر ملکنډ پورې راسره ولاړ او په هغه ځای کې يو له بله جلا شوو.

په ملکنډ کې سياسي ايجنټ(نماينده) د ولس په زړونو دومره ډار اچولی ؤ چې که څوک به بې له سلام کولو د انگرېزانو له مخه تېر شو، نو هغه به يې په (ستوک) کې بندي کول. «ستوک د لرگو يو چوکاټ وو چې د پښو لپاره يې سوري لرل او په سر يې هم يوه دړه وه. مجرم به هلته په ناسته ډول بندي کېدو او پښې به يې له سوريو څخه وتلې وې» څنگه چې زه له دارنگه مستبدانه چال چلن څخه په وېره کې وم له ملکنډ څخه د درگۍ پر لور روان شوم، تر تختابۍ پورې په گاډي کې لاړم او له هغه نه په ناري کلي کې چې په مومندو کې دی خپل پټې او کښتونو ته لاړم، شپه مې تېره کړه سبا مې ځان اتمانزو ته ورساو.

هغه سهار ډېر خلک زما ليدو ته راغله دا ځکه کله چې زه له دوی څخه تللم ورته ويلي مې ؤ چې زه- په اجمير کې د خواجه معين الدين چشتي زيارت ته روا ن وم. له دې نه لږ څه وروسته په يوروپ کې د نړۍ لومړۍ جگړه

پیل شوه او زمونږ د مرکز جوړولو خیال هم له سره ووت.
شیخ محمد الحسن هم مکې ته د حج لپاره لاړ، په هغه ځای کې څنګه چې د ترکیې د خلافت ملاتړ یې کاوه، نو د انګرېزانو لخوا ونیول شو او په مالټا کې یې جېل ته ولېږه. مولوي عبید الله سندي افغانستان ته لاړ. مولوي سیف الرحمن او د ترنګزیو حاجي صاحب سره یو ځای شول او د بنیر آزادې علاقې ته لاړل. د حاجي صاحب نور ملګري له تاج محمد مولوي فضل الربي او مولوي عبد العزیز څخه عبارت ؤ. (مولوي عبد العزیز له انګرېزانو دومره نفرت کاوه چې کله به یې کوم انګرېز ولید نو سترګې به یې پټې کړې. انګرېزانو د یوې د سیسې په ترڅ کې په صوات کې وواژه).
د بنېر خلکو حاجي صاحب ته ښکلې تو ته ځمکه ورکړې وه او حتی لرګي یې راوړي وو چې ورته کور جوړ کړي. مګر د بنېر ملایان او مشران په هغه ځای کې د حاجي صاحب په مېشته کېدو خوښ نه ؤ. کله چې حاجي صاحب بنېر ته راورسېد نو خلکو یې ډېر درناوی وکړ. اوس نو ملایانو په کېنې او قصد د هغه په شا او وروسته په پروپېګنډه پیل وکړ او ویل به یې: «دی د څه لپاره دې ځای ته راغلی دی؟ آیا غواړي چې د انګرېز په ضد وجنګېږي او که خپله ځاله جوړوي؟». حاجي صاحب او د هغه زوی پادشاه ګل په دې خبره ډېر خواشیني شو او غوښتل یې چې هلته په جګړه پیل وکړي. ما حاجي صاحب ته وویل: «دا خلک خود خواه دي. په هغوی پسې سر مه ګرځوه، خپل کار په مخ وړاندې بوځه.» په دې خبرو مې نوموړی له شخړې کولو څخه راوګرځاوه. «ځکه چې که چېرې ته جګړه پیل کړې، اولس لا تر او سه پورې دومره تیاری نه لري چې د برتانویانو مخه ونیولای شي. که چېرې ته اوس جګړه پیل کړې نو ژر به دا څرګنده شي چې پوره پیاوړی نه یې.» مګر حاجي صاحب زما خبره ونه منله او څو ورځې وروسته چې زه لاړم، دی د برتانیې په مقابل کې راولاړ شو او په جګړه یې پیل وکړ.
آیا څنګه کېدای شو چې په بنېر کې د برتانیې مخې ته ودرېږو؟. زما پېش بیني (اټکل) رښتیا شوه.

د حاجي صاحب د نیولو لپاره یوه توطیه جوړه شوې وه چې ویې نیسي او برتانویانو ته یې تسلیم کړي !. مګر له نېکه مرغه مخکې له مخکې دا دسیسه را لوڅه شوه او حاجي صاحب په دې بریالی شو چې له هغه ځای څخه لاړ شي. هغه په نیمه شپه کې د مومندو خواته روان شو.

برتانویانو نه غوښتل چې پښتانه دې تعلیم وکړي. په حقیقت کې دوی زمونږ له ملي ښوونځیو څخه ډېره کرکه کوله او داسې لټه یې کوله چې د ترلو لپاره یې کومه بهانه پیدا کړي. اوس نو د دوی ښه بهانه راپیدا شوې وه نو هغه وو چې په بنېر او زمونږ په ایالت کې یې ټول ښوونځي وتړل او ښوونکي یې په ډېره اسمعیل خان کې جېل ته واستول.

برتانیې زمونږ اولس دومره بېرولی ؤ چې هیچا زړه نشو کولای چې زمونږ د هېواد په هکله ستاینه او ښه خبره وکړي، که چېرې څوک داسې پیدا شوی هم وای نو دا ډېره لرې خبره نه وه چې هغه دې بندیخانې ته ولېږل شي.

***



# مایوسي-محرومیتونه او بندیخانې

د ۱۹۱۵ کال د دسمبر په میاشت کې زما دویم زوی «ولي» وزېږېد. غني اوس نو دري کلن ؤ. د نړۍ له لومړۍ جګړې وروسته په هندوستان کې وبا (لوی مرض) ګډه شوه. زما د زامنو مور هم په دې ناروغۍ کې مړه شوه. د هغې مړینه عجیبه غوندې پېښه وه. هغه بالکل روغه جوړه وه، مګر زما زوی غني لویې تبې ونیو او سخت ناروغ شو. دی بېهوښه و او مونږ یې له روغېدو لاسونه وینځل. د ما ښام د لمانځه وخت وو او زه پر مصلا (جای نماز) باندې ناست وم. لمونځ مې وکړ او دعا مې کوله. زوی مې زما مخې ته په کټ کې پروت ؤ. مور یې کوټې ته راغله او له کټ نه ګرد چاپېره (چاپېره) وګرځېده. له دې نه وروسته بیا نو د کټ سرته ودرېده. څنګه چې اوښکې یې په ګرېوان راتویېدلې، د خدای دربار ته یې لاسونه پورته کړل: «خدایه! دا ناروغۍ له دې بې ګناه ماشوم څخه لرې کړې او په ما یې کېدې! ای ربه! دی جوړ کړې، پرېږده چې په ځای یې زه پرېوزم.»

سهار د غني ناروغي ورو ورو په ښه کېدو شوه، مګر مور یې ناروغه شوه. کله چې غني پوره روغ جوړ شو، مور یې له دنیا سترګې پټې کړې.

په ۱۹۱۸ کال کې د نړۍ لومړۍ جګړه پای ته ورسېده، هر چا د آرامۍ ساه وکښله، مګر زمونږ پرابلمونه لا پای ته نه و رسېدلي.

په ۱۹۱۹ کال کې د «رولاټ اکټ» په هکله اوضاع خړه پړه شوې وه، په دې کې ما هم برخه واخیستله. یوه اخطاري غونډه چې د (رولاټ اکټ) پر ضد زمونږ په کلي کې جوړه شوه، له سل زره تنو

څخه زیاتو ګډون په کې کړی و. دغې غونډې د پښتنو په زړونو کې نوې هیلې را پیدا کړې.

یوه ورځ اسلامیه کالج ته نږدې، په تهکال کې یوه احتجاجي غونډه جوړه شوې وه. زه په دې غونډې کې د ګډون لپاره هغې خواته ور روان وم چې په لیار کې مې واورېدل چې «مارشل لا» اعلان شوې وه. علت دا ؤ چې برتانیې له افغانستان سره په جګړه پیل کړی ؤ. او داسې څرګندېده چې د افغانستان حکومت د هندوستان د آزادۍ له جنبش سره زړه سوی درلود. د دې لپاره چې له مارشل لا مو ځان ژغورلی وي، نو زه له څو تنه نورو ملګرو سره د مومندو په خوا لاړم او غوښتل مو چې له هغه ځای څخه افغانستان ته لاړ شو. کله چې له ډېرو ربړونو وروسته مومندو ته را ورسېدو، نو ما ته احوال راغی چې پلار مو په مونږ پسې وروسته را روان شوی دی. هغه افغانستان ته له راتلو څخه وګرځولو او په مومند ناري کې یې خپلو ځمکو ته راوستلو. هلته مو په پټه کې ژوند کاوه، یوازې د شپې لخوا به مو خپلې کورنۍ لیدلې. پولیس په دې خبر شوي وو چې مونږ په کوم ځای ؤ، راغلل او زه یې ونیولم. مردان ته یې بوتلم او هلته یې په بندیخانه کې واچولم. سبا یې کله چې د سپرانډیت (د پولیسو مشر) مخ ته راوستم، هغه سم د لاسه امر وکړ چې زولنې راواچوي، مګر هر څو مره لټه یې چې وکړه داسې زولنې یې ونه موندلې چې زما پښې په کې ځای شي ! څنګه چې د بندیخانې وظیفه داران له برتانویانو څخه ډېر بېرېدل، پښې مې یې په زور پکې تختې کړې او په موټر کې یې واچولم. د پولیسو مشر او اسیسټانټ کمیشنر دواړه را سره وو، پېښور ته یې یوړم. هلته یې د پولیسو لوی قوماندان ته وروستلم او شپه مې په توقیف کې تېره کړه. هغه زولنې یې چې ما ته را اچولې وې، دومره تنګې وې چې په

لیار تلی نشوم. د پښو پوستکي مې الوتي وو او سرې وینې ورځنې بهېدلې !. په دا بله ورځ یو تن اپریدی پولیس راغی او راته وېې ویل: «راځه له ما سره چې محکمې ته دې بوځم». ما په جواب کې ورته وویل: «پښې مې ژوبلې دي تلای نه شم». په دې خبره ډېر په قهر شو او په تریو تندي یې وویل: «هلته چې غونډې ته ورتللې خو پښې دې روغې وې ! اوس ژوبلې دي؟» ما ته راڅرګنده شوه چې له هغه سره دلیل ویل بې کاره خبره وه، نو ډېر کلک مې ورته وویل: «که ټانګه راوستلای شې نو درسره لاړ به شم او که نه پښې مې ژوبلې دي، محکمې ته تلای نه شم.»

په پای کې پولیس ټانګه راوستله او محکمې ته یې بوتلم ما ته یې وویل چې ته له محکمې څخه د باندې کېنه او ما ته انظار وکاږه، ترڅو زه په بل بندي پسې لاړ شم. دا بندي هم زمونږ د کلي ؤ. هغه د تلګراف مزي پرې کړي وو او د دې جرم په هکله دوه کاله بند وربانديې وخوت. په هغه ورځ یې دا سړی د بل کوم مقصد لپاره محکمې ته راوست. مقصد دا شی و چې له ده څخه یې غوښتي ؤ چې پر ما باند ې دا سې شاهدي ووایي چې ګوندې د تلګراف مزي یې زما په لارښوونه پرې کړي ؤ. د دې جعل کارۍ په عوض کې له هغه سره وعده شوې وه چې دوه کاله بند به یې ورته وبښل شي. لېکن هغه دا خبره منلې نه وه.

کله چې زه محکمې ته ننوتلم نو د یوه تن پرڅای درې تنه برتانویان هلته ناست ؤ. دوی له ما څخه په پوښتنو کولو (تحقیقات) پیل وکړ. ما به نو څه جواب ورکړی وای؟

څه چې ما په غونډو کې کړي و، له هغې موافقې څخه عبارت وو چې د غونډې له اجنډا او تړون سره مې کړې وه.

یوه برتانوي راڅخه پوښتنه وکړه چې: «آیا دا رښتیا نه ده چې

هرڅوک چې د حکومت پر ضد کارونه کوي، ته يې ملګرى يې؟». ما يې په جواب کې ورته وويل: «ټول هغه څوک چې زه ورسره ناسته ولاړه لرم د تاسو وفادار خانان او ملکان دي.»

کله چې پوښتنې پاى ته ورسېدلې نو زه يې د باندې ولېږلم، پخپله دوى د ننه پاته شول چې ترڅو دا خبره فيصله کړي چې اوس نو له ما سره څه وکړي.

رښتيا خبره خو دا ده چې د پوليسو لوى قوماندان (جيورج روزکېپل) پښتنو ته په درنه سترګه کتل. نوموړي د مارشل لا ادارې لوى مشر ؤ نو هڅه يې کوله چې د ظلم او تېري اندازه راټيټه کړي. له يوه ساعت انتظار ايستلو وروسته يې زه بېرته د بنديخانې هغو بارکونو ته بوتلم چې هلته نور ډېر پښتانه هم ؤ.

يوه ورځ ناڅاپه زما سپين ږيرى پلار له څو تنو نورو ملګرو او خپلوانو سره بنديخانې ته راغى راتګ ته يې زه ډېر تعجب او هک حيران پاتې شوم. زما په ليدو مې پلار ډېر خوښ شو او راته ويې ويل «شکر دى چې ژوندى يې !». دا ځکه چې دوى آوازې اورېدلې وې چې ګوندې زه چار ماري شوى وم. پلار مې وويل: چې اتمانزو ته ډېر پوځونه راغلي وو او کلى يې محاصره کړى و. ټول د شاو خوا ولس يې راغونډ کړي او ورته ويلي يې ؤ چې په ځمکه کېني. بيا يې نو خپل ټوپک په ډېر شان او فرط سره ډک کړى و. اولس نو طبعاً داسې خيال کاوه چې ګوندې اوس به ټول ولس په توپونو الوزوي ! مګر يوه ډزه هم ونشوه او د اولس زړونه نږدې له ډاره ختلي ؤ. دا هغه برتانوي رنګه تاکتيک و چې غوښتل يې اولس وډار کړي !

پوځيانو کورونه لوټ کړي وو او يوه برتانوي زمونږ له کوره هم يو ښکاري چاقو وړى ؤ.

د کميشنر مرستيال زمونږ د کلي خلک درې زره روپۍ جريمه

کړل. او زمونږ د کلي ګڼ شمېر خلک بنديخانو ته استول شوي وو. زمونږ په کلي کې يو خان چې محمد عمر خان نومېده د برتانيې له حکومت او پوليسو سره يې ډېر نږدې مناسبات لرل. اوس نو پوليسو او نوموړي خان صاحب اولس تر هغو پورې د اور په لمبو وسوځاوه چې يې له سل-زره روپو څخه زياتې ټولې کړې. دوی يو سل او پنځوس تنه د بنديانو په توګه ترهغه وخته پورې وساتل چې وروستني روپۍ ور ورسېدې، په هغه برسېره بيا هم لا سل تنه بنديان پاتې شول.

هغه وخت پوليسو ډېره هڅه کوله ترڅو داسې شواهد او پلمې پيدا کړي چې ګوندې، ما له هغې نارامۍ سره چې په افغانستان کې د برتانويانو پر ضد را پورته شوې وه، لاس درلود. حتی داسې چې هغوی يو تن چې احمد استاد نومېده پيدا کړی ؤ چې پر ما باندې شاهدي ووايي.

مګر پوليس په دې بريالي نشول دا ځکه چې جيورج روز کېپل نه غوښتل چې زما لپاره دوسيه پيدا کاندي. زما د بند موده له شپږو مياشتو وروسته پای ته ورسېدله. زه ځانګړې بدمرغۍ اور بړونې په پراخه حوصله تېرولی شم. ليکن دې چال چلن زما اولس ډېر تاواني کړ ځکه چې له هغه نه وروسته نو پښتانه په سياست کې ډېر ژور اخته شول.

تر اوسه پورې ما دوه ځله مارشل لا ليدلې ده. لومړی ځل په ۱۹۱۹ کال کې، چې د برتانيې لخوا اعلام شوه. بل ځل په ۱۹۴۸ کال کې کله چې پاکستان وزېږول شو نو پاکستاني واکدارانو مارشل لا اعلان کړه. دلته غواړم چې دواړو مارشل لاؤ ته لنډه کتنه وکړم، چې څنګه اداره کېدلې.

نو وبه پوهېدل شي چې څنګه دې دوو مختلفو حکومتونو

مختلف مېتودونه په کار واچول. کله چې برتانيې مارشل لا اعلام کړه نو له يوې خوا له افغانستان سره په جګړه بوخت وو او له بلې خوا مونږ اوضاع خړه پړه کړې وه. نو د دې لپاره چې قانون تطبيق کړای شي او د دغو ګډوډيو مخنيوی وکړي، نو برتانويانو ته بې له مارشل لا بله کومه ليار پرانستې نه وه. دا مارشل لا يوازې د دوه، يا دريو مياشتو لپاره تطبيق شوه.

خو په پاکستان کې آرامه آرامي وه. اداري، قضايي او اولسي کارونه په معمول ډول مخ پر وړاندې تلل، چې ناڅاپه مارشل لا اعلام شوه. منظور دا و چې د حکومت واګې د څو تنو انفرادي خود غرضو کسانو په لاس ورشي اولس له ديموکراتيکو حقوقو څخه محروم کړي او د انتخاباتو مخه ونيسي. دا مارشل لا نو څلور کاله اوږده شوه.

اوس که چېرې د نتيجې په اساس قضاوت وشي دغه دواړه مارشل لا وو يو ګډ اوغوره ټکی درلود.

د برتانيې حکومت هندوستان ته داسې څرګنده کړه، چې د دوی لپاره هغه وخت را رسېدلی ؤ چې خارجي يوغ له غاړې لرې کړي. هغه وو چې دلته نو مبارزه سخته شوه او د برتانيې حکومت مجبور شو چې له دې ځای نه ووځي. د پاکستان حکومت هم داسې اولسونو ته وښوول، چې هغه د خلکو حکومت نه ؤ. برتانيې هم په زور حکومت کولو ته دوام ورنکړی شو او پاکستاني واکداران به هم داسې و نه کولای شي. د دوی واکداري به هم يوه ورځ داسې پای ته ورسېږي، لکه څنګه چې د برتانيې د حکومت ورسېده.

***

# ولې مونږ بنديان شو ؟

کله چې زه له بنديخانې را ووتم، ما په خلکو کې نوې ګرمي او شوق او ذوق وليد. کوم ځای کې چې به خلکو ټولنه کوله، دا ټولنه به که د ښادۍ وه او که د غم، نو له هېواد او هېواد پالنې به خبرې په کې روانې وې. له دوی سره نور ډار نه ؤ، نوی ژوند او نوی شوق حکم فرما ؤ. د خلافت جنبش هم په پوره پياوړتوب او آرامۍ فعاليت پيل کړی ؤ.

د هندوستان اولس يوه عجيبه ميل لري، دا چې دوی د نورو په کارونو کې د خپل کار په اندول زيات مينه ښکاره کوي. که څېرته دوی پخپلو جنبشونو کې دومره برخه اخيستی وای لکه د خلافت په جنبش کې يې اخيستې وه، نو د نړۍ له نورو پرمختللو اولسونو به دومره وروسته پاتې نه وای.

د خلافت جنبش د هندوستان مسلمانانو ته ډېرې ګټې واړولې او هغوی يې ښه منسجم کړل. د خلافت جنبش نه يوازې په ښارونو کې، بلکې په کليو کې يې هم مرکزونه جوړ کړي ؤ. يوازينۍ د خواشينۍ خبره دا وه چې دوی د غه مرکزونه په کافي ډول اداره کولای نشول، خلک لا په دې ښه نه ؤ پوهېدلي چې څنګه دا مرکزونه اداره کاندي او څنګه يې پياوړي کړي. تر هغه وخته پورې چې خلک په دې شي پوه نشي، نو د نظم او هيڅ ډول پرمختګ لپاره کومه درسته هيله نشي پيدا کېدای ! د غور وړ پوښتنه دا ده چې څنګه دا خلکو ته ور زده کړل شي؟. زما په فکر د دې لپاره دوه شيان ضرور او حتمي دي: لومړی دا چې بايد وګړي پوره باور او عقيده ولري چې په سيخه ليار روان دی. دوهم دا چې د دوی لپاره پياوړی او رښتينی ليډر په کار دی چې هغه لياري چارې ور په ګوته کړي چې د دوی له عقايدو، مذهب او ايډيل سره سمون ولري.

مذهب هم يو جنبش دی، نو که څېرې ايماندار او سپېڅلي خلک له دې

جنبش سره یو ځای شي او ځانونه د خپل هېواد او اولس خدمت ته وقف کړي، نو هرومرو به یې پای بریالیتوب وي. دا ډول وګړي به د بشر لپاره ویاړ او برکت شي. او د دوی خپل هېواد، اولس او مینه به آباده او نېکمرغه وګرځي.

کله چې زه له جېل څخه راووتم، نو زما مور و پلار غوښتل چې بايد بل واده وکړم. کوژده یې راته کړې وه او د واده کولو وخت مې هم رانږدې ؤ. زه له یوه ملګري عباس خان سره پېښور ته د سودا کولو لپاره لاړم. کله چې سر دریاب ته ورسېدو پولیس مونږ ته انتظار ؤ. مونږ دواړه یې ونیوو او چار-سدې ته یې د پولیسو سټېشن ادارې ته بېرته بوتللو. له هغه ځای څخه یې زمونږ دوسیه پېښور ته ولېږله. په پېښور کې یې نېغ د مستر شارټ بنګلې ته چې د (سي، آی، ډي) مشر وو وروستلو. مونږ یې د بنګلې مخې ته په سړک ودرولو او پخپله هغه پولیس چې مونږ یې راوستلي ؤ د رپوټ ورکولو لپاره بنګلې ته لاړ. تر ماښامه پورې مونږ هلته ولاړ وو، د دسمبر میاشت او ډېره یخني وه. مسټر شارټ د اور مخې ته په توده کوټه کې ناست ؤ او مونږ د باندې په سړه یخنۍ کې رپېدلو. زما ملګري عباس خان پوښتنه را څخه وکړه: «ولې مونږ ګرفتار شو؟». مونږ څه کړي دي؟ او کله چې د پولیس افسر ته ورشو نو څه به ورته وایو؟. ما په جواب کې ورته وویل: هره پوښتنه چې کوي رښتیا جواب ور کړه. احتیاط کوه او دروغ مه وایه. شپه پخه شوې وه چې په پای کې یې د عباس نوم واخیست او کوټې ته یې وروغوښت. ورپسې زه هم د مسټر شارټ مخته ورغلم. مسټر شارټ په بدخویۍ او زشتۍ کې نوم درلود. ژر راڅرګنده شوه چې په نوښېره کې چا کوم بم چوولی وو، زه او عباس هم په دې هکله نیول شوي وو. مسټر شارټ له ما څخه په پوښتنو پیل وکړ او ما یې هم په لوړ آواز جواب ورکړ. مسټر شارټ شور جوړ کړ: « په ورو خبرې کوه !». د بلې پوښتنې جواب مې په ټیټ او نرم آواز ورکړ. مسټر شارټ بیا را باندې چیغه کړه: «په زور خبرې وکړه !». ما ورته وویل: «کله چې په زور خبرې کوم، راته وایې چې ورو ! کله چې

بیا ورو خبرې وکړم نو راته وایې چې په زور خبرې وکړه. مهرباني وکړه راته ووایه چې بله کومه لیار شته چې تاسو مخاطب کړم». ما ښه لیده چې زما دې خبرې هغه ډېر په غصه کړ، لېکن څه یې ونه ویل پولیس ته یې غږ کړ او زه یې په لاس ورکړم. پولیس بوتلم او د صدر د پولیسو په سټېشن کې یې توقیف کړم. هیڅ چا څه رانکړه چې یې وخورم، نو ټوله شپه مې په لوږه کې تېره کړه. عباس خان د پولیسو په بل سټېشن کې توقیف شوی ؤ. سړه شپه او د توقیف سمنټي غولی (صحن) دواړه ډېر ساړه وو، دروازه لوڅه لغړه وه. یو څه ورستې او بوینې کمپلې په غولي کې پرتې وې. ځنګه چې خورا یخني وه، نو مجبور وم چې په هغو کمپلو کې ځان ونغاړم. زه یوه هفته په توقیف کې وم، وروسته بیا نو مسټر شارټ ور وغوښتلم او د خوشې کولو امر یې راکړ.

ما پوښتنه ورځنې وکړه: «پوښتنه کولای شم چې ولې زه ونیولی شوم؟ او ولې مې یوه هفته په توقیف کې تېره کړه؟». ده لنډ په جواب کې راته وویل: «داکاملاً په ما اړه لري چې لومړی پوښتنه وکړم او که لومړی د نیولو حکم» ما وویل: «مګر زه هم انسان یم! آیا تا زما په هکله هم کوم فکر کړی ؤ؟ هیڅ علت موجود نه ؤ چې په ما دا ټولې ناجایزې تېرې کړې! زه خو نه تښتېدم. که چېرې ستا اشتباه ربښتیا شوی وای نو زما ګرفتاري خو ډېر آسان کار ؤ».

مسټر شارټ په تند اواز راته وویل: «ستا په هکله ناجایزې څه ته وایې؟» ما ډېر ساده جواب ورکړ: ډېر ښه! له کوټې را ووتلم او کلي ته لاړم.

***

# هجرت

په ۱۹۲۰ کال کې ما دوېم واده وکړ. هغه کال ما د آل انډيا د خلافت د کمېټې په کنفرانس کې ګډون وکړ. په دې کنفرانس کې د يوه ځوان لخوا چې عزيز نومېده د هجرت کولو غوښتنه پېشنهاد شوه. نوموړي وويل چې مونږ بايد ټول له هغه ځای څخه لاړ شو. هغه وخت مونږ ته دا ټوکه ښکاره شوه. لېکن دا ټوکه رښتيا شوه. او دا ټوکه له بده مرغه د ډېرو پښتنو په وينو بدله شوه.

د هجرت يوه کمېټه په پېښور کې جوړه شوه، هر چا به چې غوښتل افغانستان ته لاړ شي نو دې کمېټې ته به ورتلل او د هغې لخوا به دوی ته هر ډول آسانتياوې برابرېدلې. په لومړي ځل برتانويانو هڅه وکړه چې خلک افغانستان ته له هجرت کولو څخه را وګرځوي، مګر کله چې ورڅرګنده شوه چې دا خبره ورسره چا نه منله، نو بيا به يې اولس دا سې تشويق کاوه چې د هجرت شمېر دې اضافه شي. له دې نه د دوی منظور د «يک تير و دو فاخته» ؤ او هغه دا سې چې له يوې خوا به افغانستان له مهاجرينو سره د چال چلن په هکله په ربړونو او کړاوونو اخته شي او له بلې خوا به د هغې سيمې سياسي وګړي هم افغانستان ته هجرت وکړي او د برتانيې اند ښننې به کمې شي.

برتانيې په دې وخت کې له مهاجرينو سره ځينې روزل شوي جاسوسان هم افغانستان ته واستول. ځينو کسانو دلته يوه ډېره پياوړې فتوی ورکړې وه دا سې چې «هر څوک چې په هجرت نه ځي بايد خپلې ښځې طلاقې کړي» ما هم هجرت وکړ او هر څه مې پخپلو سترګو وليدل.

امير امان الله خان غوښتل چې دغو مهاجرينو ته ځمکې کورونه او وظيفې ورکړي او په تجارت کې هم برخه واخلي. مګر انګرېزي جاسوسانو چې له مهاجرينو سره تللي ؤ له دې کار سره مخالفت کاوه.

دوی به ويل «مونږ دلته د دې لپاره راغلي يو چې غزا وکړو او غازيان شو» امير امان الله خان ورته وويل: «زه لا تر اوسه پورې دومره پياوړی نه يم چې

له برتانيې سره جګړه وکړم. زه به ستاسو لپاره ټول امکانات برابر کړم، که تاسو وکولای شول چې د برتانيې په مقابل کې مبارزه وکړای شئ، نو زه به په ټول قدرت له تاسو سره مرسته وکړم. زه او تاسې په دې ښه پوهېږو چې برتانويان د تور کپچه مار په شان دي او هيڅکله به مونږ آرام ژوند ته پرې نږدي، زه هم د هغوی له مرګ ژواندي نېش وهلو څخه تل تر تله په فکر کې يم». جاسوسان د مهاجرينو په منځ کې خپاره شول او خپل ننګين فعاليت ته يې دوام ورکړ.

په کابل کې هم يو ګروپ ؤ چې د هجرت له مفکورې سره مخالف ؤ. امير امان الله خان تر وسه پورې هڅه وکړه چې له دې جنبش سره مرسته وکړي، مګر په پای کې نتيجه په ناکامۍ بدله شوه. هغه وخت ارواښاد عبدالعزيز خان د پوهنې وزير يوه ورځ راته وويل: «زه غواړم چې د حبيبيې لېسه وګورم!» زه هم ورسره لاړم د لېسې مدير په ډېره مهربانۍ ماته وخت راکړ چې ځينې ټولګي وګورم او له زده کوونکو سره خبرې وکړم. ما له هغوی سره په فارسي خبرې کولې.

له يوه زده کوونکي مې پوښتنه وکړه چې: څوک يې؟ ده جواب راکړ «زه افغان يم» بيا ما پوښتنه ځنې وکړه چې: «د هېواد نوم دې څه دی؟» ده وويل افغانستان! بله پوښتنه مې ورڅخه وکړه چې: «ملي ژبه دې څه ده؟» په جواب کې يې راته وويل: «افغاني!».

په پای کې زمونږ ټول اولس چې افغانستان ته هجرت کړی ؤ بېرته کور ته راستانه شول.

ځينې ملګري تاشکند ته لاړل. زه او زما نور ملګري باجوړ ته لاړو چې د هغه ځای آزادو قبايلو ته ښوونځي جوړ کړو، يو ښوونځی مو په خلو کې چې په دير کې دی پرانست. مولوي فضل محمد مخفي د هغه د ادارې لپاره وټاکل شو. د دې کليو وګړي ډېر خوښ شول ځکه چې دوی له پوهې سره ډېره مينه لرله او کوچنيان يې هم ډېر ذکي وو. دا لومړی ځل و چې د دوی لپاره ښوونځي ته د تګ فرصت ورکړ شوی او پوره ګټه يې ځنې واخيستله.

د ملکنډ په سيمه کې د برتانيې سياسي ايجنټ چې مسټر کب نومېده. د

پښتنو د پوهنې له جنبش سره ډېر مخالف ؤ او هرڅه به يې په هر ځای کې چې له وسه پوره ؤ ، په دې هکله به يې خنډونه اچول، کله چې دی خبر شو چې د خلو ښوونځی د اولس ترمنځ ډېر مشهور شوی و نو بې له درنگه يې د دير نواب ور وغوښت.

نواب ته يې وويل: «گوره ! دا ټول تعليم او زده کړه مونږ ته بې پايه سر دردي را پيدا کوي، که غواړې چې ته په بده ورځ اخته نه شې، نو ښه به دا وي چې په هره لیار چې وي دا ښوونځی باید وران کړې !»

هغه ؤ چې نواب هم ښوونځی وران کړ. مونږ تر داسې سختو او ناوړه اوضاع لاندې ژوند کاوه.

زه اوس ښېخي يو ازې وم، زما ټول ملگري باجوړ ته تللي ؤ. زه يو ځل بيا په دير او باجوړ کې وگرځېدم او په پای کې کور ته لاړم. ما له ځان سره چرت وواهه چې زه به نو د نړۍ د لومړۍ جگړې په اوږدو کې هغه ښوونځي چې برتانويانو وران کړي وو ، بېرته جوړ کړم. په دې ورځو کې د خلافت جنبش او کانگرس گډ فعاليت کاوه. زما د ملگري قاضي عطاء الله خان لخوا ما ته بلنه راکړه شوه ترڅو د عليگړ په پوهنتون کې وظيفه اجرا کړو. څنگه چې مونږ په هغه لوري روان شوو داسې پېښه وه چې زه د خلافت د جنبش په غونډه کې برخه واخلم. د عليگړ په پوهنتون کې زمونږ له سيمې څخه هم ځينې کسان ؤ. مونږ له هغوی سره خبرې وکړې. د هغوی يوه گڼ شمېر کالج ته له تللو څخه انکار کړی ؤ. څنگه چې مونږ ته بل ډېر ضروري کار راپيدا شو ، نو ما او قاضي صاحب نشو کولای چې د غونډې تر پايه پورې پاتې شوو هغه وو چې بېرته اتمانزو ته راغلو.

د ۱۹۲۰ کال د دسمبر د مياشتې په پای کې زما ورور ډاکتر خان صاحب له پنځلسو کالو وروسته له انگلستان څخه بېرته راغی. ده طب د لومړنۍ جگړې په اوږدو کې پای ته رسولی ؤ او په پوځ کې يې د ډاکټر په حيث کار کړی ؤ. رتبه يې ټولی مشري (تورني) وه او د مردان د «گايډ» پوځ ته ورکړ شوی ؤ. ما هم د ځينو ملگرو په مرسته هڅه کوله چې د لوړو تحصيلاتو اسانتياوې برابرې کړم. په ۱۹۲۱ کال کې زمونږ هڅې بريالۍ شوې او د اتمانزو لېسه مو

جوړه کړه.

په دې لېسه کې زما ملګري له: قاضي عطاء الله خان، ميا احمد شاه، حاجي عبدالغفار خان، حاجي محمد عباس خان، عبدالاکبر خان، تاج محمد خان، عبدالله شاه او خادم محمد اکبر خان څخه عبارت ؤ. مونږ يوه ټولنه هم جوړه کړه چې انجمن اصلاح الافاغنه نومېدله مونږ د ښوونځيو لپاره پوره ښوونکي نه درلودل. يو دليل دا ؤ چې مونږ ښوونکو ته کافي تنخوا نشوه ورکولای. نو ما پخپله هم ټولګيو ته لوست کاوه هغه وخت ما په لاهور کې د خلافت د جنبش په يوه غونډه کې ګډون وکړ. په دې غونډه کې ما د بنو د سيمې د ميراخېلو د کلي له عزيز مختار خان سره وپېژندل. له ده سره د ده دوه زامن عزيز ممتاز خان او مقصود خان هم يو ځای وو، زامنو يې د پېښور په اسماعيليه کالج کې د ليسانسې اخيستلو لپاره لوست کاوه، مګر اوس يې له کالج تللو څخه لاس اخيستی ؤ.

عزيز مختار خان دواړه زامن زمونږ ښوونځي ته را واستول. مقصود خان سر ښوونکی شو، وروسته بيا کله چې کالج ته د لوست پر مخ بيولو لپاره لاړ، نو ځای يې عزيز ممتاز خان ته پاتې شو. برتانويانو زمونږ له ښوونځيو څخه کرکه کوله، کله چې به مونږ نوي ښوونکي مقرر کړل، نو هڅه به يې کوله چې هغوی تهديد کړي او ويې وېروي. که چېرې به د دوی تهديد بې اغېزې ؤ نو بيا به يې هغوی د ښو تنخواوو پر ورکولو له مونږ نه لرې کول. خوارکی مقصود ! هم کله به چې اتمانزو ته راغی نو د پوليسو له لاسه يې آرام خوب کولای نشو.

***

# د خلافت جنبش

ما تر او سه پورې د خلافت جنبش ته په درنه سترګه کتل، مګر هغه په سمه لیار روان نه و. په پېښور کې د خلافت جنبش په دوو خاښو بېل شوی ؤ. یوه ورځ حاجي جان محمد او د ده ملګرو په شاهي باغ کې غونډه جوړه کړې وه. په هغه غونډه کې فیصله شوې وه، چې حاجي جان محمد دې د خلافت د کمېټې رییس وټاکل شي. پېشنهاد ومنل شو. په دا بله ورځ یوه «سید» او د ده ملګرو ځانته بله غونډه جوړه کړې وه. په هغه غونډه کې وویل شو، چې څنګه چې سید صاحب په رښتینو خدايي لیارو روان وو، نو تر حاجي جان محمد ښه هغه ښه وو، باید چې د خلافت د کمېټې رییس هم دی وي. د هغې غونډې غړو ټولو له هغه سره موافقه وکړه.

د خلافت جنبش له دا ډول پرابلمونو سره مخامخ ؤ. دا ډول مخالفتونه او ستونزې ورځ په ورځ پسې زیاتېدلې. او هیڅ رښتینی ګټور کار پر مختګ ونکړ. قیمتي وخت ضایع کېدلو. د غړو ترمنځ همکاري موجوده نه وه. په عمومي ډول د پېښور اولس ښه زیارکښ او کارګر خلک دي، مګر دې جنبش ته د کار کولو په ترڅ کې یووالی موجود نه ؤ، نو له کاره ولوېدل. زه به کله کله د خلافت د جنبش دفترونو ته ورتلم، څنګه چې د دواړو خواوو اړیکه له ما سره ښه وه، نو د خپلو توپیرونو او مخالفتونو په هکله به یې کیسې راته کولې. دواړو خواوو دا ښه را څرګنده کړه چې پر ما باندې یې باور درلود په پای کې یې رانه غوښتنه وکړه چې ریاست پر غاړه واخلم. زما لپاره که رښتیا خبره وي، دا ډېر په زړه پورې نه ؤ. ځکه چې زه هیڅ له ریاستونو او نورو لوړو مقامونو سره مینه نه لرم، تر وسه پورې هڅه کوم چې ځان لرې وساتم. مګر په دې ځای کې مجبور وم چې دا غوښتنه ومنم. مګر په یوه شرط سره مې دا کار وکړ. هغه دا ؤ چې کومې پیسې چې د نشریاتو له لیارې په سرحدي ایالاتو کې راټولېدلې، باید د اولس د پوهې او تعلیم په لیاره ولګېږي. هغه ؤ چې زه

د خلافت د جنبش د رییس په حیث وټاکل شوم او عبدالقیوم خان د منشي په توګه کار کاوه.

اوس چې زما زړه د ښوونځي په هکله آرام ؤ، نو د ایالتونو د کتنې لپاره مې په سفرونو پیل وکړ.

له ما سره تر ټولو د مخه دا فکر ؤ چې له خلکو سره وګورم او ورسره خبرې اترې وکړم او په دومه درجه دا چې هڅه وکړم چې نور اولسي ښوونځي هم پرانیزم.

کله چې ما په اتمانزو کې اولسي ښوونځی جوړ کړ، نو شپږ میاشتې وروسته له هغه څخه زمونږ د سیمې کمیشنر زما پلار ور وغوښتلو او ورته یې وویل: «زه خبر یم چې ستا زوی په کلیو او سیمو کې ګرځي او ښوونځي جوړوي. ما ته دا هم را څرګنده ده چې نور خلک پخپلو کورونو کې په آرام ناست دي او په دې کارو پسې نه ګرځي. دومره مهرباني به وکړې چې خپل زوی ته ووایې چې له دې فعالیتونو لاس واخلي او په کور کې کرار کښېني؟».

کله چې مې پلار کور ته راغی نو زه یې ګوښه کړم او هغه څه چې کمیشنر ویلي ؤ ما ته یې بیان او زیاته یې کړه: «ولې ته په کور کې آرام نه کښېنې زویه؟ ! ولې ته یوازې داسې کارونه کوې او بل هیڅوک ورپسې سر نه ګرځوي؟».

زما د پلار دې خبرو که څه هم قصدي نه وې، زه ډېر خواشینی کړم. ما له ځان سره وویل:

«دا پرنګیان په دې هم اړ نه دي چې د پلار او زوی ترمنځ د نفاق تخم وکري، ترڅو یې خپلې هیلې تر سره شي !».

زما پلار له مذهب سره ژوره مینه درلوده ما ورته وویل:

«پلاره ! که نور ټول خلک لمونځ کول پرېږدي، آیا ما ته به داسې ووایې چې زه هم لمونځ پرېږدم؟».

پلار مې وویل: «توبه خدایه ! لمونځ کول ډېره مقدسه وظیفه ده». ما ورته وویل: «نو زما په فکر د خلکو پوهول او د هغوی لپاره خدمت کول داسې سپېڅلی دنده ده لکه لمونځ کول !». پلار مې په ډېر جدي د دې خبرې په

جواب کې وويل: «زويه ! کله چې دا دومره سپېڅلې وظيفه وي، نو ګوره چې پخپل عمر ورڅخه لاس وانه خلې». هغه ؤ چې پلار مې کميشنر ته وويل چې مونږ ستا لپاره خپل دين او مقدس کارونه پرېښودلی نشو. څو ورځې وروسته زه جېل ته واستول شوم او له ما څخه د جريمې غوښتنه وشوه، مګر له ورکولو مې يې انکار وکړ. د ۱۹۲۱ کال د دسمبر په يوولسمه نېټه د سرحدونو د جزايي قانون د «سکشن - ۴» په اساس په درې کاله بند محکوم شوم. دا بنديخانه خورا سخته وه. هغه ډوډۍ به چې مونږ ته راکول کېدله د ډوډۍ په شانته او هغه جامې به چې مونږ ته د اغوستلو لپاره راکول کېدلې، د جامو په شانته نه وې. زمونږ د کلي يو بل پلار او زوی هم له ما سره يو ځای بنديان شوي ؤ. کله چې يې د بنديخانې جامې واغوستلې نو زوی يې خپل پلار نه پېژندلو ! او په «بابا ! » بابا چېرته يې !» سورو وهلو او ژړا يې لاس پورې کړ. پلار يې ورته وويل: «زويه دا دی زه دا ستا ترڅنګ يم !». اوس نو وګورئ چې زما په شان د يوه جګ، دنګ سړي به نو څه حال ؤ؟ کومې جامې يې چې ما ته راکړې وې نو پرتوګ يې زما تر ټيټکيو نه را رسېده او دومره تنګ ؤ چې يو ګام مې په کې اخيستلی نشو. کميس مې له پښتيو ښکته نه تېرېده ! نوي خيلي به په توقيف کې اچول کېدو او دا يې وظيفه وه چې هره ورځ شل سېره جواري ورغستلی «ميده» کاندي.

بنديان به يې په هتکړيو کې اچول او په غاړه کې به يې د اوسپنې کالرونه پراته ؤ. له دې کالرونو څخه به د بندي پېژند پاڼه چې د هغه نوم، د جرم ډول او د بند موده به وربانديې ليکل شوې وه راځړېدله.

د دې بنديخانې بنديوان يو تن هندو چې ډېر رښتينی انسان و. څنګه چې پخپله نو موړی هم مينه پال ؤ، نو پر بنديانو يې ډېر زړه سوی کاوه. زه يې که څه هم توقيف کړم، مګر هتکړۍ يې را وانه چولې او جوار يې هم را باندې ميده نکړل. ما ته يې د بنديخانې ډوډۍ راکړه. مګر چپاتي يې لږ څه پاک ؤ دال او ترکاري يې هم د خوړولو وړ وه، زما د توقيف کوټه ډېره سړه وه ځکه چې مخ په شمال جوړه شوې وه او هيڅ ورته د لمر رالوېدو امکان نه ؤ. ما ته يې

دري کمبلې او يوه ټوټه بوجۍ راکړې وه چې له يخنۍ څخه يې ساتلی نشوم. برسېره په دې څنګه چې مونږ ته له توقيف څخه د باندې وتلو اجازه نه وه او سپورت مو نه کولو، نو د يخنۍ زور او شدت به لا ډېر ځورولو. کله کله به چې کوم مهربان پيره دار په ما زړه سوی وکړ، نو د باندې به يې پرېښودم چې د نيم ساعت او يا يوه ساعت لپاره لمر ته کېنم. بل مصيبت دا ؤ چې چا د شپې هم په اسانۍ خوب نشو کولای ځکه چې هر درې ساعته وروسته به پيره دار بدلېدلو او د هر يوه بندي ور به يې ټکاوه. دروازه به يې تر هغه پورې ټکوله چې بندي پخپله جواب ورکړي. کوم بندي به که چېرې جواب ورنکړ، نو په سبا به جزا ورته ورکول کېدله.

کله چې زه بندي شوم نو لومړی يې د پېښور بنديخانې ته واستولم. زه پداسې توقيف کې چې ګوندې يوازې تر نظارت لاندې يم، بندي نکړای شوم، بلکې سم يې د مجرمانو په توقيف کې واچولم. کله به چې ور واز شو نو ډېرې بد بويې به مې سپږمې راسوځولې.

د دې بوی د منبع موندل سخت کار نه و. داسې چې د دې توقيف د پخوانې بندي د غايطه موادو د ختو لوښي لاتر اوسه پورې په کنج کې پروت ؤ. ما د بنديخانې افسر ته وويل چې هغه ځای ډېر چټل وو او ما نشو کولای چې هلته واوسېږم، مګر افسر مې په جواب کې وويل: «ته په جېل کې يې! پوهېږې!» او دننه يې ورټېله کړم.

له هغه نه وروسته چې زه بندي شوم زما د خلافت د جنبش ملګري هم بنديان شوي وو. مونږ به شپه او ورځ کوټه قلفي وو. زمونږ ډوډۍ به يې له يوې پنجره لرونکې کړکۍ څخه راغورځوله. دروازه به يوازې هغه وخت وازېدله، کوم وخت چې به جارو والا د غولي د جارو کولو لپاره راغی.

زمونږ کوټې کلکې تر نظارت لاندې وې، ځکه چې نه يې غوښتل چې زمونږ پوښتنې ته څوک راشي او يا له مونږ سره څوک وغږېږي. د دغه مستبدانه چال چلن نتيجه دا وه چې زما ډېرو ملګرو فيصله وکړه چې جريمه تحويل کړي، لېکن عبدالقيوم او ما له دې کار څخه غاړه وغړوله.

لس ورځې وروسته یې زه د کمیشنر مرستیال ته وروستم. نومو ړی یو عجیب او غریب انګرېز و. ده له هغه پولیس څخه چې زه یې راوستلی وم پوښتنه وکړه چې ده څه ګناه کړې وه؟ پولیس ورته وویل چې ده هجرت کړی و او هم یې آزاد ښوونځي جوړ کړي وو. د کمیشنر مرستیال پولیس ته وویل چې (څنګه چې یو ځل په هجرت تللی وو نو ولې مو بېرته د راتلو اجازه ورکوله !؟).

زما حوصله پای ته ورسېده او ورتهومې ویل: (تاسو زمونږ هېواد له مونږ څخه نیولی دی او اوس حتی په دې هڅه کې یاست چې پخپله مېنه کې مو له ژوند کولو څخه بې برخې کړئ !؟).

په دې خبره انګرېز ډېر په غصه شو او پولیس ته یې وویل: (زما له مخې یې لرې کړه !. زه به دی په درې کاله بند محکوم کړم). پولیس بندیخانې ته بو تللم او عبدالقیوم هم په درې کاله بند محکوم شو.

بندیانو ته په توقیف کې دننه د ډوډۍ ساتلو اجازه نه وه، که چېرې به چا دا کار وکړ هغه به لوی جرم ګڼل کېده. یوه ورځ کله چې زه د خپل توقیف د کوټې مخې ته ناست وم زمونږ د کلي یو سړی راغی او د ګوړې یوه ټوټه یې راکړه. څه شېبه وروسته د دروازې پیره دار راته وویل چې د بندیخانې مشر راځي. زه اوس نو په دې ګوړه څه وکړم؟ ما به د بسترې لاندې پټه کړې وای، که څوک دا بستره ولټوي؟

نو تر بوجۍ لاندې به یې پټه کړم؟ په دې لوڅه لغړه کوټه کې به څوک څه چېرته پټ کړلی شي؟ له نېکه مرغه په پای کې د بندیخانې مشر راغی او معاینه یې ونکړه. کله چې بېرته لاړ، نو ما هغه د ګوړې ټوټې له کړکۍ څخه د باندې وغورځولې او له ځان سره مې وعده وکړه چې بیا به هغسې کار ونکړم چې د بندیخانې له اصولو سره مخالف وي.

ځکه له قاعدې او قانون څخه غاړه غړول د سړي په زړه کې ډار اچوي. داسې څه ما ډېر ولیدل چې زما سیاسي ملګرو ته ورپېښ شوي و. لومړی به هغوی نا فرماني وکړه، بیا به یې نو د بندیخانې د مشر تر سره وړۍ تړلې.

حتی رشوتونه به یې ورکول. دا ټولې خبرې له ډاره پیدا کېږي او بیه یې هم همېشه د سړي عزت نفس وي ! مګر ما نه غوښتل چې داسې څه ما ته راپېښ شي. ډاکتر خان صاحب او څو تنه نور راغلل چې ما ووینې. هغوی د حکومت له لوري یو پیغام راوړی و. پیغام داسې وو چې ما ته اجازه راکړل شوې وه چې ښوونځي جوړ کړم، مګر په کلیو کې باید ونه ګرځم. که زه له دې خبرې سره موافقه وکړم نو له جېل څخه به مې وباسي ! ما د حکومت هغه پیغامي لیک څیرې کړ.

په جېل کې د نورو ټولو بندیانو له منځه د چمرکند د سیمې ځینې سر تېري هم و چې ما پېژندل، ځکه هغه وخت چې زه له کابل څخه باجوړ ته تللم چمرکند ته د دوی د لیدلو لپاره لاړم. ما هڅه وکړه چې له دوی سره خبرې او مرسته وکړم. ما د دوی تر غوږو تېره کړې وه چې د سرحدونو خواته یا پنجاب ته لاړ شي ځکه چې د دوی نور ډېر ملګري هلته بندیان شوي و. ما دوی ته د خبرو په ترځ کې وویل: (د څومره مودې لپاره به تاسې خوبونه وینئ؟ ولې د ځان لپاره کارونه نه پیدا کوئ؟ تاسو خو کچرې لرئ؟ په کونړ کې چې ډېر لرې ندی ډول ډول مېوې شته دي. که تاسو هلته لاړ شئ، مېوې واخلئ او په مومندو کې یې خرڅې کړئ، نو تاسو به پوره ښه ګټه وکړئ او خپل ژوند به مو جوړ شي. نو بیا به آزاد او بېغمه یاست. )

ما هغوی ته دا خبره د دې لپاره وکړه چې هغه وخت چې زه د دوی سیمې ته تللی وم د دوی ژوند ښه راته معلوم ؤ. ما ته راڅرګنده شوې وه چې دوی د بېکارۍ او تنبلۍ خواته روان ؤ. دا سرتېری له بنیر څخه چمرکنډ ته راغلی ؤ. د دوی ترمنځ بې اتفاقي جوړه شوې وه او خپل مشر یې چې یو پنجابی ؤ وژلی ؤ. ما ته داسې څرګند بړي چې په خانښونو وېشل کېدل، شخړې او الې ګولې د پنجابیانو طبعي خاصیت دی. په بنېر کې د دغو سرتېرو په منځ کې ځینې بنګالیان هم وو. چې په ملګرتیا او پوره مینه یې یو له بل سره ژوند کاوه. مګر څنګه چې پنجابیان ورسره یو ځای شول، نو هغوی هم د نفاق په اور کې ور ګډ شول، ټوټه شول او په جګړو شخړو یې پیل وکړ. په پای کې یې مشر وژل

شوی ؤ او دوی ټول له بنبر ځخه شړل شوي ؤ. دا هغه وخت و چې چمرکنډ ته تللي ؤ. خو په دې برسیره بیا هم د ګوند روح هلته پاتې وه. د دوی مشر مولوي فضل علي ډېر (پارټيي باز) او خطرناک سړی و. ما هغه وخت چې له کابل ځخه باجوړ ته تللم، له نوموړي سره کتنه وکړه او ډېر نصیحت مې ورته وکړ.


مولوي فضل علي د دې لپاره چې د ګوند بازۍ لیار یې چا نیولې نه وي، نو خورا یوه ښه لیډر او یوه سړی مولوي بخشي یې چې رښتینی هېواد پال وو وواژه.

په بندیخانه کې هم دوی په بد حال ککړ وو. یو له بله سره به یې جګړه کوله او سره وهل ټکول به یې. هغه وخت چې زه هلته لاړم، نو وضعیت لږ ځه بدل شو ، ما ته یې وویل چې په کلي کې د دوی یو ملګری و چې د پولیسو جاسوسي یې کوله. ده به د وطن لپاره د خدمت کولو په هکله د ښو خلکو رپوټ پولیسو ته ورکاوه او پخپله به یې ځان ګوښه نیولی و ! کوم ښه سړی او خدمتګار انسان به یې چې وموند نو ورته ویل به یې چې راځه پلانې ځای ته لاړ شو. ته به هلته ښه ګټه وکړې. هغه سړي به د ده خبره له پاک زړه ومنله او ورسره به روان شو. کله به چې ور څرګنده شوه چې فریب یې خوړلی دی. نو هغه وخت به کار له کاره تېر شوی وو ځکه چې پولیس به مخکې له مخه ورته سترګې په لیار وو او وبه یې نیول. دوی ما ته دا لا هم وویل چې دا سړی بیا چمرکنډ ته د نورو بې ګناه وګړو په لومه کې بندولو لپاره تللی و. دا سې څرګندېدله چې نوموړی دا ځل زمونږ پر یوه خوار بې ساري مشر سترګې خښې کړې وې. دوی دا سې وویل چې هرڅول چې وي باید چمرکنډ ته خبر ور کړ شي چې هیڅوک له دې سړي سره هیڅ ځای ته لاړ نشي. د دغو سرتېرو په منځ کې یو مومند هم و. د ده د بند موده په یوه یا دوه ورځو کې پای ته رسېدله. کور یې چمرکنډ ته نږدې و. دوی له ما ځخه وغوښتل چې د کلي خلکو ته یو لیک ور واستوم څو دوی د دغه سړي په دام کې ونه لوېږې او مومند به دا لیک له ځان سره یوسي. په لومړي ځل ما د دا سې لیکنې ځخه غاړه وغړوله.

مګر کله چې مې د دغه سړي کارونو ته فکر وکړ او په دې چرت کې شوم چې اولس به څومره تاواني کړي، نو یو لنډ لیک مې ولیکه او مومند ته مې د ده تر خلاصېدو دوه ورځې مخکې ورکړ.

په دې جېل کې عادي بندیان د یوې هفتې لپاره په توقیف کې بندي کېدل، مګر زه یې هلته دوه میاشتې په کې وساتلم وروسته یې د پېره اسمعیل خان ته ولېږلم.

***



# د جېلونو بدلون

له هغه نه مخکې چې زه د پېښور له بندیخانې څخه ووځم، زما په پښو کې ځولانې پرتې وې خو کله چې د بره اسمعیل خان ته راغلم نو له پښو مې ځولانې وویستلې. زه یې په توقیف کې واچولم او سبا یې شل سېره جوار راکړل چې ورغستلی یې کړم. دا ځل څنګه چې د دې جوارو مینځونه چنجیو خوړلي وو نو په میچن باندې یې ورغستلي کول سخت کار نه وو.

د بندیخانې مشر (جېلوان) یو سپین ږیری مسلمان و چې مخکې له دې نه چې دا وظیفه پر غاړه واخلي په پوځ کې یې کار کړی ؤ. نوموړي په انګرېزي خبرې نه شوی کولای او د تقاعد وخت یې را رسېدلی و.

د جېل سپرانډنټ یو انګرېز و چې بې له انګرېزي بله هیڅ ژبه یې زده نه وه. نو له دې کبله د بندیخانې کار د ګانګرام پر غاړه و. نوموړی د سپرانډنټ مرستیال و. هغه مسلمان سپین ږیری بد سړی نه و، مګر ګانګرام یو چټل او رشوتخور انسان و. ده به بندیان پخپلو منځو کې د شخړو کولو لپاره لمسول بیا به یې له هغوی نه د دې لپاره چې هغوی ته جزا ورنکړي، د رشوت غوښتنه کوله. یوه ورځ کله چې ما جواري میده ول، جېلوان راغی او ویې ویل: (ته کولای شې چې دا کار پرېږدې!) ما ورته وویل ولې؟ ده مې په جواب کې وویل! (ته یوا ځینی سړی یې چې د خدای لپاره د خدمت په لیار کې دلته راغلی یې، نو که زه تا باندې ورغستلي وکړم، د خدای جواب به څه وایم!). د دې لپاره چې دی خوښ شي، نو ما کار پرېښود، مګر څنګه چې دی لاړ، بېرته مې د جواري په میده کولو پیل وکړ. ده له کوم ځای څخه زه ولیدم، بېرته راغی او ویې ویل: (ما خو درته وویل چې بس یې کړه. ته نو ولې لا اخته یې؟) ما ته نږدې په یوه بله کوټه کې یو بل بندي هم جواري میده کول، نو ما جېلوان ته وویل: «هغه سړی وینې؟ هغه یو قاتل دی او د هغه جرم له امله میچن ګرځوي، نو زه به ولې د خپل سپېڅلي کار لپاره دا کار نه

کوم؟ !». په دا بله ورځ جېلوان د میچنو وظیفه دار ته وویل چې ما ته د جوارو په ځای غنم راکړي چې میده یې کړم. اما هغه وخت چې نوموړي غنم راته راوړل، نو یو څه جواري یې هم ورسره راکړل او راته ویې ویل: (که سپرانډنټ راغی نو لطفا دا جوار ورښکاره کړه.) ما پوښتنه ځنې وکړه، ولې؟ ده راته وویل: «که هغه ته ورځرګنده شي چې تا ته مې غنم راوړي دي نو له کار څخه به مې وشړي» ما ورته وویل: (زه نه غواړم چې ته له وظیفې څخه وویستل شې او دا هم نه غواړم چې دروغ وو ایم، نو ما ته هم د نورو په شانته جواري راکړه چې میده یې کړم).

د جېل ډوډۍ خورا ډېره خرابه وه. د ژوولو وړ نه وه، ضرور به یې سمنټ پکې ګډ کړي وي. شنیلي (سابه) دومره اندازې ته خراب او بې مزې وو چې یوه ورځ ما د جېل پیشې ته ور وا چول، خو ویې نه خوړل.

جېلوان په ډېره مهربانۍ راته وویل، چې دی به له خپل کور څخه ما ته ډوډۍ را واستوي، مګر ما ورسره ونه منله. کوم چا چې شودې ګرځولې ویې غوښتل چې ما ته لږ څه راکړي. ویې ویل: دا د ډاکټر امر دی. مګر ما و نه منلې، ځکه چې زما لپاره په جېل کې شودې حواله نه وې او نه مې غوښتل د بل چا حق واخلم.

ګانګرام له ما څخه د رشوت غوښتلو لپاره د خپل نماینده په راستولو پیل وکړ. ما ته یې وویل: (ګانګرام ته څه پیسې ورکړه چې له توقیف څخه دې وباسي. مونږ د پېښور خلک په دې ډېر شرمېږو چې ته په توقیف کې یې او داسې کړاوونه تېروې. که ته دا پیسې ورنکړې، نو مونږ یې له خپله جېبه ورکوو.) ما ورته وویل: (غوږ ونیسه ! رشوت اجتماعي جرم دی. زه نه غواړم چې داسې جرم وکړم. پوهېږې چې زه دلته ځکه راوستل شوم چې جریمه مې ونه منله !). یوه ورځ مې هغه مسلمان جېلوان ته وویل: (ته سوچه مسلمان یې. پنځه وخته لمونځ کوې، مګر په دې بندیخانه کې د ځینو مسلمانو کوچنیانو د پټ ساتلو ملاتړ نه کوې. ته به په دې هکله د خدای په دربار کې څه جواب وایې؟).

ډوډۍ ورځ په ورځ پسې خرابېدله، يوه ورځ کله چې ما جوار ميده کول، سپرانډنټ زما کوټې ته د ننه راغی. د شنيليو (سابه) يوه کوچنۍ کاسه په غولي کې پرته وه. ما دا کاسه سپرانډنټ ته وروښودله او ومې ويل: (دا ډوډۍ ما پيشي ته ورکړه مګر ويې نه خوړله، تاسو غواړئ چې په انسان يې وخورئ !). سپرانډنټ چې پخپله ډاکتر هم و، ورته يې وکتل او ويې ويل چې کومه خرابي خو په کې نه وه. ) ما فکر وکړ چې د دې خبرې اوږدول کومه ګټه نه لري، نو د خبرو مضمون مې بدل کړ او ومې ويل: (که مهرباني وکړئ د هغې مخامخ کوټې بندي يو ځل وګورئ !). زه او هغه دواړه په هتکړيو کې يو، مګر تو پير ته خو وګوره ! زه هغو مره جوار ميده کوم لکه کوم چې دی يې ميدوي. دی هم يو بندي دی او زه هم. آيا زما جرم د ده په شانته دی؟ راته وو ايه چې تاسو پخپل هېواد کې له بنديانو سره څه رويه کوئ؟ سپرانډنټ بې له دې چې کومه خبره وکړي له کوټې څخه ووت.

په دا بله ورځ يې زه د پاکټونو د جوړولو ورکشاپ ته واستولم. بل ځل مې کله چې سپرانډنټ وليد راته يې وويل: (ته به په لنډه موده کې له توقيف څخه وويستل شې).

په ورکشاپ کې هم د سرحدي سيمو ډېر وګړي وو. دوی به ډېر ځله پخپلو منځو کې شخړې کولې. دوی به ټول ما ته راتلل او خبرې به يې راته کولې، ما به دوی ته لارښوونه کوله چې له شخړو کولو څخه لاس واخلئ او دې خبرو به په دوی پوره اغېزه کوله.

ډېر بنديان له سخت او زيات کار کولو څخه په وېره کې وو او هڅه به يې کوله چې ګانګرام ته رشوت ورکړي او له کار کولو څخه يې خلاص کړي. ما هغوی ته هم وويل چې له دې بد عادت څخه لاس واخلي.

کله چې ګانګرام ته ښکاره شوه چې زما لخوا د ده وظيفه او ګټې په خطر کې وې، نو پداسې د سيسه يې لاس پورې کړ چې ما کومې بلې بنديخانې ته واستوي. ده سپرانډنټ ته رپوټ ورکړ چې ګواکې «ما په ورانکاريو لاس پورې کړی و، د ده په مقابل کې مې بنديان لمسول، ما

خپلې نظرېې په خلکو کې خپرولې، که چېرې کوم پرابلم راپورته کېږي، ګانګرام لیکلي ؤ، نو زه به مسوول نه یم او یا دا چې دی (مقصد یې زه وم) بل ځای ته واستول شي». ربښتیا دا چې زما لپاره یې لویه د سیسه جوړه کړې وه. سپرانډنټ راغی او له ما څخه یې پوښتنه وکړه. پخپله هغه ښه پوهېده چې ګانګرام دروغ ویل، مګر د لته اوس د ډسپلین مسئله وه او یو انګرېز د دې لپاره چې ډسپلین تامین کړي نو له هر څه څخه کار اخلي. هغه و چې د بره غازي خان ته یې ولېږلم. ما دوه میاشتې دلته او دوه میاشتې مې په د بره غازي خان کې تېرې کړلې او پنځه ځلو ښت پوندړه وزن مې بایللی ؤ. خرابې ډوډۍ زما اووري او غاښونه له کاره غورځولي و.

هغه ورځ چې زه یې یوې بلې بندیخانې ته بدلولم، د پو لیسو موټر چې پردې یې تړلې وې، دروازې ته راغی. په پښو کې یې راته ځولانې راواچولې، په لاسونو کې مې هتکړۍ پرتې وې او په غاړه کې مې هم د او سپنې کالر ځوړند و. زما د بندیخانې هغه جامې چې لنډې او تنګې وې، په غاړه کې پرتې وې. خپل ځانته مې کتلی نشو. خدای پوهېږي چې نورو ته به زه لاڅه عجیبه غوندې ښکارېدم!

په موټر کې یې واچولم او د د بره غازي خان د رېل سټېشن ته یې یوړم. رېل تللی ؤ او شپه مو په سټېشن کې تېره کړله. هیچاته اجازه نه وه چې ماته نږدې راشي، همداسې زه هم چاته نږدې نه شوم ورتلی. زما ځولانې یې ماتې نکړې.

سهار هغه وخت چې رېل راورسېد زه په هغه اپارټمنټ کې چې د (مزدورانو اپارټمنټ) ورته ویل کېده واچول شوم. کوم ځای کې به چې رېل درېده، نو ډېر احتیاط به یې کولو چې څوک ماته نژدې رانشي او ونه پېژندل شم.

مونږ په غازي اکټ کې تم شوو او زه یې د بلې ګزمې په لاس ورکړم. د دې ګزمې مشر یو تن هندو و. هغه زما ځولانې ماتې کړې او ویې ویل: (راځه چې په دې پلیټ فارم کې ښکته پورته چکر ووهو.)

مونږ د اندوس له سين څخه تېر شوو. په هغه بله غاړه يې په ټانګه کې کېنولم او د ډېره غازي خان جېل ته ورسېدو. هغه وخت چې د جېل دروازې ته راورسېدو، عبيد الرشيد خان د کرنيل عبد المجيد خان زوی او لالا داني چند امبالوي زما د ليدلو لپاره راغلي وو. د دوی ځينې خپل خپلوان هم ورسره وو. کله چې زه د ننه تللم راته وويل: «کله چې مې ته وليدلې چې دلته راغلې، نو داسې راڅرګندېده چې ګوندې لوی غل او داړه مار يې راوستلی وي!» کله چې د ننه لاړو نو زما له پېښو څخه يې ځولانې ماتې کړې.

دا يو کوچنی جېل و، چې د پنجاب سياسي بنديان په کې بنديان وو. هلته دوه بارکه وو، چې يو يې د (سي- درجې) بنديانو لپاره او هغه بل يې د (سپېشل- درجې) بنديانو ته ټاکل شوی وو.

زه يې له (سي- درجې) بنديانو سره واچولم؛ ځکه چې زمونږ د ايالت د بنديانو لپاره بل کوم ځای نه وو. د خوښۍ ځای دا وو! چې د هغه ځای چپاتې د خوړلو وړ و!

سپرانډنټ ښه سړی و. ده به سياسي بنديانو ته پخپله غنم ورکول چې پخپله به يې مينځل، اوړه کول او پخول به يې. ترکاري به يې هم پخپله پخوله. زما لپاره په زړه پورې خو دا خبره وه چې په پښو کې مې ځولانې نه وې.

(د سي- درجې) ټول بنديان هندوان او سيکان وو. دوی ټول مهربان او له ما سره يې ښه وضعه کوله. دلته چې مونږ کوم کار کولو، هغه له رسۍ جوړولو څخه عبارت وو مګر ما دا کار نشو کولای او له سپرانډنټ څخه مې چې ښه سوچه مسلمان ؤ غوښتنه وکړه چې ما ته کوم بل کار راکړي.

د (سپېشل- درجې) د بارک بنديان زما په هويت خبر شوی وو او له سپرانډنټ څخه يې غوښتنه کړې وه، چې ما د دوی بارک ته وربدل کړي. ده يوازې د هغوی له دې پوښتنې سره موافقه ونکړه، بلکې يوه څرخه (د اوبدلو څرخه) يې هم راکړه او زما د بنديخانې کار يې له رسۍ جوړولو څخه ټکرانو اوبدلو ته بدل کړ.

دا پر ما د لوی څښتن ډېره مهرباني شوې وه چې زه دې جېل ته را بدل

شوم.

نه پوهېږم چې څومره موده به زه هغه بل جېل کې ژوندی پاتې شوی وم. پدې برسېره ماته به دا سې فرصت نه وو په لاس راغلی لکه کوم دلته چې ما وروستنۍ هڅه وکړه چی د پنجاب خلک پوره وپېژنم. زمونږ ټولو لپاره دا وخت پوره غنیمت شو چې د یوه بل په نظریو او عقیدو ځانونه بلد کړو. د دې ډلې زیات شمېر بندیان له ما څخه د مخه له جېل څخه ووتل او زما په هکله یې ورځپاڼو ته مقالې ولیکلې. دوی زما په هکله چې ولې لکه د (سي- درجې) بندي په شانته معامله راسره کېدله، پر حکومت دومره سخت احتجاج وکړ چې په پای کې حکومت مجبور شو چې د (سپېشل - درجې) بندیانو په شانته راسره معامله وکړي.

سپرانډنټ د لاهور مرکزي جېل ته د غاښونو د درمل لپاره واستولم. څنګه چې پخوا مې دې ته اشاره کړې ده، چې د ډېره اسمعیل خان خرابې ډوډۍ زما غاښونه او اووری ډېرې خرابې کړې وې. د دې ځای جېلوان خان علاوالدین خان پر نشنلستي بندیانو زړه سوی نه درلود. برخلاف د دې لپاره چې نوم یې د برتانویانو په ښو کتابونو کې لیکل شوی وای، نو له بندیانو سره یې ډېر ناوړه چلند کاوه. په عوض کې برتانویانو هم هغه ته نامحدود واک ورکړی و چې هرڅه به یې زړه غوښتل هغسې به یې له بندیانو سره کول. په خصوصي ډول د ده کړه وړه د سیاسي بندیانو په مخامخ کې ډېر سخت او بې ځایه وو.

په دې جېل کې د خلافت او کانګرس، دواړو جنبشونو غړي بندیان وو. لېکن که څه هم ما د خلافت په جنبش اړه لرله، زه د دې په ځای چې د دې جنبش له نورو بندیانو سره یو ځای یم په توقیف کې اچول شوی وم. په دې توقیفونو کې یو شمېر سیکان هم و. هغوی ځکه توقیف شوي وو چې هغه وخت چې په بارکونو کې وو نو د «سات سری اکل» یعنې خدای رښتیا دی، نغمه به یې ویله.

د سیکانو احساس ډېر پیاوړی او زورور وو، په کومه اندازه به چې

ورسره سخته رویه کېدله، په هغه اندازه به دوی لا پسې پیاوړي کېدل.
کله چې د خلافت د جنبش غړو ته ورڅرګنده شوه چې زه هلته تللی وم او توقیف وم، نو په دې هکله یې په ستر اعتصاب لاس پورې کړ. سمدلاسه په دا بله ورځ زه له سیاسي بندیانو سره یو ځای شوم او له آغا صفدر، ملک لعل خان، لالا لجپاتري او د کانګرس له نورو لیډرانو سره مې پیژند ګلوي پیدا کړه. دا وخت مونږ ته د خبرو اترو کولو لپاره ښه فرصت په لاس راغلی ؤ، له آغا صفدر او ملک لعل خان سره مې د قرآن مجید په لوست پیل وکړ، مګر ملک لعل خان دا کار پای ته ونه رسولای شو. نوموړي وویل چې ما قرآن مجید زما پخپل ډول تفسیر کاوه.
دی خوارکی په زړو لیارو بلد شوی وو او له خپله ځانه یې کومه مفکوره نه درلودله ! نو ځکه زمونږ آزاد تفسیر کولو پر ده هیڅ اغېزه ونکړله.
د لاهور جېل ته زما له راتګ څخه څو ورځې وروسته د غاښونو ډاکتر راورسېد. د هغه نوم پریمنات ؤ او څنګه چې ماته پوره راڅرګنده شوه، نوموړی د خورا لوړ کرکتېر خاوند و. زه یې د ډاکتر د کار کوټې ته وروستلم، غاښونه مې یې وکتل، ځیني یې ومینځل او ځیني یې وکښل. نوموړي زما د دغې ناروغۍ له تشخیص څخه وروسته نسخه راته ولیکله او مخصوصه ډوډۍ یې راته حواله کړه.
ما ډاکتر ته وویل چې د ده له دې خدمت څخه زه څومره راضي وم او ورته ومې ویل چې زه کولی شم چې ده ته فیس ورکړم. څنګه چې ما دا خبره ټینګه نیولې وه، نو ده راته وویل: «ګوره ! تا څه جرم کړی دی؟ ته دلته د خپل هېواد او اولس د مینې په لیار کې راغلی یې. زه به له خپل ځان څخه شرمېږم که له تا نه پیسې وغواړم. زه خو ستا په شانته دومره لویه سربښندنه نه شم کولای، مګر دا کوچنی خدمت مې له لاسه پوره دی.» وروسته یې خپل بکس واخیست او لاړ. څو ورځې وروسته بېرته د ډېره غازي خان جېل ته واستول شوم. زه د پولیسو تر نظارت لاندې په ریل کې یوړل شوم. دوبی او سره ټکنده غرمه وه. مونږ په شېر شاه سټېشن کې ریل بدل کړ، هلته یوه ډېره

په زړه پورې پېښنه وشوه.

د پولیسو افسر چې خورا ښه سړی و غوښتل یې چې ما د انتظار کوټې ته بوځي، مګر ور قلف ؤ. پولیس دروازه وټکوله. ور واز شو او مونږ یو سړی د ده له ملګرو سره ولید چې د غرمې خوب یې کاوه. د پولیس افسر زما د کېناستلو لپاره یوه څوکۍ راوړه، سلام یې وکړ او د باندې لاړ. د دغه سړي یوه تن ملګري هغه بادپکه چې له کوډرو څخه راځړېده وهله، مګر زما راتګ نومورړی سړی له خوبه ویستلو. ده لیدلي وو چې څنګه پولیس منصبدار ما ته څوکۍ راوړه او سلام یې وکړ، نو فکر یې کاوه چې زه نو کوم غټ منصبدار وم. د دغه سړي په پارټۍ کې یوه کوچنۍ نجلۍ هم وه. داسې څرګندېده چې دی ګواکې یو ښه مستانه سړی وي، چې هندوستان ته د خیر او خیرات غونډولو لپاره تللی وو. له هغه زیات شمېر صندوقونو، بوجیو او بکسونو څخه داسې قیاس کېدی شو چې ده پوره کار کړی وو. دا کوچنۍ نجلۍ زما خوا ته راغله او کېناستله. زه ډېر خوښ شوم ځکه چې له ماشومانو سره ډېره مینه لرم لږ څه وروسته چې د باندې لاړم، دا نجلۍ هم را پسې راغله. څنګه چې هغه سړی لا تر اوسه په دې چرت کې ؤ چې زه لوی افسر وم، نو څه یې ورته ونه ویل. لېکن د باندې کوم چا وپېژندلم او خلک را باندې راغونډ شول. کله چې هغه سړی وپوهېدو چې زه د «خلافت سړی» وم، نو یو ملګری یې راواستاوه چې هغه نجلۍ بېرته بوځي. نجلۍ له ما څخه نه تلله او په ژړا یې پیل وکړ. په پای کې د پولیسو افسر مجبور شو چې هغه د انتظار کوټې ته بوځي. زمونږ ریل راغی او د ډېره غازي خان جېل ته ورسېدو.

***

# په برطانوي جېل کې

د ډېره غـازي خـان پـه جېـل کـې زمـا سره پـه بـارکونو کـې ټـول هنـدوان او سـيکان او يـو څـه شـمېر مسـلمانان هـم وو. هلتـه يـو ښـوونکی چـې ګوردېتامـل نومېـده هـم و چـې خـورا د ښـه خـوی خاونـد وو او زمـا هـم ورسـره ژر مينـه پيـدا شـوه. کلـه چـې بـه يـې دعـا کولـه، نـو د شـانتي- شـانتي نـارې بـه يـې وهلـې، مګـر دې خـو ده تـه آرام نـه ورکـاوه. دی بـه پـه ډېره کوچنۍ خبره عصبي کېدلو.

کلـه چـې بـه سـيکان سره يـو ځـای شـول نـو دا نغمـه بـه يـې ويلـه: سـرجيو- تـاجيو- ميرا سـيک درم نـاجيو، (سـر بـه ورکـړم، مګـر خپـل د سيکولي عقيده نـه!). مـا بـه د دوی دې نغمـو تـه پـه ډېره مينـه غـوږ کلـک نيـولی و. زمـا پـه خيـال چـې ولـې سـيکان دومـره پخپـل ديـن او مـذهب لـه هنـدوانو او مسـلمانانو څخـه ټينـګ ولاړ دي؛ ځکـه چـې د دوی کتـاب (ګـرو ګرانـټ) د دوی پـه مـورنۍ ژبـه ليکـل شـوی دی. نـو لـه دې کبلـه د هغـه پـه مفهـوم او معنـی ښـه پـوهېږي. هنـدوان خپلـې دعـاوې پـه سانسـکريت ژبـه او مسـلمانان يـې پـه عربـي ژبـه کـوي او ډېـر هنـدوان او مسـلمانان بې لـه دې چې معنـی يـې ورتـه څرګنـده وي، عبـادت کـوي. پـه دې بنديخانـه کـې زمـونږ وخت ډېـر ښـه تېرېده. مـونږ څـه ناڅـه پـه دې خبره بريـالي شـو، چـې د هنـدوانو لـه مغـزو څخـه هغـه کـومې څېـرې چـې انګرېزانـو دوی تـه زمـونږ د پښـتنو پـه هکلـه ورکـړې وې وباسـو. يـوه ورځ يـوه هنـدو ملګـري ماتـه وويـل: «مـا اورېـدلي وو چېـی پښـتانه د بنيادمـانو وينـې څښـي! آيـا دا رښـتيا ده؟». مـا سمدلاسـه جـواب ورکـړ: «هو! هو!».

توبه! خدايه! هغه چيغه وکړله. بيا يې له ما پوښتنه وکړه: «نو ولې دوی دا کار کوي؟!». ما ورته وويل «دا وينې ډېرې خوږې وي!». توبـه څښـتنه! ده بيا

ناره کړه.

بیا نو ما ورځخه پوښتنه وکړه: «ملګریه ! له کومه دا فکر درته پیدا شوی دی؟» ته کوم وخت پخپله د پښتنو هېواد ته تللی یې؟ تا پخپله کوم پښتون لیدلی چې داسې کار یې کړی وي؟.

ده وویل نه ! ما څوک نه دي لیدلي. ما ورځنې پوښتنه وکړه: «نو چا تاته دا خبره وکړه؟» د ده جواب دا و چې ده په دې هکله کوم کتاب لوستلی و.

یوه ورځ مونږ واورېدل چې د جېل تفتیش (کرنیل ویډ) له جېل څخه لیدنه کوله. داسې مشهوره وه چې نوموړی ډېر بې باک شانتته انسان و او بندیان به یې پداسې سترګه لیدل، چې ګوندې دی د هغوی څښتن وي. کله چې جېل ته د ننه راغی، ویې لیدل چې هندوانو د ګاندي خولۍ په سر وې او سیکانو پګړۍ تړلې وې، نو په دې خبره جېلوان ته ډېر په غصه شو چې ده ولې هغوی ته داسې اجازه ورکړې وه. زمونږ سپرانډنټ چې پخپله هغه هم انګرېز و، مګر د ډېر ښه زړه خاوند و ورته ویې ویل: (کرنیل ! دا زما ګناه ده، دوی هیڅ ګناه نلري) مخکې له دې نه چې مفتش له جېل څخه ووځي، امر یې وکړ چې د هندوانو د ګاندي خولۍ او د سیکانو تور پټکي دې لرې شي، مونږ دا امر تر یوې ورځې وروسته پورې وانهورېده، ترڅو یې بیا هغه لیکلی را ته ولوست.

سردار خارک سنګ سپرانډنټ ته وویل: «صاحب ! مونږ خو د (سپېشل- درجې) بندیان یو اجازه لرو چې خپل کالي او جامې واغوندو، د مفتش دا امر خو له قانون څخه خلاف دی». سپرانډنټ وویل: «زه په دې هکله نو څه وکړم؟ زه یوازې مجبور یم چې او امر اجرا کړم. د دې لپاره غواړم چې تاسو دا خولۍ او لنګوټې ونه تړئ.»

مونږ له ده سره نوره خبره اوږده نکړله، ځکه چې پوهېدو چې بې ګټې وه. کله چې دی لاړ، مونږ سره راغونډ شو او په دې هکله مو په تصمیم نیولو لاس پورې کړ. په پای کې مو داسې پرېکړه وکړه چې څنګه چې مونږ ته د خپلې خوښې جامو اغوستلو جواز راکړ شوی، نو اوس داسې پېښه شوه چې دا جامې سیاسي ښه لري او مونږ یې باید واغوندو او هیڅوک دا حق نه لري چې

له دې کار څخه مو راوګرځوي. په دا بله ورځ کله چې ورځرګنده شوه چې هغوی تراوسه پورې خولۍ او لنګوټې په سر وي، نو یو یو به یې دفتر ته بیولو او ورڅخه لرې کولې به یې.
وروسته یې نو داسې فیصله وکړه چې بې له لنګه بل هیڅوک وانه غوندي.
د خولۍ او لنګوټې تړل د پښتنو د سیمو د خلکو لپاره کوم خاص ځانګړی مفهوم نه لري او زه یې هم له په سر کولو سره عادت نه وم. مګر ملګرو ته مې وویل، چې زه هم په دې کار کې له دوی سره برخه اخلم. ما ته یې اجازه نه راکوله او ویل به یې چې ګوندې دا کار په پنجابیانو پورې اړه لري، کله چې مستر ویلسن د ډېره غازي خان د جېل د کمیشنر مرستیال راغی، نو سردار خارک سنګ د نورو په وکالت هغه ته وینا وکړله. نوموړي ته یې وویل چې مونږ ته خو د خپلو جامو اغوستلو اجازه راکړل شوې وه، څنګه نا څاپه دا امر وګرځېد.
د کمیشنر مرستیال په جواب کې ورته وویل چې «ستاسو د خپلو جامو اغوستل د خولۍ او لنګوټې اغوستلو معنی نه لري.» سردار خارک سنګ ورته وویل: «آیا ستا منظور دا دی چې ګوندې خولۍ او لنګوټې جامې نه دي؟» د کمیشنر مرستیال جواب ورکړ چې (نه !... ).
مخکې له دېنه چې بل څه وویل شي، سیکانو په دې نغمه ویلو پیل وکړ: سات سري، ګل جو بولی سونیهال ! هوا له غړمبهار څخه ډکه شوه، د کمیشنر مرستیال دفتر ته وتښتېده او هلته یې پرېکړه وکړه چې باید بندیان د دې مظاهرې په هکله جزا وویني.
یوه روځ وروسته سپرانډنټ اعلام وکړ چې هرڅوک که د بندیخانې له اصول سره جامې وانه غوندي، جزا به ورکړل شي او محکمې ته به واستول شي. مګر په دې ټولو خبرو برسېره بیا هم سیکانو او هندوانو دې امر ته غاړه نه کېښودله. دوی محکمې ته واستول شول او هغوی یې په زیاتو نهه میاشتو بند محکوم کړل.

د (سي- درجې) بنديانو لکه زما په شانته هر يوه اجازه لرله چې په دريو مياشتو کې يو ليک واستوي او که به دوی ته هم کوم ليکونه رارسېدلي وو، نو يوازې يو ليک به له درې مياشتو وروسته ورکول کېدلو، نو په دې لحاظ زه له کور و کلي څخه چې څه به پېښه وي ډېر لږ خبروم. خپل خپلوان به مو هم چې زمونږ د ليدلو لپاره راتلل په درې مياشتو کې يې يو ځل د ليدنې اجازه راکوله. نو هغوی به حال احوال راکړ، خو په ورځني پېښو هيڅ خبر نه وم. وامې اورېدل چې په هغه شپو ورځو کې زمونږ جنبش په پوره فعاليت پيل کړی و. په هغه زمانه کې ترهغې نېټې پورې هم لا وګړي له غونډې کولو او ميټينګونو سره عادي نه و. په دې برسيره حکومت هم چاته د غونډو کولو اجازه نه ورکوله چې دې حقيقت هغوی نور هم وېرولي وو.

زما ملګرو داسې پرېکړه کړې وه چې داسې غونډې دې په جوماتونو کې وشي. د مثال په توګه داسې چې خلکو به د مولود شريف لپاره غونډه کړې وه، زمونږ د ټولنې مشر به دا موقع فرصت وبلله او هغوی ته به يې په لکچر ورکولو پيل وکړ. په دغو غونډو کې زمونږ د ښوونځي د ملګرو شمېر به تل تر تله اکثريت ؤ، زما زوی، غني اوس نهه کلن ؤ. ولې د قران مجيد تلاوت يې کولای شو. غني ښې بيانيې ورکولای شوې او د هرې بيانيې په پای کې به يې ويل: «ای خلکو! لاړ شئ او له دې حکومت څخه پوښتنه وکړئ چې ولې يې زما پلار په جېل کې اچولی دی! لاړ شئ او له حکومت څخه دا پوښتنه وکړئ چې هغه څه جرم کړی دی!»

دې خبرو زمونږ په خلکو ډېره اغېزه کوله. د دوی په زړونو کې به نوې لمبې بلې شوې. لنډه دا چې زما بنديخانه زما د اولس په ګټه تمامه شوه. دوی له تعليم او پوهې سره مينه پيدا کړه او د سياست په هکله هم ښه خبر و. زما بنديتوب په هکله به نو خلکو زمونږ ښوونځي ته په درنه سترګه کتل، حتی داسې چې د مرستې کولو وعدې يې ورکړې وې.

زما مور زما د بند په هکله ډېره خواشينې وه او هغه ليک کوم چې به مې يو ځل په درې مياشتو کې ليکلو، نو ضرور به زما د مور په نوم ؤ. د دې لوی

ارمان دا و چې يو ځل ما ووينې.

دا به زما ليدلو ته راغلې وه، خو اوس ډېره سپين سرې وه. د ېره غازي خان لرې ځای و او زمونږ ترمنځ د اندوس سيند هم پروت و. که څه هم په ما خورا ډېره ګرانه وه، مګر د دې اوږده سفر کړاوونه مې وربانديې نه لوربدل او لـه داسې تصميم څخه به مې را ګرځوله. کله کله به په دې فکر وم، چې کاشکې منع کړی مې نه وای، ځکه مخکې له دې نه چې له جېل څخه ووځم سترګې يې له دنيا څخه پټې کړې وې.

د ۱۹۲۰ کـال پـه وروستنيو ورځـو کـې ناروغـه شـوې وه او لـه څـو ورځـو ناروغۍ وروسته مړه شوه، مګر ماته چا حال ويلی نه ؤ. ما د دې د مړينې خبر په ورځپاڼه کې ولوست او ډېر خواشينی شوم.

کله چې له جېل څخه له وتلو نه وروسته کور ته راغلم، خور مې راتـه وويـل چې زمـا مـور د ژونـد پـه وروسـتيو ورځـو کـې زه ډېـر يـادولم. کلـه چـې يـې وروسـتۍ ګـړۍ راورسـېده ويـې ويـل: (غفـار چېرتـه دی؟ تـر اوسـه لا نـدی راغلی؟) دا کله چې زما نوم يې په ژبه وو، روح يې ورکړ.

د دېره غـازي خـان لـه تـولـو بنديانو څخـه زمـا د بند مـوده اوږده وه. زه درې کالـه بنـدي وم، حـال دا چـې د نـورو بنديانو بنـد لـه شپږ څخـه تـر نهـه مياشـتو پورې يا ډېر زيات يې يو کال اوږد ؤ. له شپږ مياشتو وروسـته ژر يـو ګـڼ شمېر بنـديان خـلاص شـول او کـه چېـرې د ګانـدي د خـولۍ د پـه سـر کـولـو لانجـه را پورته شوی نه وای، نـو دا پـاتې کسـان بـه هـم لـه بند څخـه وتلي و. کلـه چـې د هغوی زياتې نهه مياشتې د بند موده تېره شوه، سپرانډنټ ورتـه وويـل: «دا بـه ښه خبره وي، چې دا ځل روغې جامې واغوندئ، کـه نـه زه مجبور يم چې بيا جزا درکړم»

په دې وار هندوانو دا امر ومانه، مګر سيکانو ورڅخه بيا غاړه وغړولـه او په پای کې په نورو نهو مياشتو قيد محکوم شول. هغـو چا چې امـر يـې منلی وو، نو سپرانډنټ څخه يې غوښتنه وکړه چې کـوم بـل جېـل تـه يـې واستوي نو موږ يې هم دا کار وکړ.

کله چې سیکانو ته دا پوره څرګنده شوه چې که بل ځل بیا هم هغه امر ته غاړې کې نه ږدي، بیا بیا به پسې په زیاتي قید محکومېږي، هغه وو چې دوی هم بل جېل ته د بدلون غوښتنه وکړله او غوښتنه یې ومنل شوه.
اوس نو یوازې زه او سردار خارک سنګ پاتې وو، سردار خارک سنګ ډېر پیاوړی او د غره په شان ته د نه خوځېدونکي عزم څښتن وو. هیڅ چا ور باندې امر کولی نشو. د جېل مفتش یو ځل بیا په هغه پخواني کبر او دماغ جېل ته راغی، کله چې یې مونږ ولیدو نو یې وویل: (ښه ! خارک سنګ !)
سردار خارک سنګ په جواب کې ورته وویل: (بلې ! ویده !)
مفتش په دې خبره ډېر په غصه شو، امر یې ورکړ چې خارک سنګ دې په توقیف کې واچول شي او هغه شیدې چې ډاکتر ورته ماریلې دې ببېرته ورڅخه وګرځي.
خارک سنګ یې بوت او د جېل په روغتون کې یې په یوه کوټه کې توقیف کړ. زه او س د روغتون له څنګه بارک کې یوازې پاتې شوم. یوائینۍ لیار چې مونږ یو بل سره لیدلی شو، په دروازه کې یو سوری ؤ. سردار ډېر ضعیف شو او ما تر خپله وسه پورې هڅه کوله ترڅو لږ څه ډوډۍ له هغه کوچني سوري څخه ورکړم. سردار خارک سنګ ښه انسان ؤ. په دې ټولو توربختیو برسېره بیا هم ده خپل عزم او زړورتیا له لاسه ورنکړه. کله چې نور بندیان راغلل، نو د بندیخانې اداري پرېکړه وکړه چې زه له هغه بارک څخه ووځم، هغه وو چې زه یې د میانوالي جېل ته واستولم. په میانوالي کې بارکونه نه وو، یوازې د توقیف کوټې یې لرلې. هلته ډېر سیاسي بندیان وو، هلته د کانګرس، خلافت او ګرد کې باغ غړي بندیان وو. هغوی هم د لته د ډېره غازي خان له جېل څخه راغلي وو. د بندیخانې له اداري سره یې ښې اړیکې درلودل. د هندوانو، مسلمانانو او سیکانو لپاره جلا جلا پخلنځي موجود وو. د پاني پت مولانا اقبال چې د خلافت د جنبش غړی ؤ، زمونږ د پخلنځي مشر و. نو موړی خورا ښه اشپز و، مګر ده به په

قورمه کې ډېر سره مرچ (ترخه) اچول، چې زما له روغتيا سره موافق نه ؤ. پر مولانا اقبال پنځه کاله بند ختلی ؤ. اختر علي خان، د علاو الدين ظفر علي خان زوی هم دلته بنديوو. سپراندنټ د ټيټ کرکټر خاوند ؤ. په ميانوالي کې ډېره ګرمي وه، ډېر ځله به د خاورو او دوړو طوفانونه راپورته کېدل، مګر هلته يوه ښاه وه چې اوبه يې رڼې، سړې او په زړه پورې وې. سپراندنټ به بنديان د ښاه خوا ته بيول ترڅو هلته لمبا وکړي. ما ته به يې هر وخت ويل چې ورسره لاړ شم، مګر ما دا خبره نه منله.

په هغه ځای کې يو لوړ برج هم ؤ چې د ماښام لخوا به سپراندنټ او بنديان هلته کېناستل او خبرې به يې کولې. له ما څخه يې ډېر ځله غوښتنه وکړه چې له دوی سره ګډون وکړم، مګر ما به ورځنې غاړه غړوله؛ دا ځکه چې زه پوهېدم چې د جېل مشران که هرڅومره مهربان وي، خو بنديانو ته د انسانيت په درنه سترګه نه ګوري. دوی عجيب او غريب افکار لري.

يو ماښام اختر علي او ځينې نور بنديان په برج کې له سپراندنټ سره ناست وو چې د جېل ډاکتر راغی، مګر ټولې څوکۍ ډکې وې. کله چې ډاکتر را ورسېد هيڅوک ولاړ نشول او يوه تن هم څوکۍ ورته پرېنښوده.

سپراندنټ په ډېره بده ژبه هر يوه ته وويل چې ودرېږئ او لاړ شئ. د سپراندنټ دې وضعيت په ما ډېره بده اغېزه وکړه، که څه هم زه هلته نه وم، مګر دا سې څرګندېده چې په هغوی يې کوم تاثير نه وو کړی. په دا بله ورځ دوی ټول بيا د دفتر په دروازه کې ولاړ ؤ، پيره دار ته يې زارۍ کولې چې دوی ته اجازه واخلي چې په هغه برج کې کېني.

***

# ځمرۍ او مېږه

په ۱۹۲۴ کال کې زما د بند د مودې له پای ته رسېدو نه ځو ورځې په مخکې جېلوان راته وویل چې ما د پېښور جېل ته استوي. څنګه چې د پولیسو یوه ګزمه را سره وه، تر خیراباد پورې لاړو، هلته پلې شو او د پېښور پولیسو ته یې تسلیم کړم. له دوی سره یو موټر و په هغه کې مو تر مردان پورې سفر وکړ، مګر هلته یې ټایر پنچر شو او مجبور شو چې موټر په هغه ځای کې پرېږدو. له هغه ځایه وروسته مو ټانګه ونیوله، چارسدې ته ورسېدلو او زه یې کمیشنر ته چې هغه وخت دلاور خان ؤ، ور حاضر کړم. نوموړي پولیس ته وویل چې ما تر خپل کلي پورې ورسوي او خوشې مې کړي. کله چې اتمانزو ته را ورسېدلو، نو پولیسو زما ښوونځي ته ډېر نږدې پرېښوولم. د ښوونځي وخت هغه شېبه پای ته رسېدلی و او زده کوونکي د کورونو په خوا روان ؤ. کله چې یې زه ولیدلم، نو ټولو را منډه کړه او ترما چاپېر تاو شول.

خلکو تصمیم نیولی ؤ چې اټوک ته زما مخې ته د ښه راغلئ لپاره راشي. او له هغه ځای نه بیا باید پر آس اتمانزو ته راوستل شوی وای. مګر حکومت له داسې کار سره موافقه نه درلوده؛ دا ځکه چې فکر یې کاوه چې ګوندې دا خبره به زما شهرت زیات کړي. هغه و چې زه یې زما د بند د مودې له پای ته رسېدو څخه ځو ورځې د مخه خوشې کړم او د اولس پلانونه یې شنډ کړل. د درې کاله بند په موده کې چې زه په جېل کې وم، خلکو ښه په زړه پورې پرمختګ کړی وو.

زمونږ ښوونځي ډېره ترقي کړې وه چې د دې پرمختګ کریډټ باید ښوونکو او زده کوونکو ته ورکړای شي! زما له ګرفتارۍ وروسته دوی ټول وطن ته د خدمت کولو لپاره راوتلي وو. هغوی رښتیا هم زما له بند څخه پوره ګټه اخیستې وه او د دوی نه ستومانه کېدونکې هلې ځلې د ټولنې برکت وي.

زمونږ د ښوونځي کلیزه رانږدې وه، په حقیقت کې د هغه نمانځنه زما تر

خلاصون پورې معطله وه.
د تلین نمانځنه د زرګونو شمېر خلکو لخوا په تودو احساساتو ونیوله شوه او رښتیا هم ډېره بریالۍ وه.
ویناوې وشوې، شعرونه وویل شول، د اولس لخوا ما ته تحفې او د فخر افغان لقب راکړ شو. کله چې خلکو له ما څخه د وینا کولو غوښتنه وکړه ما د ځمرۍ د بچي کیسه ورته وکړه.
«یوه ورځ یوې ځمرۍ د مېږو په رمه حمله وکړه، ځمرۍ بلاربه وه او د حملې په وخت کې یې بچی راووړ.
ځمرۍ مړه شوه او بچی یې د مېږو له رمې سره پاتې شو. د ځمرۍ بچی ورو، ورو له مېږو سره لوی شو. له مېږو سره به ګرځېدو او د مېږو په شانته به یې رمباړې وهلې. یوه ورځ یو بل ځمری له ځنګله څخه راغی او په رمه ورګډ شو. ځمری هک پک پاته شو کله چې یې د ځمرۍ بچی ولید چې له رمې سره یې وارخطا وارخطا منډې وهلې، رمباړې یې وهلې او تر نورو مېږو ډېر وېرېدلی و. ځمري هڅه وکړه چې هغه ته ورنږدې شي، مګر ورڅخه یې منډې وهلې. په پای کې ځمری هغه له رمې څخه جلا کړ او د اوبو ډنډ ته یې بو تللو، د ځمرۍ بچي ته یې وویل، چې په اوبو کې وګوره ! چې خپله څېره ووینې. ته مېږه نه یې بلکې ته ځمری یې ! له ډار او رمباړو څخه لاس واخله او د ځمري په شان غړمبهار کوه. کله چې مې کیسه خلاصه کړه، نو ورته مې وویل: «ای پښتنو ! نو زه هم تاسو ته وایم چې: تاسو مېږې نه یاست بلکې تاسو ځمریان یئ !
تاسو ځمریان یئ، مګر تر ظلم او شکنجې لاندې لوی شوي یئ. د مېږو رمباړې پرېږدئ ! او د ځمریانو په شان ته غړمبهار وکړئ.»
زما دې خبرو به حکومت ډېر په غصه کړی وي، مګر په خلکو یې ښه اغېزه وکړه. کله چې غونډه پای ته ورسېده، ټول خپلو کورونو ته لاړل او د (ځمري په شان ته غړمبهار وکړئ) ټکو زور یې لا تر اوسه په غوږونو کې دی.
د ۱۹۲۲ کال د مې په میاشت کې زما مشرې خور غوښتل، چې حج ته لاړه شي، نوموړې له ما غوښتنه وکړه چې له دې سره لاړ شم ما ورسره ومنله، زه او

مېرمن مې دوا ړه له هغې سره ملګري شوو.
مونږ د کراچۍ څخه په بېړۍ کې لاړو. مونږ هڅه وکړه چې لومړی یا دوېمه درجه ټکټ واخلو، مګر ټول ځایونه مخکې له مخه نیول شوي وو. مونږ مجبور شو چې په درېیمه درجه کې سفر وکړو. ډېره تودوخه وه او درېیمه درجه ځوکۍ ډېرې ډکې وې، څنګه چې مو حرکت وکړ په ډېر لږ وخت د بحر ناروغي راته پیدا شوه او ډوډۍ مو نشوه خوړلی. کله چې بېړۍ د کامران ساحل ته ورسېده، لاړو او ډوډۍ مو وخوړله. سبا سهار بیا بېړۍ وخوځېده او دا وخت زه سخت والګي ونیوم. یو عرب چې د بېړۍ په دوېمه درجه کوټه کې یې ځای نیولی ؤ، په ډېره مهربانۍ یې خپل ځای ماته پرېښود او زما ژوند یې واخیست. کله چې جدې ته ورسېدلو زه پوره روغ شوم. یو لارښوونکی مونږ ته سترګې په لیار و او خپل کور ته یې بوتللو. مونږ له ځان سره ډېر صندوقان او کالي لرل، مګر د دې لارښوونکي له بې احتیاطۍ نه په بېړۍ کې پاتې شوي وو او مونږ ته په لاس رانغلل. ډېر امکان لري چې پخپله هغه غلا کړي وي.
په دې بله ورځ مونږ له جدې څخه مکې ته لاړو، په مکه کې ورځې ډېرې ګرمې وې او شپه یې خورا سړه وه. ډېر مسافر له دې ډول هوا سره بلد نه وو، ډېرې سختۍ وربانده راغلې. ځینې ډېر سخت ناروغ او مړه شول.
په دې کال سعودي عربستان د مکې حکمران مغلوب کړ او مکه یې نیولې وه. د سعودي عربستان حکومت دا ځای په توره اداره کاوو او ډېر ژر سوله ځای په ځای شوه. د مکې د حکمران د حکومت په دوره کې په هغه هېواد کې ډېره نارامي وه، غلو او لیار وهونکو به کاروانونه لوټل او ویل کېده چې حکمران پخپله په دې لوټ کې برخه درلوده. هغه کال د سعودي عربستان حکومت محمد علي، شوکت علي، ظفرعلي خان او نور مسلمان مشران بللي وو چې په هغه کنفرانس کې ګډون وکړي، کوم چې د ټولې نړۍ د مسلمانانو لخوا جوړ شوی ؤ. دوی هغه وخت چې زه په مکه کې وم راورسېدل. ما هم په

دې کنفرانس کې ګډون وکړ، مګر کوم د ویلو وړ ګټه او مقصد ورڅخه لاس ته رانغلو. هېڅ د غور وړ پرابلمونو په هکله خبرې ونشوې او د دې په ځای چې نږدې والی راشي، د کنفرانس نتیجه عدم توافق وه.

له حج څخه وروسته زما خور مدینې ته لاړه او له هغه ځای څخه بېرته کور ته ولاړه. زه لا تر دغه وخته پورې هم له والګي څخه پوره نه وم جوړ شوی، نو ما او مېرمنې مې پرېکړه وکړه چې طایف ته لاړ شو او هلته په هغه ښکلي هوا کې څو ورځې پاتې شو چې بېرته زما صحت ښه شي. هغه ټولې ښایسته ښکلې ماڼۍ چې ترکانو په طایف کې جوړې کړې وې اوس کنډې کپرې کنډوالې وې.

مونږ له ښکه مرغه په طایف کې له یوه پښتانه سره پېژند ګلوي پیدا کړه، نوموړي خپل کور ته بوتللو او هلته مو څو ډېرې آرامې او د خوشحالۍ شپې تېرې کړې.

هغوی دواړو، مېړه او ښځې په پښتو خبرې کولې، مګر د اولاد یې پښتو نه وه زده. یوه ورځ ما عجیبه پېښه ولیدله.

یوه ورځ کله چې مې د باندې چکر وهلو، یو اوږد ږیری سړی مې ولید، په ما پسې یې را ناره کړه: «هی! شیخه دلته راشه.» کله چې ورنږدې شوم، را ته وې ویل: «زه به تا ته د پیغمبر (ص) د ږیرې وېښته او یوه تیږه چې د هغوی پل ور باندې نقش شوی در وښیم.» ما په جواب کې ورته وویل چې زه دلته بل څه ته نه یم راغلی، بلکې د دې لپاره راغلی یم چې د پاک پیغمبر حوصله وګورم چې څنګه له مکې څخه په دې لویه سارا کې طایف ته د خلکو د مرستې کولو لپاره راغلی ؤ. او څنګه د طایف خلکو د هغه هرکلی وکړ؟ هغوی په تیږو ویشتلو، سپي یې ورپسې ښکارل او په وهلو یې پیل وکاوه. مګر په دې ټولو ناروا وو برسېره زمونږ لوی پیغمبر نا امیده نشو او په ځای یې خلکو ته دا سې دعا کوله: «ای څښتنه! د دوی لارښوونکی شې او

ستا په لیار یې برابر کړې !»
دغه سړي هیڅ جواب رانکړ. له طایف څخه مونږ بېرته مکې ته لاړو ، څو ورځې مو تېرې کړې. بیا جدې ته لاړو او له هغه ځای نه مو مدینې ته ځان ورساوه. زمونږ په کاروان کې شپږ تنه سړي او څلور تنه ښځې وې، په هغه زمانه کې موټر نه و. مونږ به د شپې لخوا په اوښانو سفر کاوه. زمونږ څلورخواوې لویه سارا ، سوله او آرامي وه. مونږ په مدینه کې څو ورځې تېرې کړې او له هغه ځای نه مو د بیت المقدس په لورې قصد وکړ. مونږ لومړی ربک ته چې کوچنی ښار دی لاړو. په هغه ځای کې مو یوه بېړۍ ونیوله چې سویز ته یې ورسولو. تر بیت المقدس پورې زمونږ د سفر وروستۍ برخه په ریل کې وه.
په بیت المقدس کې یوه ډېره خواشینې پېښه وشوه. زما مېرمن له زینې څخه ولوېده او مړه شوه. له هغې نه ماته دوه ماشومان یوه لور او یو زوی را پاته شول. څنګه چې ما د خپل ژوند ملګرې له لاسه ورکړې وه ډېر شوک شوم. له ځان سره مې پرېکړه وکړه چې له دې وروسته زما په ژوند کې د بل واده ځای پاته نه وو او ځان مې د هېواد او اولس خدمت ته وقف کړ.
ما ډېرې ورځې په فلسطین کې تېرې کړې او ډېر مشهور تاریخي ځایونه مې ولیدل، وروسته مې لبنان، سوریې او عراق ته سفرونه وکړل. زه نجف او کربلا ته لاړم او په بغداد کې له څو ورځو تېرولو وروسته مې بصرې ته سفر وکړ چې له هغه ځای نه په بېړۍ کې کراچۍ ته روان شوم.
دا ځل په بېړۍ کې زما سفر له لومړي ځل څخه ډېر مستریح و. په کراچۍ کې له څو ورځو تېرولو وروسته اتمانزو ته لاړم.

***

# په ژورنالېزم کې تجربې

زمونږ په ایالت کې یوه ځانګړې ورځپاڼه هم نه خپرېدله. نو لدې کبله ما قصد وکړ چې د پښتنو لپاره په پښتو ژبه یوه رښتینې ملي ورځپاڼه خپره کړم. ما ډېره هڅه وکړه، زیات کړاوونه مې وګالل هغه ؤ چې په ۱۹۲۸ کال د مې په میاشت کې زما هیلو مېوه ونیوه او د پښتون نومې ورځپاڼې لومړۍ ګڼه خپره شوه. (پاچا خان په پښتون ورځپاڼه کې خپلې نظریې او مفکورې خلکو ته وړاندې کولې او هم یې په هغې کې غوره اعلامیې خپرولې. دا ورځپاڼه د انګرېزانو د حکومت لخوا مصادره شوه او د پاکستان حکومت هم د خپرولو اجازه نه ورکوله. دې ورځپاڼې د خپل فعالیت په لنډه موده کې د ځان لپاره خورا ښه نوم کمایي کړ.) په هغه زمانه کې پښتنو د خپلې ژبې په هکله احساس نه درلود. یو اولس پخپله ژبه ژوندی او یاد پږي، بې له ژبې هیڅ یو ولس، اولس کېدای نشي. یو اولس چې خپله ژبه یې هېره کړې وي، هرو مرو به په پای کې د نقشې له مخ څخه پاکېږي.

دا ډېره د خواشینۍ خبره وه چې پښتانه به چې په هر ځای کې وو د هغه ځای محلي ژبه به یې زده کړه او د خپلې ژبې په هکله به ورسره هیڅ کومه مفکوره هم نه وه.

دوی هیڅ وخت خپله ژبه چاته ور زده نکړله. حتی دوی ته پخپله ژبه لوستل او لیکل هم په زړه پورې نه و. بې سوادان خو پرېږده، مګر کله چې به مې له پوه او سواد لرونکو خلکو څخه غوښتنه وکړه چې پښتون اخبار ته پخپله ژبه پښتو مقالې ولیکئ او ګډون په کې وکړئ، په جواب کې به یې ویل: «آیا په پښتو کې کله هم د غور وړ ګټور شی لیکل شوی دی؟» ما به په جواب کې ورته وویل: «که چېرته داسې کار شوی نه وي، نو دا خو د پښتو ژبې ګناه نه ده. د نړۍ هرې ژبې ته که ځیر شئ، دا به څرګنده شي چې زمونږ د ژبې له ستاندرډ څخه یې پیل کړی او مخ پر وړاندې تللې ده.

هیڅ ژبه روغه رمټه له آسمان څخه نه ده را لوېدلې. مګر نورو ژبو خو خلک لرل

چې د هغوی د پرمختګ او موروثي لپاره يې کار کړی دی. ژبه په سحر او جادو مترقي کېدای نشي، که څه هم زمونږ د انګرېزي ژبې پوهان داسې فکر وکړي. زمونږ له منځه چا هڅه کړې ده چې خپله ژبه ژوندۍ او پرمخ بوځي؟ د ژبې دښمنان خو طبعاً دا کار نه کوي. هغوی ته خو دا په زړه پورې خبره ده چې خلکو ته وايي چې: «دا د دوزخ ژبه ده !» کوم چا او کله له دغو د ښمنانو پوښتنه کړې چې: دوی څنګه خبر شول او څه وخت دوی په دوزخ کې وو؟.

کله چې د پښتون لومړنۍ ګڼه راووتله، د خلکو او اولس دا ډول روحيه وه. ورځپاڼه ډېره ژر مشهوره شوه، د ټول هېواد حتی د ټولې نړۍ پښتنو يې له لوستلو سره مينه پيدا کړه. په امريکې کې اوسېدونکو پښتنو نه يوازې د دې ورځپاڼې په پراخولو او مختهبيولو کې برخه واخيستله، بلکې پوره مادي مرستې يې هم وکړې. د امان الله خان په وخت کې د پښتون ورځپاڼه په افغانستان کې ډېره په زړه پورې شوه. دې ورځپاڼې خلک له خپلې ژبې څخه خبر کړل. دوی له دې ورځپاڼې سره ډېره مينه پيدا کړه، حتی ده او ملګرو يې د (پښتون ږغ) مجله راويستله، امان الله خان دومره پښتو غوښتونکی شو چې د حکومت ټولو کارکوونکو ته يې درې کاله وخت ورکړ چې پښتو زده کړي او له دې موده وروسته يې ملي ژبه اعلان کړي، انګرېزانو په دې کار کې د خپل ځان لپاره لوی خطر وليد. يوازې شپږ ګڼې يې لا نه وې راوتلې چې انګرېزان را پاڅېدل او مداخله يې وکړه.

انګرېزانو په افغانستان کې د خپلو داخلي مرتجعينو په واسطه خلک راوپارول او په هېواد کې يې ګډوډۍ را پورته کړې. هغوی امان الله خان په آرام پرېښود ترڅو چې ايټاليې ته لاړه، دوی کله په دې پوهېدل چې څنګه يې د ځان ريښې پخپله له بېخه ويستلې !.

امان الله خان تل تر تله د هېواد او اولس د نېکمرغه کولو په هڅه کې و. ټول کار او هڅه يې د خپل وطن ترقي او پرمختګ ته متوجه وه. مګر دوی يې پر ضد راپورته شول چې يې په ډېر ارمان د خپلې مينې او اولس څخه بېل کړ. داسې بې وفايي د خدای پر وړاندې ډېره لويه ګناه ده او له همدغه امله افغانان و ربړېدل. په دوی د سقاو زوی مسلط شو

او هېواد يې نيړدې وو چې ټکر ټکر شي. ګران افغانستان له تورو بدبختيو سره مخامخ شو. افغانستان چې د ترقۍ خواته يې ډېر اوچت ګامونه اخيستل په مونږ يې پوره اغېزه کړې وه او دا خبره نو طبعاً د انګرېزانو لپاره د هضم کولو او منلو وړ نه وه. مونږ په افغانستان کې د دې ويجاړو د مخ نيولو لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې، په مالي او معنوي مرستو مو لاس پورې کړ ترڅو چې په پای کې نادر خان راغی. زه هغه وخت هندوستان ته هم د افغانستان لپاره د مرستې غوښتنې لپاره لاړم.

په پنجاب کې مې له ډاکتر اقبال، ظفرعلي خان، ملک لعل خان او نورو مسلمانانو مشرانو سره کتنه وکړه. له ډاکتر اقبال سره زما له ليدنې څخه وروسته په لاهور کې زما د خلافت د جنبش ملګرو را څخه پوښتنه وکړه: «ولې ته د ډاکتر اقبال ليدلو ته راغلی وې؟ هغه ډېر بېکاره سړی دی، هغه يوازې يو شاعر او ليکوال دی، کوم کار يې چې له لاسه پوره دی يوازې د څو ټکو او شعرونو ليکل دي.» زه نو هک حيران پاتې شوم کله چې را څرګنده شوه چې پنجابي (اوس پاکستاني) ليډرانو او مطبوعاتو چې د ډاکتر اقبال سيوري به يې هغه وخت چې ژوندی و په ټوپک ويشتو، اوس يې شپه او ورځ مداحي کوي. حتی اوس لا داسې هم وايي چې نوموړی د پاکستان جوړوونکی و.

دا د پنجابيانو ګناه نه ده. هغه اولسونه چې ژوندي وي، د ژونديو درناوی کوي او کوم اولسونه چې مړه وي نو د مړو په درناوي پسې سر وي. زمونږ اولس هم تل ترتله د مړو درناوی کړی دی او په دې خبره واقف نه يو چې زمونږ د ژوندو په منځ کې خورا لوی خلک همدا اوس هم شته دي.

له لاهور څخه زه لکنهو ته لاړم، کوم ځای کې چې د کانګرس غونډه جوړه شوې وه. ګاندي او جواهرلال نهرو هم په دې غونډه کې برخه اخيستې وه، ما هم په کې ګډون وکړ. دا ۱۹۲۸ کال و او د لومړي ځل لپاره ما هغوی دواړه وليدل. تر دې ړومبی ما له دوی سره نه پېژندل، مګر زما ورور ډاکتر خان صاحب له جواهرلال نهرو سره ډېر نږدې ملګری ؤ، ځکه چې دوی دواړو په لندن کې په يوه پوهنتون کې لوست

کاوه. وروړ مې ما ته یو پېژندلیک راکړ چې له نهرو سره و پېژنم. چودري خالق الزمان د غونډې له پای ته رسېدو څخه وروسته نهرو ته بلنه ورکړې وه او زه یې هم مېلمه کړم. له ډوډۍ خوړلو وروسته ما او نهرو د افغانستان په هکله اوږدې خبرې وکړې.

له لکنهو څخه زه ډیلي ته لاړم. د جمعې په ورځ کله چې د لمانځه د ادا کولو لپاره جومات ته لاړم، هلته مې له مولانا محمد علي سره لیدنه وکړه. نوموړی خورا ښه سړی ؤ او له ما سره یې تر پایه پورې ښې وضعې کړې دي.

د ده وروړ شوکت علي بل ډول سړی ؤ. ده په محمد علي باندې بر لاس درلود او هغه ته به یې غلطه لارښوونه کوله. په دې خبره زه خواشینی شوم او هڅه مې وکړه چې د مولانا محمد علي له لیدنې څخه لاس واخلم. یوه ورځ یې کله چې زه ولیدم، نو زما خواته راغی او په خندا یې راته وویل: «مونږ په رښتیا سره په پښتنو پسې سر نه ګرځوو» ما یې مقابل کې سم جواب ورکړ او ومې ویل: «مونږ هم پداسې مشرانو چرت نه خرابوو، کوم چې د نورو پر خبرو په غلطه لیار روان وي» ما ورپسې زیاته کړه «مولانا صاحب! هغه څه چې ته یې د امان الله خان په هکله وایې، کټ مټ داسې دي لکه څنګه یې چې انګرېزان وایي!» داسې څرګنده شوه چې دې خبرې وربانديې اغېزه وکړه، څنګلې یې زما په اوږو واچولې او ویې ویل: «وروره رښتینې خبرې به راته وکړې؟» وروسته یې زه کور ته د ځان سره بوتللم.

رښتیا خو داسې خبره ده چې امان الله خان مخکې له دې نه چې ایټالیې ته لاړ شي، د شوکت علي خان لخوا مېلمه شو او د هغه په ویاړ یې جذابې وینا وې وکړې. کله چې مېلمستیا پای ته ورسېده، نو خلکو ما ته وویل چې څنګه چې امان الله خان شوکت علي ته دومره پیسې چې یې توقع کوله نه وې ورکړې، نو له هغه څخه سخت خواشینی شوی وو.

***

# خدايي خدمتگاران

څو ورځې وروسته کله چې بېرته اتمانزو ته راغلم، د نادر خان له لوري يو تلګرام راغی چې په کې ويلي وو چې کابل مونږ ونيو. زه خورا ډېر خوشحاله شوم.

د دې لپاره چې دا بريالیتوب مو نمانځلی وي، مونږ له دوو خواوو په مارش پيل وکړ، يو د هشتنغر له شمال څخه او بل د سهېل له لوري. دواړه خواوې مارش کوونکې په اتمانزو کې سره يو ځای شول او هلته مو غونډه وکړه. ډېرې ويناوې او د هېواد پالنې شعرونه وويل شول، ما هم وينا وکړه. ما پښتنو ته وويل: «د هېواد د ترقۍ لپاره دوه لیارې دي، يوه د دين لیاره ده او بله يې د هېواد پالنې (يا ترياتزم) لیاره ده. که تاسو بې تعليمه هم ياست، مګر د اروپا او امريکا په هکله مو اورېدلي دي. د هغو لويو وچو او هېوادونو اولسونه مذهبي نه دي، خو د هېواد پالنې، اولس پالنې او اجتماع توده مينه ورسره ده. وګورئ چې هغو څومره پرمختګ کړی او کوم ځای ته رسېدلي دي. بيا نو ځان ته وګورئ! مونږ لا تر اوسه پخپلو پښو درېدلی نشو. د هغوی د ژوند سويې ته ځير شئ او بيا خپل ژوند ته وګورئ! که مونږ او زمونږ هېواد په ورانېدو دی دا ځکه چې له مونږ سره ټينګه مذهبي عقيده نشته، که مونږ بدمرغه يو دا ځکه چې زمونږ سره د هېواد پالنې، اولس پالنې او اجتماع پالنې رښتينې توده مينه نشته ده، لوی انقلاب را روان دی، مګر مونږ لا خبر نه ياستو!» زه اوس اوس له هندوستان څخه بېرته را وګرځېدم او هلته مې يو شی وليد چې ډېر تاثير يې راباندې کړی دی. ما دا وليدل چې هلته ښځې او نر ټول د هېواد او اولس په خدمت کې اخته دي، خو دلته؟ ښځې خو پرېږده، مګر مېړونه هم له کار او خدمت څخه غاړې غړوي. دوی داسې څرګندېږي چې ګوندې د اولس او اولسوالۍ په معنی خبر نه وي!

«انقلاب د سېلاو په شان ته دی، کله برکت راوړي او ځنې وخت تور بختي هم ورسره وي، هغه نېکمرغي او آبادي راوړي او کله کله يې ويرانۍ ويجاړۍ ملګرې وي. يوازې هغه اولس چې ښه ويښ وي او خلک يې له خپل ځانه د اولس په توګه خبر وي او ټول لکه د ورونو په شان ته په سوله او آرامۍ کې ګډ

ژوند کوي، نو يوازې او يوازې هغه ملت به، درته وايم ! له انقلاب څخه ګټه واخلي او نېکمرغه به شي !». «انقلاب د سېلاو په شانته دی، که خلک ويښ او بېدار وي، نو دوی به د سېلاو راتلو ته چمتو وي. کله چې سېلاو راشي، نو ټول اولس به راووځي او له هغه سره به غاړه په غاړه مخ پر وړاندې لاړ شي. او د سېلاو طغيان چې کله ټيټ شي، نو خړوبې ځمکې پاتې شي. انقلاب هم په دې ډول کله چې تېر شي، نو د هېواد د جوړولو او آبادولو لپاره ليار هواره کړي. مګر که چېرې خلک ويده، بې اتفاقه او د هېواد مينه يې په زړونو کې نه وي، نو ټول ملت به کله چې د انقلاب سېلاو راشي، ډوب او جارو شي.»

ای پښتنو ! د نړۍ پرمختللو هېوادونو ته يو ځل وګورئ ! ايا داسې فکر کوئ چې د هغوی نېکمرغي له اسمانه رالوېدلې ده؟ مګر نه ! او تاسو هم په دې ښه پوهېږئ چې زمونږ نېکمرغي به هم له آسمانه راکښته نشي ! تاسو به پوښتنه وکړئ چې دا نو څنګه خبره ده، چې دوی نېکمرغه شوي دي او مونږ په توره تياره کې يو؟ زه به تاسو ته دا خبره وکړم ښه غوږ راته کېږدئ. د دې نېکمرغۍ راز خو دا دی چې په هغو هېوادونو کې ښځې او نر شته دي چې خپل شوقونه، فېشني ژوند او خوشحالۍ يې د اولس له نېکمرغيو څخه جار کړي دي. که په مونږ کې هم داسې نر او ښځې پيدا شي، نو بې له شکه به مونږ هم نېکمرغه شو.

«دا مو په ياد وي: که اولس نېکمرغه شي، نو په هر چا به تاثير واچوي - هر يو سړی، ښځه او ماشوم به له هغه څخه ګټه واخلي. داسې خيال مه کوئ چې ګوندې تاسو د ځان مړولو په توګه به اولس نېکمرغه شي. دا نشي کېدلای. په نورو هېوادونو کې اولسونه داسې فکر کوي چې هېڅوک له ځانه پوره ندی، مګر زمونږ خلک هر يو د ځانګړې نړۍ خوبونهويني، لکه د څلور بولو په شانته. هر څلور بول د ژوند کولو لپاره ځای پيدا کولای شي، ملګری پيدا کولای شي او اولادونه راوړلای شي. نو آيا مونږ ځان ته اشرف المخلوقات ويلای شو، چې يوازې هغه کار چې څلور بول يې کولای شي مونږ يې هم وکړو او بس؟ ! له دې کبله زه غواړم چې ستاسو ککرو کې دا خبره کېنوم چې: که غواړئ چې هېواد او اولس مو نېکمرغه شي، نو له ځانځانۍ او د يوه ځان لپاره

د ژوند کولو څخه لاس واخلئ او د اجتماع لپاره په ژوند کولو پیل وکړئ، دا یوازې د نېکمرغۍ او پر مختګ لیار ده !»

ما ته ویل شوي وو چې امان الله خان پر ځان د افغانانو انقلابي پاچا نوم ایښودلی ؤ. او رښتیا هم دا خبره ده چې امان الله خان هغه څوک ؤ، چې مونږ ته یې د انقلاب درس راکړ. مګر مونږ له هغه نه پوره او په زړه پورې ګټه وانه خیستله؛ دا ځکه چې مونږ ویده وو.»

دې غونډې په خلکو باندې زیات تاثیر وکړ.

په دا بله ورځ یو ځوان راغی زه یې ولیدم او څرګندونه یې کړه چې غواړي د پښتنو او اجتماعي ریفورم د خدمت کولو لپاره سازمان (ټولنه) جوړ کړي.

په حقیقت کې مونږ مخکې له مخه یو سازمان چې اصلاح الافاغنه نومېده او د خلکو د پوهولو او تعلیم ورکولو په خدمت کې وو، درلود. زمونږ په فکر دا ډېره غوره خبره وه چې هغه سازمان دې په مخ یوړل شي او خلکو ته دې تعلیم ورکړي.

مګر مونږ داسې فکر وکړ چې زمونږ په ټولنه او اولس کې ډېرې نیمګړتیاوې موجودې وې. د دې لپاره چې دا اجتماعي نیمګړتیاوې لرې او مخنیوی یې وشي، د یوې ټولنې جوړولو ضرورت احساس کېده، هغه وو چې د خدايي خدمتګارانو جنبش منځته راغی.

مونږ په لومړي ځل نه غوښتل چې دا سازمان دې سیاسي بڼه ولري، مګر برتانوي ظلم او تېري مونږ مجبور کړو چې له سیاست سره کار ولرو. ممکن دا عجیبه غوندې ښکاره شي، خو رښتیا دا ده چې برتانیې زمونږ لپاره لیاره هواره کړه چې له کانګرس سره نږدې شو.

د پښتنو ترمنځ بې اتفاقي، د ښمني او اجتماعي ورانکارۍ طوفاني شوې وې. کورنیو به پخپلو منځونو کې جګړې شخړې کولې، یو بل به یې محکمو ته کشول او ډېرې پیسې به د دې په ځای چې په ښه ډوډۍ او جامو یې مصرف کړي په دې بې ګټې لیارو لګولې. د پیسو لګونه خو لا دومره لویه خبره نه وه، مګر زمونږ طلايي وخت د دې په ځای چې د هېواد په آبادۍ، تجارت او کرهڼه کې یې په کار واچوو، چټې بې ځایه ضایع کېدلو. د ټولو دغو نیمګړتیاوو په

هکله مونږ اورېدي خبرې وکړې او په پای کې په ۱۹۲۹ کال کې مو هغسې یو سازمان چې مونږ غوښتلو جوړ کړ. پرېکړه مو وکړه چې د دې سازمان د غړو نوم دې «خدایي خدمتګاران» وي.

له داسې نوم غوره کولو څخه زمونږ منظور دا وو چې پښتانه د خدای په نوم د هېواد او اولس خدمت کولو ته راوبلو. دا هغه مفکوره او مینه وه چې له بده مرغه د پښتنو په منځ کې نه لیدل کېدله. بل منظور دا و چې پښتنو به له شدت څخه کار اخیست او دا شدت هم د دوی د خپلو هېوادوالو، خپلو اولادونو او خپلو نږدې خپلوانو په مقابل کې ؤ. دوی تل تر تله چمتو وو چې خپلو ورونو ته تاوان ورواړوي. د دوی لپاره د داسې لیارو چارو اوښتون خورا ضروري کار ؤ. نو د خدایي خدمتګارانو د جنبش کړنلاره دا سمونه وه.

هر چا به چې د خدایي خدمتګارانو د غړیتوب غوښتنه وکړه، نو په دا لاندې ډول به یې لوړه کوله:

«زه یو خدایي خدمتګار یم، خدای پخپله د خدمت نیازمند ندی، د هغه خدمت د هغه د مخلوق په خدمت کې دی، زه وعده کوم چې د خدای په نوم د بشریت خدمت وکړم.» «زه وعده کوم چې له شدت او انتقام اخیستلو څخه به لاس واخلم. زه تعهد کوم چې د هغه چا په مقابل کې چې له ما سره ظلم او تېری وکړي، حوصله وکړم.»

«زه وعده کوم چې له شخړو کولو، جګړې او د اولس ترمنځ له دښمنۍ پیدا کولو څخه ځان وژغورم.»

«زه تعهد کوم چې له هر پښتانه سره به د ورور په شانته چال چلن وکړم.»

«زه وعده کوم چې له هر ډول ضد - اجتماعي کارونو څخه ډډه وکړم».

«تعهد کوم چې ساده ژوند وکړم او له ناروا لیارو او کارونو څخه ځان وساتم».

«وعده کوم چې ښه خویونه زده کړم، له بدو اعمالو پرهېز وکړم او خپل ژوند په تنبلۍ او بېکارۍ کې تېر نکړم. زه تعهد کوم چې لږ تر لږه د ورځې دوه ساعته په اجتماعي کارونو او خدمت مصرف کړم».

***

# غونډې او کنفرانسونه

د ۱۹۲۸ کال د دسمبر په میاشت کې په کلکته کې د خلافت د جنبش غونډه وشوه چې ما هم په هغې کې برخه واخیستله. په کلکته کې ډېر پېښوریان هم وو چې مېوه یې پلورله. کله چې د خلافت غونډه پیل شوه، داسې څرګندېده چې پنجابیانو له محمد علي او شوکت علي سره مخالفت کاوه. پنجابیان عجیبه خلک دي. زه غواړم چې د هغوی یو مثال درکړم: یوه ورځ د زمیندار په دفتر کې ما اختر علي خان ته وویل: «ګوره! زه او ته ښه ملګري یو، داسې نه ده؟ نو که په پنجاب کې نورې ورځپاڼې په ما پسې لیکنې کوي، نو لږ تر لږه خو زه یو ملګری لرم چې ما د پنجابیانو سترګو ته بد ورونه پېژني!» ده وخندل او ویې ویل: «مونږ ورځپاڼې لیکونکي له پنجابیانو او یا نورو لیډرانو سره کوم زړه سوی نه لرو، هغه څه لیکو کومه چې خوندوره کیسه جوړولی شي».

پنجابیانو یو ماښام په کلکته کې په یوه بله غونډه کې هم داسې لوبه وکړه. زه په پلیټ فارم کې له نورو مشرانو سره ناست وم. یوه پنجابي مشر خبرې کولې. ده د خپلو خبرو په ترڅ کې پر محمد علي چې زما تر څنګه ناست ؤ، انتقاد وکړ. محمد علي دا ونه زغملی شوه او ډېر په غصه شو. ولاړ شو او خبرو کوونکي ته یې څو ترخې خبرې وکړې. هغه وو چې یو بل پنجابي چې په هغه بل ګوټ کې ناست وو، ناڅاپه په پښو نېغ ودرېد، یو چاقو یې له جېبه راویوست او په شخړه یې پیل وکړ. په پلېټ فارم کې غوغا جوړه شوه.

له نېکه مرغه په دې غونډه کې ډېرو پښتنو ګډون کړی وو. مونږ ټول ولاړ شو او ومو کولای شول چې د جګړې مخه ونیسو. که مونږ هلته نه وای، نو ډېر امکان یې درلود چې محمد علي به ډېر سخت ژوبل شوی وای. داسې څرګندېده چې محمد علي هندوانو ته په بده سترګه کتل، د خلافت د جنبش په غونډه کې یې په یوه وینا کې هغوی ته ډېرې ناوړې خبرې کړې وې او په ډېره بې اعتنايي یې د هغوی ټولنه، رواجونه او لیارې غندلې وې.

دا ډول انتقاد د یوه لیډر لپاره خورا سپک شان ته کاروو او زما په نظر کې یې

کنفرانس بې خونده کړ.
دا لومړی ځل و چې ما د کانګرس په غونډه کې برخه اخیستلې وه، په دې غونډه کې ګاندي وینا کوله. د حاضرینو په منځ کې یو کبرجن ځوان د ده خبرې ماتولې او ګډوډي یې جوړوله. مګر ګاندي په غصه نشو، یوازې یې وخندل او خپلې وینا ته یې دوام ورکړ. دی ځوان څو ځله دا کار تکرار کړ، مګر ګاندي به په خندا شو. دې خبرې په ما ډېره لویه اغېزه وکړه او کله چې استوګنځي ته راغلم، په دې هکله مې خپلو ملګرو ته معلومات ورکړل، ما ورته وویل چې: «که چېرې زمونږ مشران هم لکه د ګاندي په شان حوصله من او آرام وي، شک نشته چې په مونږ به هم هیڅ څه بده اغېزه ونکړي». مونږ له ځان سره پرېکړه وکړه چې باید دا خبره محمد علي ته وکړو، هغه وو چې څو تنه د ده کور ته ورغلو. ما ورته وویل: «محمد علي صاحب! مونږ د یوه مشر په توګه ستا درناوی کوو. غواړم چې تا ته د خپلې پرون ورځې لیدلې تجربې په هکله څه ووایم. ما پرون د کانګراس د یوې کمېټې په غونډه کې ګډون وکړ او د ګاندي وینا مې واورېدله. یوه ځوان سړي په ډېره خرابه توګه غوښتل چې غونډه ګډوډه کاندي، مګر ګاندي یوازې په خندا تېره کړه او وینا یې کوله. ګاندي په غصه نشو، حتی په خبرو کې یې هم احساساتي بدلون رانغی.
ته زمونږ لیډر یې. مونږ ټول ستا خولې ته ګورو، ته زمونږ مشر یې. زه باور لرم چې ته به نور هم لا پیاوړی شې چې لکه د ګاندي په شان خپل ځان کنټرول کړې او له حوصلې څخه کار واخلې». محمد علي صاحب لکه څنګه چې مونږ هیله کوله داسې انعکاس ونکړ، بلکې ډېر زیات په غصه شو. «تاسو پښتانه! تاسو څوک یاست چې له وروسته هم وروسته پاته یاست او بیا ما ته راځئ چې ګوندې څنګه رویه وکړم؟». وروسته راپاڅېد او له کوټې څخه د باندې لاړ، دې چال چلن مونږ ډېر خواشیني کړو.
له دې نه وروسته ما نه غوښتل چې د خلافت غونډو ته لاړ شم، هغه وو چې بېرته کور ته راغلم. د ۱۹۲۹ کال د ډسمبر په میاشت کې بیا په لاهور کې د کانګرس غونډه جوړه شوه. زمونږ د ایالت ډېر خلک په هغه کې د ګډون لپاره

هلته لاړل. زه هم لاړم، په غونډه کې مونږ ته وویل شول چې د پښتنو ښځې هم د هېواد او اولس په خدمت کې لوی رول لوبولی شي او هغوی باید دا کار په ډېره مینه پر غاړه واخلي. مونږ د ایالت ټولو خلکو هلته غونډه وکړه ترڅو په دې هکله خبرې او فیصله وکړو. د کانګرس په دې غونډه کې داسې پرېکړه هم وشوه چې مونږ ټول باید د دې منطقې د آزادۍ لپاره کار وکړو. کله چې بېرته خپلو کورونو ته راغلو، نو په ډېره مینه مو په فعالیت پیل وکړ. مونږ کلي په کلي وګرځېدو، له خلکو سره مو خبرې وکړې، جرګې مو جوړې کړې او د خدايي خدمتګارانو د جنبش لپاره مو نوي غړي پیدا کړل. جنبش د ایالت په ټولو ګوټونو کې پراختیا وموندله او ډېر ژر يې داسې شهرت پیدا کړ چې کوم ځای ته به چې تللو، سمدلاسه به هلته جرګې جوړېدلې او د خدايي خدمتګارانو غړي به زیاتېدل. په ډېر لږ وخت کې څه ناڅه په هر کلي کې دا کار وشو.
زمونږ د جنبش غوره ټکی دا و چې د خلکو له زړونو څخه د برتانيې د استبداد وېره وویستله او هغوی ته يې نوې هیلې او امیدونه راپیدا کړل.
سي، آی، ډي او پولیسو یوازې دا کار نه کاوه چې زمونږ دا چال چلند تر نظر لاندې وساتي، بلکې برتانویانو پخپله زمونږ په غونډو کې ګډون کاوه.
دوی زمونږ د جنبش دې چټک پرمختګ او انقلاب ته هک حیران پاتې ؤ. کله کله به يې له ما پوښتنه کوله چې ما پر پښتنو څه جادو کړی ؤ. دوی پخپل مقابل کې د لوی خطر پیدا کېدلو ته متوجه و.
د څو میاشتو لپاره حکومت په ډېره حوصله مونږ څارلو، کوم اقدام يې ونکړ. د دغو څو میاشتو په اوږدو کې مونږ هم د جنبش د پراخولو لپاره شپه او ورځ کار وکړ ترڅو ریښې د ایالت ډېرو لرې ګوټونو ته وغزوو. د ټولنې له جوړېدو څخه درې میاشتې وروسته د کمیشنر لخوا امر راغی: «دا ټولنې چې تاسو د هېواد په هر ګوټ کې جوړې کړې دي، باید بې له درنګه لاس ځنې واخلئ!» په جواب کې يې ما ورته وویل: «زمونږ ټولنه اجتماعي ټولنه ده، کومه سیاسي بڼه نه لري».

ما زیاته کړه: «رښتیا خبره خو دا ده چې کوم کار چې مونږ یې کوو، باید حکومت یې وکړي. که چېرې یې حکومت نشي کولای او مونږ دا کار پر غاړه واخلو، نو ضروري دا ده چې د دې په ځای چې مونږ منع کړئ، باید مرسته راسره وکړئ.» کمیشنر وویل: «دا خو جوته خبره ده چې اوس ستاسو کار اجتماعي دی، مګر د وروسته لپاره ته څنګه ګارنټي کولای شې چې کله چې پښتانه وروزل شي، بیا به زمونږ د لیارې خنډ نشي.»

ما ورته وویل: چې د خلکو ترمنځ ګارنټي باید پر باور ولاړه وي: «که چېرې تاسو د پته چمتو یاست چې پر مونږ باور وکړئ، مونږ به هم پر تاسو باور وکړو او په مقابل کې به مو ونه درېږو. زه وینم چې دې هېواد ته انقلاب راتلونکی دی. انقلاب د سیل په شانته دی. مونږ غواړو چې پښتانه د راتلونکي سېلاو لپاره چمتو کړو ترڅو یې ډوب نکړي.» لیکن برتانویانو پر مونږ باور ونکړ. د ۱۹۳۰ کال د اپریل په میاشت کې په اتمانزو کې د خدایي خدمتګارانو اولسي غونډه وه، له غونډې څخه وروسته زه پېښور ته روان وم، چې په نکې تانه کې د پولیسو لخوا ونیول شوم او چارسدې ته یې بوتللم. زمونږ رییس میان احمد شاه، عبدالاکبر خان زمونږ سکرتر، سالار سرفراز خان او حاجي شهنواز خان هم نیول شوي وو. زما نیولو یوه غوره نتیجه درلوده، چې غواړم یادونه یې وکړم. کله چې زه په نکې تانه کې ونیول شوم، له ما سره نور رضاکار خدایي خدمتګاران نه ؤ. د نکې تانې خلک ډېر خواشیني شول او ویې ویل: «ډېر شرم دی چې انګرېزانو پاچا خان زمونږ قریه کې ونیو.» دوی دا خپل قهر او غصه پداسې ډول څرګنده کړه چې زما د ډېرې خوښۍ سبب شوه. دوی ټول خدایي خدمتګاران شول او دې پېښې د جنبش شهرت خورا زیات کړ.

او دې خبرې زه څو درجې د برتانویانو په سترګو کې هم جګ کړم. د اپریل درویشتمه نېټه وه. د قصه خوانۍ د بازار پېښه د یادولو وړ او دومره ارزښت لري چې باید د آزادۍ په تاریخ کې په طلایي ټکو ولیکله شي. کله چې برتانوي زرهدار موټر د خلکو د جنبش تیتولو لپاره ښار ته راغلل، نو مسلمانان، هندوان او سیکان ټول اوږه په اوږه ودرېدل او یو بشري دېوال یې جوړ کړ.

پوځيانو خپل موټر سيخ په دې ديوال راوستل، مات يې کړ او څو څو کسان ووژل شول. ناڅاپه يوه ځوان يوه موټر ته اور وروا چاو، د اور لمن اوږده شوه او ځلور موټر له ايرو سره برابر شول. وروسته پوځيانو په ډزو بنا وکړه او په هر لوري يې ګولۍ و اورولې. خلکو په ډېره زړورتيا مقابله وکړه او ډېرو زياتو ځانونه قرباني کړل.

دا هغه د يادونې ورځ ده چې د ګروالي پوځونو پرېکړه وکړه چې په اولسونو ډزې ونکړي. د هغو هېواد پالانو قرباني او د ګروالي پوځونو زړورتيا به هيڅکله د اولسونو له ياده ځخه ونه وځي. له دې تاريخي ورځې وروسته، د اپريل درويشتمې، يو ځل بيا د مۍ د مياشتې په يود برشمه نېټه ډزې نه وې شوې. دا لومړۍ د دوه ماشومانو په وژولو پيل شوې چې مور يې ټپي شوه او پلار يې له دولتي ماموريت ځخه وشړل شو.

زما د نيولو خبر لکه د لبوني اور په شانته په خلکو کې خپور شو. زما ځنې ملګري پر همدې ورځ په پېښور کې ونيول شول، کله چې دا خبره ځرګنده شوه، هغه وو چې په قصه خوانۍ بازار کې اعتصابونه پيل شول. پوليسو په ډزو پيل وکړ او زمونږ ډېر وګړي د آزادۍ په لیار کې شهيدان شول.


په چارسده کې په زرګونو خلک سره غونډ شول ترڅو په دې هکله مظاهره وکړي. دوی د توقيف له کوټې چار چاپېره تاو شول، مګر ځنګه چې مونږ ورته د عدم تشدد ښوونه کړې وه او له بلې خوا زما ورور ډاکتر خان صاحب هم هلته راغی دوی ته يې وينا وکړه او له تشدد ځخه يې د دوی مخنيوی وکړ. د شپې يو موټر راغی چې مونږ بل ځای ته يو سي.

له مردان ځخه وسله وال پوځ راورسېد او پداسې حال کې چې زمونږ شا او مخ ته وو، و خوځېدو. په همدې ماښام يې مردان ته ورسولو او کوټه قلفي شو. پر سبا باندې يې رسالپور ته د خان بهادر قاضي خان دفتر ته چې د هغه ځای مجستريت و، حاضر کړو. نو موږې مونږ د (سکشن-۴۰) په اساس د سرحدي جرايمو ترحکم لاندې په درې کاله تعذيبي بند محکوم کړو. له رسالپور ځخه يې په پنجاب کې د ګجرات جېل ته واستولو او زمونږ نور پېښوري ملګري هم

هلته و. دا ملګري له علي ګل خان او سيد پاد شاه څخه عبارت وو چې له مونږ څخه يې د مخه نيولي وو. د پنجاب، ډيلي او نور سرحدي سياسي مشران هم هلته وو. ټول سيکان، هندوان او مسلمانان پاخه او جدي سياسي مشران وو، په بله هيڅ بنديخانه کې زه دومره نېکمرغه نه وم چې له داسې مذهبي، سياسي او مترقي ليډرانو سره مې پېژندګلوي کړې وای، دې ماته ډېره ګټه را واړوله هغه خبرې اترې چې مونږ دلته په خپلو منځو کې وکړې، د ژوند ترپايه به زما له ککرې څخه ونه وځي.

ډاکتر انصاري په جېل کې زمونږ خپل پارلمان جوړ کړ. نوموړي به ويل چې په ډېر وخت کې به حکومت زمونږ لاس ته راشي، نو ښه به داوي چې ځانونه چمتو کړو ترڅو په ښه ډول يې اداره وکولای شو، نوموړي مونږ ته په دې هکله چې پارلمان څنګه کار کوي لارښوونې وکړې.

***



# د سور پوښو زجر او ترټنه

کله چې مونږ په جېل کې بنديان وو د حکومت لخوا زمونږ پر اولس باندې د ظلم او فشار يوه نوې څپه راغله. په ټول ولايت د حکومت له طرفه پابندي لګول شوې وه او چاته يې اجازه نشوه ورکولی چې له ولايت نه د باندې ولاړ شي، يا د باندې شکايت يوسي او خلک له هغو ظلمونو څخه چې پر پښتنو کېدل خبر کړي. د باندې خلکو ته هم اجازه نه وه چې ولايت ته داخل شي او د اولس معاشي حالات له نږدې نه وګوري.
زما دوو تنو ملګرو ميا جعفر شاه او ميا عبدالله شاه په څه طريقه موقع پيدا کړه، چې له ولايت نه ووځي او پس له ډېر مشکل سفر نه د اټک له سيند نه راپورې شي او په بنديخانه کې له ماسره وګوري. ماته خاصه اجازه راکړی شوه چې له دوی سره ملاقات وکړم، که نه په عادي حالاتو کې ماته د ملاقاتونو اجازه نه راکول کېده.
دوی زه د صوبه سرحد د ولايت له وضعيت نه خبر کړم. دوی ماته وويل چې حکومت هغوی ته ويلې دي چې زه بايد له تحريک نه لاس واخلم. دوی وويل انګرېزان غواړي چې پښتانه ټوټې ټوټې کړي او موجوديت ته يې خاتمه ورکړي. هغوی ماته وويل چې کله زه او زما ملګري د ګجرات په جېل کې واچول شو، اتمانزيو ته لښکرې راورسېدې او هغوی يې له هرې خوا را ايسار کړل. بيا پوځيان د خدايي خدمتګارانو د دفتر ودانۍ ته ورغلل، له دېوالونو نه اوليې پورې ته وختل، دوی په دفتر کې ټول خدايي خدمتګاران ونيول او ښکته سړک ته يې راوغورځول.
زما زوی ولي، چې په دې وخت کې د څوارلس کلو ؤ، د سکول له رخصتۍ نه پس د خدايي خدمتګارو دفتر ته تللی و او هلته له دوی سره ناست وو. يوه سپاهي غوښتل چې ولي د برچې په څوکه ووهي، خو يوه مسلمان

سپاهي خپل لاس د برچې مخې ته ونيوه او ولي يې خلاص کړ. بيا حسن خان ولي له لاسه ونيوه او ښکته يې بوتلو.
پوځيانو د خدايي خدمتګارو دفتر ته اور واچاوه او په ايرو يې بدل کړو. ورپسې دوی کلي ته ولاړل چا چې له خدايي خدمتګارو سره کميسونه اغوستي وو، ټول يې بنديان کړل او په ډېره بېرحمۍ يې وټکول.
ډپټي کميشنر به چې هرې خواته تلو په ډېر قهر او غرور به يې چغې وهلې: «نور سور پوښ هم شته؟»
خلک تر دې اندازې وېرېدلي وو چې چا به سپين هم له خولې نشو ايستلی. د اتمانزو يو خان چې محمد عباس خان نومېده هلته ولاړ و او د ډپټي کميشنر غږمبا يې اورېدله. هغه په بيړه کور ته ودانګل د اوبو په تالي کې يې سور رنګ واچاوه، خپل کميس او د دوو نوکرانو کميسونه يې ډېر ژر په هغو اوبو کې خيشته کړل. کميسونه لا پوره وچ شوي نه وو چې ده او نوکرانو يې واغوستل او په منډه بېرته ولاړل او د پوځيانو په مخکې ودرېدل. محمد عباس خان د ډپټي کميشنر مخې ته ورغی او ويې ويل. «هو، يو څه نور سور پوښان هم شته چې ستا مخکې ولاړ دي.»
محمد عباس خان د خدايي خدمتګارو په ډله کې رسماً نه وو شامل شوی او له مونږ سره يې چنداني روغه هم نه وه. خو د قام پرستۍ احساساتو هغه دې زړه ور اقدام ته ولمساوه. البته پوځيانو دی هم ګرفتار کړلو. مګر د ده جرائت او د ده قرباني د پښتنو لپاره د الهام چينه وه. له هر څومره تشدد او دباو څخه چې انګرېزانو د پښتنو په مقابل کې کار واخيست، دوی حاضر نشول چې خپل سره کميسونه له ځانه لرې کړي. د دې په خلاف، تحريک له يوې ورځې نه بلې ته قوت پيدا کاوه، د جلوس په ورځ اتمانزيو کې نږدې پنځه سوه خدايي خدمتګار حاضر شوي وو. کله چې زه له جېل نه واپس شوم او کور ته راغلم د دوی شمېر پنځوس زرو تنو ته رسېدلي وو.
په حقيقت کې، پخپله انګرېزانو زمونږ د تحريک لپاره پروپيګنډه کوله.

دوی کلیو ته پوځیان ولېږل. خلک یې له کورونو نه بهر ته راوایستل او سره لمر ته یې کېنول. بیا یې له دوی نه غوښتنه وکړه چې پر هغه لوظنامه ګوتې ولګوي، په کومه کې چې د خدایي خدمتګار د ډلې له عضویت نه انکار شوی وو.
کلیوالو دوی ته وویل: «مونږ په رښتیا خدایي خدمتګار نه یو» او د دوی دغه خبره بالکل ټیک وه.
انګرېزانو به دوی ته ویل: «پروا مه کوئ، مونږ فقط غواړو چې تاسې ګوتې ولګوئ.» خلکو به د ګوتې لګولو نه انکار کاوه او له انګرېزانو نه یې دومره کرکه کوله چې چا به په لوظنامه ګوته ولګوله نو هغو ته به یې هم په سپکه سترګه کتل.
فقط یوه سړي کمزورتیا وښودله او د هغو غوښتنه یې ومنله. کله چې هغه کور ته واپس شو ښځې یې جامې وینځلې. نو چې سړی یې ولید ورته ویې وویل: «دا څه چل دی چې ته کور ته واپس شوې او نور هیڅوک هم نه دي راغلي؟» ده ورته ووې: « ماته یې اجازه راکړه، چې ولاړ شم.»
ښځې ورته وویل: «ښه نو یوازې تاته یې ولې اجازه درکوله، چې ولاړ شې او نور یې نه پرېښودل؟»
د ښځې په زړه کې چې شک پیدا شوی ؤ، زیاته یې کړه: «ګوته دې راوښیه.» کله یې چې پر ګوته د رنګ نښې په سترګو شوې په اصل خبره وپوهېده. ښځه پاڅېده هغه سوباړې یې چې د جامو د وینځلو لپاره استعمالاوه په خاوند پسې را واخیست او له کور نه یې وشړلو. بیا یې په زوره وژړل او چغې یې کړې: «بې غیرته ! که ته شرم نه لرې زه خو شرمېږم، زه له داسې سړي سره پاتې کېدلو لپاره تیاره نه یم چې هغه انګرېزانو ته ګوتې لګوي. زه ځم.»
سړی په منډه ببرته هغه ځای ته ورغی چېرته چې د کلي خلک ناست وو. انګرېزانو ورته وویل: «خیر خو دی څنګه بیا راغلې؟» ده ورته وویل: «ښځه مې په کور کې نه پرېږدي.»

د دې په شان يوه بله واقعه هم پېښه شوه. زمونږ د کلي يو سړی حاجي شهنواز خان له مونږ سره په جېل کې ؤ. ده په يو څه ضمانت ځان له جېل نه وايستلو. کله چې کور ته ولاړ هر چا ملنډې پرې وهلې او په سپک نظر يې ورته کتل. هغه له دې وضعې نه دومره متاثره شو چې خپل ژوند ته يې پخپل لاس خاتمه ورکړه.

هغه ملګري چې له کلي نه راغلي وو مونږ ته يې دا قصې وکړې. نو مونږ فيصله وکړه چې دوی بايد کلي ته بېرته ولاړ نشي. د دې په ځای، دوی بايد لاهور، ډيلي او سيملې ته ولاړ شي او په مسلم ليګ کې زمونږ له ملګرو سره د صوبه سرحد پر حالاتو خبرې وکړي او له هغوی نه د څه امداد مطالبه وکړي. که دوی امداد نشو کولی، دومره خو به وکړي چې بهر دنيا د صوبه سرحد له خطرناکو حالاتو څخه خبره کړي.

څو مياشتې پس دغه ملګري زما د ليدو لپاره بيا راغلل. دوی ماته وويل چې هغوی ډېر اوږد سفر وکړ، د مسلم ليګ له مشهورو ليډرانو سره يې خبرې وکړې خو کاميابي لاس ته رانغله. د مسلم ليګ ليډرانو په صفا الفاظو کې وويل چې مونږ له تاسې سره امداد کولو ته تيار نه يو ځکه چې تاسې د انګرېزانو دښمنۍ ته ملا تړلې ده او مونږ په دې لياره کې ستاسې ملاتړ نشو کولی. دوی وويل چې انګرېزان زمونږ (مسلم ليګ) حمايت کوي او د هندوانو سره د مقابلې لپاره مو تياروي.

تر دې وخته پورې مونږ په کانګرس کې نه وو شامل شوي او نه مو کوم تعلقات ورسره لرل. اوس مونږ نااميده شوي وو. يو څوک چې په سيند کې ډوبېږي مجبور دی د خپل نجات لپاره هرې خوا ته لاس واچوي. مونږ د مسلم ليګ له طرفه سخت نااميده شوو. نو مونږ خپلو دوو ملګرو ته وويل چې د کانګرس له مشرانو سره وګوري او له هغو نه د امداد غوښتنه وکړي.

د کانګرس مشرانو زمونږ ملګرو ته د ملاقات په وخت کې ويلي وو چې

کانګرس د هر ډول امداد لپاره چې له وسه یې پوره وي، تیار دی خو تاسې هم باید د سیمې د آزادۍ په مبارزه کې له مونږ سره خپل طاقت شریک کړئ.
کله چې زمونږ ملګرو دغه پیغام مونږ ته راوړو، نو له دوی نه مو وغوښتل چې د سرحد صوبې ته ورشي او دغه پېشنهاد د خدایي خدمتګار د تحریک ولایتي جرګې ته پېش کړي، دوی دا کار وکړو. جرګې پېشنهاد ومانه او اعلان یې وکړو چې له کانګرس سره به یو ځای کېږي.
کوم وخت چې انګرېزانو ته دا خبر ورسېده چې پښتانه له کانګرس سره یو لاس کېږي، نو دوی ایله پخپل بېړاتوب پوه شول. انګرېزانو په یوه پیغام کې له ما نه وغوښتل چې د اصلاحاتو د راوستلو په لیاره کې له هغو سره ملګرتیا وکړم.
په پیغام کې ویل شوي وو چې: «په صوبه سرحد کې به ډېر زر په هغسې اصلاحاتو پیل وشي لکه پخوا چې په هند کې شروع شوي وو او په آینده کې به مونږ تاسې ته د هند په نسبت زیات کار وکړو. مګر شرط دا دی چې ته له کانګرس نه استعفا وکړې.»
ما له ټولو سیاسي بندیانو سره یوه مرکه وکړه چې په دې مرکه کې مسلمانانو، هندوانو او سیکانو هم برخه اخیستې وه. ما دوی ته ټوله قصه وکړه او ورته ومې ویل چې زه ستاسې تجویز منم. ځینو وویل چې زه باید له دې فرصت نه ګټه واخلم. ماته یې وویل: «ته باید له ډیپلوماسۍ نه کار واخلې او د انګرېزانو شرطونه ومنې.» خو ما ورته په جواب کې وویل: چې زه خداع نه یم. ما وویل: «علاوه په دې، مونږ په انګرېزانو تکیه نشو کولی. مونږ له کانګرس سره خپل لوظ هم نشو ماتولی.»
له دې سببه حکومت ته ما دغسې جواب ورکړ: «تاسې په مونږ اعتماد نه کوئ او همدا سبب دی چې مونږ هم پرتاسو اعتماد نشو کولی.»

***

# د بنو کلابندي

د کانګرس د مرکزي اسمبلۍ رييس ويټهلبهايي پټيل د وروستيو پېښو په باب د تحقيقاتو لپاره يو هيات د سرحد ولايت ته واستاوه.
کله چې هيات د اټک پله ته ورسېد پوليسو ورته وويل چې تاسې د سرحد صوبې ته د ننوتلو اجازه نه لرئ. نو دوی راولپنډۍ ته ولاړل او همغلته يې په تحقيقاتو پيل وکړ. دوی د صوبه سرحد د فجايعو په باب ډېر اوږد رپوټ وليکه. د کانګرس طرفدارو اخبارونو په ټول هند کې دغه رپوټ نشر کړو او زمونږ لپاره يې په تبليغاتو لاس پورې کړ. برتانوي حکومت دغه رپوټ سانسور کړ، خو کانګرس يو زيات شمېر نسخې له دې نه مخکې امريکې او انګلستان ته لېږلې وې او هلته د خلکو په منځ کې وېشل شوې وې.
د مې په مياشت کې د پېښور د ګوليو چلولو نه وروسته د مردان د سيمې د ټکر په کلي کې پر خدايي خدمتګارو يو ځل بيا ګولۍ ووربدې او ډېر خلک په کې مړه شول. د خدايي خدمتګارو د مشر حجرې ته يې اور-ور واچاوه او د کلي د کلوب ودانۍ يې هم وسوځوله. ډېر کورونه په ايرو بدل شول او ډېر خلک يې په جېل کې واچول.
له دې نه پس پوځيان د بنو د سيمې هاتي خېلو ته ولاړل. د وزيرو د قوم په يوه مسالمت آمېزه جرګه يې ګولۍ وورولې او څو تنه يې ووژل. پاتې کسان يې ګرفتار کړل او په هر يوه يې د څوارلس کلو بند حکم صادر کړ. له دې نه پس د بنو ښار کلابند شو چا ته د تګ او راتګ اجازه نه وه، هيڅوک حتی د يوه ضروري کار لپاره هم له ښار نه د باندې نشو تلای. بنو ته خوراکي شيان له کليو نه راتلل او پر همدې سبب د بنو ښار محاصره شوی و.
ډپټي کميشنر فکر کاوه که چېرې خلک وږي شي، دوی به په رضاکارانه

توګه له ګانګرس او خدايي خدمتګارو نه لاس واخلي او د کلي خلک به هم وو برېږي.
د بنو په ښار او د بنو به ضلع کې خدايي خدمتګارو په ډېر شوق او همت سره خدمت ته ملا تړلې وه او د ډپټي کميشنر کوښښونو د دوی مخه نشوه نيولی.
په دې وخت کې له نږدې کليو نه ښار ته يو بهير را روان شو. مرحوم ملک اکبر علي خان د دې بهير په واسطه د خوراکي شيانو او د څارويو لپاره د وښو د راوړلو سرشته ونيوله او د دغو خوراکي موادو د ساتنې لپاره يې ښه انتظام وکړ. په نتيجه کې د بنو خلک له لوږې نه وژغورلی شول، انسانانو او څارويو نجات وموند.
مونږ د خدای ښېلي ملک اکبر علي خان د خدمتونو زيات پوروړي يو ځکه د ده جرئت سبب شو چې د ډپټي کميشنر شرموونکی او غير انساني نقشه ناکامه شي او هغه مجبور کړي چې کلابندۍ ته خاتمه ورکړي.

**د ليکوال تبصره:**

په هغو ورځو کې د ډېره اسماعيل خان ملي قيام هم ډېر قوي ؤ او په شاوخوا کليو کې يې د خلکو احساسات ويښ کړي وو. په ډېرو ځايونو کې لکه ټنګ، کلاچي، ګل مان، ګلبازار او پنيالي کې خلک په ډېر شوق له تحريک سره ملګري شوي وو. د ډېره اسماعيل خان، مردان، اټک او نورو ځايونو په ښارو کې ښځو او ماشومانو د اعتصاب بند و بست کړی ؤ. يوه ورځ ډېر اوږد او عظيم الشانه اعتصاب د ښار په مارکېټونو، د سړک پر غاړو حرکت کړی ؤ، چې په دې وخت کې د پوليسو عمومي انسپکټر (ميسټر ايسمنګر) امر ورکړ چې خلک دې خواره واره شي.
خو کله چې ښځو د ده امر ونه مانه هغه ډېر په قار شو. ده توپانچه راويستله او غوښتل يې چې د ښځو په جمعيت ډزې وکړي. يو ناڅاپه يوه ځوان سيک

چې بهګوان سنګهه نومېده، د ده هغه لاس کلک ونیوه چې توپانچه یې په کې نیولې وه او ورته ویې ویل:
«ته نه شرمېږې چې پر ښځو ډزې کوې؟» د پولیسو د افسر لاس ورېږدېده توپانچه ترې ولوېده. په اسې حال کې چې بالکل یې عصاب له قبضې وتلي وو، د ډاګ بنګلې ته یې منډې واخیستې. یو پوځي راغلو او توپانچه یې له ځمکې نه واخیسته.
حکومت غوښتل چې د بهګوان سنګهه د دغه زړه وراقدام په مقابل کې له ده نه خپل کسات واخلي. هغه و چې د ۱۹۳۱ کال په اګست کې یې په دروغو پر ده د قتل تور ولګاوه. که څه هم ده زیات وخت په بېلو بېلو جېلونو کې تېر کړ، خو آخر د اثبات د نشتوالي په وجه له قیده خلاص شو.
په ۱۹۳۱ کال کې د ېره اسماعیل خان ته د کرنیل نویل په نوم یو نوی ډپټې کمیشنر مقرر شو چې د دغه سړي د مشهور کرنیل لارنس په شان محیل او چالاکه وو. کوم وخت چې ده ته دا پته ولګېده چې خان عبدالغفارخان د کوهاټ او بنو له دورې کولو نه پس د ېره اسماعیل خان ته روان شوی دی، نو کوښښ یې جاري کړو چې د پاچا خان د استقبال په مخه کې خنډونه واچوي او د ده لیدنې کتنې له ناکامۍ سره مخامخ کړي. ده له ځینو وفادارو او باوري نوابانو او غټانو څخه د پاچا خان د پروګرام د تخریبولو په خاطر مرسته و غوښته.
خو کله چې پاچا خان د ېره اسماعیل خان ته را ورسېده د ښار ټولو مسلمانانو، هندوانو او سیکانو د ده بې شانه هر کلی وکړ او په ښار کې دومره زیات خلک راټول شوي وو چې د دې ښار په تاریخ کې یې ساری نه لیدل کېږي. د ښار له کتلو نه وروسته پاچا خان د دې سیمې هر یوه کلي ته ورغی.
په کلاچې او د ېره اسماعیل خان کې د کانګرس کمېټې او خدایي خدمتګارو د زرګونو روپیو خارجي رختونه د بزازانو په دوکانونو کې مهر کړي وو او د هغو خرڅلاو بند شوی وو.

د ایروین له لوظنامې وروسته ګاندي اجازه ورکړې وه چې د خارجي رختونو پر دوکانونو دې بندیزونه ولګول شي.
کوم وخت چې د پېښې کمیشنر ښاغلی نوال او د کمیشنر مرستیال شیخ محبوب علي ته د کانګرس او د خدايي خدمتګارو د محبوبیت او کامیابۍ پته ولګېده، دوی سخت په وېره کې ولوېدل. دغه بدنامه افسران له محلي نوابانو څخه هم نامینده شول ځکه چې هغوی څو میاشتې مخکې د پاچا خان د تاریخي استقبال د شانداره مراسمو په شنډولو کې پاتې راغلل.
نو دوی د اسې د سیسه وسنجوله چې مسلمانان او هندوان پخپلو منځو کې سره واچوي او په دې طریقه د پاچا خان د دورې اثر ختم کړي او د ملي تحریک شهرت ته زیان ورسوي. دوی مهربان خان راوغوښت او ورته ویې ویل چې څو کسه اجیران پیدا کړه چې د پېښې کمیشنر په اشاره د بېره اسماعیل خان ته لاړ شي او د سور پوښو کالي دې واغوندي، کله چې دوی ښار ته ورسېږي په ښکاره ډول دې بې نظمي شروع کړي، د خلکو شتو او جایدادونو ته دې زیان ورسوي او د خلکو په وهلو ټکولو دې پیل وکړي.
خلک به فکر کوي چې دوی خدايي خدمتګار دي او وبه وايي چې په دې تحریک کې نظم او ډسپلین نشته او په دروغو عدم تشدد دعوا کوي. په دې ترتیب به اولس د دوی پر ضد ودرېږي.
له قراینو څخه داسې معلومېده چې دوی به پخپله د سیسه کې کامیاب شي ځکه چې محلي نوابانو، خانانو، او غټانو په دغه ناوړه او فتنه اچوونکې توطیه کې له مهربان خان سره ګډون کړی ؤ.
د ډېره اسماعیل خان په بازارونو او کوڅو کې ډزې وشوې، دوکانونو او کورونو ته اور واچول شو. ځینې هندوان او مسلمانان ووهل شول. د حکومت په لمسون په نورو ښارونو او کلیو کې هم دغه حالات تکرار شول. د ډېره اسماعیل خان ټولو خلکو په اعتصاب لاس پورې کړ، هر چېرته د شک او اندېښنې لمن خوره

شوه.

کوم وخت چې پاچا خان یو ځل بیا د ېره اسماعیل خان ته راغی، دغه نجیب او صمیمي انسان مسلمانانو او هندوانو ته تسلي ورکړه. دوی بېرته هوسا شول او دایمي سولې ته یې انتظار ایسته چې په دې وخت کې د ملک غټانو د ښاغلي نویل په لارښوونه بد امني شروع کړه او د پا چا خان د سولې رسالت یې زیانمن کړو.

څو ورځې پس چیف کمیشنر راورسېد. ده خلکو ته ګوابښ وکړ او په دوی کې یې دومره دهشت واچاوه چې ټولو له اعتصاب او مخالفت نه لاس واخیست.

د هندوانو او مسلمانانو دواړو فریقو یوه ستره اشتباه وکړه. دوی هغو انګرېزانو ته غوږ ونیوه چې د تباهۍ او بد امنۍ په راوستلو کې یې لاس درلود او د سولې او ګډ ژوند رښتوني خدمتګارانو ته یې توجه ونکړه. دوی انګرېزانو ته موقع ورکړه چې د دوی زړونه له کرکې او نفرت نه ډک کړي. د ځینو په زړو کې د قار سکروټې څو کاله پاتې شوې او کوم وخت چې په ۱۹۳۸ کې اړ دوړ پیل شو، لمبې یې جګې شوې، مګر په کلیو کې د ګډ مسوولیت او ښو تعلقاتو احساس پخپل حال پاتې وو او د ۱۹۴۷ کال د خطرناکو الوګولو په وخت کې هم د خدایي خدمتګارو په کوښښ په د ېره اسماعیل خان کې د هندوانو او مسلمانانو حیثیت او جایدادونه له ضرر نه بچ شول.

***

# جنبشونه او ظلمونه

د (ګاندي- ايروين) تړون لاسليک شوی وو. سره له دې د حکومت په آمر د اتمانزيو پر جلوس ډزې وشوې.

واقعه داسې وه. د خدايي خدمتګارو جلوس وو چې په دې وخت کې پوځيان راغلل او د جلوس له تالار نه چار چاپېره راوګرځېدل. دوی خلکو ته امر وکړ چې جلسه معطله کړي او تيت و پرک شي. خلکو انکار وکړ او پوځيانو ډزې شروع کړې، څو کسه مړه شول.

د انګرېزانو د ظلم او استبداد با وجود زمونږ جلوس دوام پيدا کړ او پوځيانو د جلوس د ړنګولو لپاره ټينګار کاوه.

خدايي خدمتګارو وويل چې په پوځيانو کې سيکان او اپريدي له مونږ سره همدردي لري، خو زمونږ ورونه بنګښ او ختک پر مونږ هيڅ رحم او زړه سوی نه کوي، بلکې پر مونږ حمله کوي او زمونږ خلک وهي. کله چې پوځيانو د اتمانزيو پر جلوس ډزې وکړې، دوی د ګوليو داسې باران جوړ کړو چې بې وسلو او بې دفاعه حاضرينو د ځان د خلاصولو لپاره بې له تېښتې بله چاره نه لرله.

يوه عجيبه واقعه پېښه شوه. ډېرې ښځې او نجونې د دې لپاره راغلې وې چې وګوري جلوس څنګه شی دی. په دې ډله کې د ربنواز خان پېغله خورهم وه. دا نجلۍ دهشت پسې واخيسته او يا خو داسې معلومېده، ځکه چې دا د دې په ځای چې له ډزو نه وتښتي د ډزو خوا ته مخامخ په منډو ورغله. څوک چې د غونډې له تالار نه تښتېدل د پته يې په چغو وويل. «خورې، چېرې ځې؟ دې خوا ته راځه! خدای ته ګوره، پام کوه، ته نه وينې چې څه حال دی؟ ودرېږه! نور مخ ته مه ځه!».

د ربنواز خان خور په جګ آواز جواب ورکړو: (پرې مې ږدئ چې ولاړه شم، زه قصداً د پخوا ته ځم ځکه چې تاسې ټول تښتئ، پرېږدئ ولاړه شم. ګوندې

ګولۍ راباندې ولګېږي او مړه شم. هسې نه چې سبا انګرېزان وو ايي په پښتنو کې داسې څوک نشته چې د خپلې عقيدې لپاره له ژونده تېر شي. )
د دې نجلۍ زړه ورتوب او غرور په خلکو دومره اثر وکړو چې دوی بهر ته د جلوس په خونه کې سره غونډ شول. کله چې د انګرېزانو پوځ دا حال وليد چغې يې کړې:
«تاسې دومره فکر نه شئ کولی چې څه کوئ !»
دوی ځواب ورکړ:« مونږ غواړو چې د خپلو شهيدانو مړي را وباسو او د تاسې له پنجو نه يې خلاص کړو.» دومره زيات خلک سره يو ځای شول چې پوځيانو خپل ځانونه کلابند وليدل او ډېر زيات وو پرېدل. خلکو دوی پرېښودل چې ولاړ شي، مګر دوی غوښتل په دې يقين پيدا کړي چې پوځيان د شهيدانو مړي له ځان سره يو نه سي. د انګرېزانو پوځ موافقه وکړه او د هر يوه جلا جلا تلاشي واخيستله شوه.
که څه هم زمونږ ځينې ورونه په شهادت ورسېدل، خو د اتمانزيو قوم په دې ورځ ډېر ستره کاميابي وګټله، دا يوازې د صوبه سرحد خلک نه وو چې له انګرېزانو سره يې مخالفت کاوه، بلکې د هرې ايجنسۍ خلک او قبايلي علاقې هم له قهره ايشېدل. له همدې سببه اپريديو د پېښور د مکري پر ګدام يوه وسله واله حمله وکړه. مهمندو، ساپيو، اتمانخېلو، مامندو او سالارزيو په شبقدر ډېرې، متره، او نورو ځايونو باندې حمله وروړه.
مجاهدينو لکنډي او سوبانخوړ د عملياتو د مرکزونو په حيث وټاکل او څو مياشتې يې له همدغو ځايو نه په انګرېزانو حملې کولې. پر هغو قبايلی سيمو هم حملې شروع شوې چې انګرېزانو به هغو باندې پوره قبضه لرله او هلته يې لښکرې ساتلې. مګر په هغو قبايلي علاقو کې چې انګرېزانو هلته دايمي سرحدونه نه وو ټينګ کړي او يا په هغو ځايو کې چې د دوو سرحدونو ترمنځ ايجنسۍ جوړه شوې وه، پښتنو به انګرېزانو ته د جرګو په واسطه احتجاج ورلېږه. دوی له انګرېزانو نه وغوښتل چې زه او زما ملګري دې له

جبېل نه فوراً خوشي شو، نور سرخپوشان دې هم له قيد نه خلاص شي او حکومت دې له دې وروسته د پښتنو له شکنجې او ژوبلولو نه لاس واخلي. قبايلو وويل ترڅو پورې چې د دوی مطالبې ونه منلی شي، دوی به په ډاګه د جنګ ميدان ته را ووځي او له انګرېزانو سره به يې معلومه کړي.
په ټولو قبايلي سيمو کې غورځنګ پيل شوی وو. د ترکاڼي قبيلې له مامونډو، سالارزيو او اتمانخېلو نه يوه لويه جرګه جوړه کړه. دې جرګې په ملکنډ کې له پولټيکل ايجنټ سره کتنه وکړه. يو چا د دې کتنې په باره کې د سترګو ليدلي حالات راته بيان کړ. کله چې د دې جرګې غړي د ايجنټ کور ته را ورسېدل، د مېزونو په سر ښه مکلفه ډوډۍ او چايونه تيار شوي وو. همدارنګه پر مېزونو سکې او د روپيو نوټونه انبار شوي وو. د دغې مېلمه پالنې مقصد دا و چې پښتانه د پيسو په طمع خپلې خوا ته را واړوي، خو د جرګې يوه غړي هم چاي او خواړو ته لاس ورنهووړ. او د پيسو خوا ته يې هيڅ سترګې هم ور وانه ړولې. د دوی زړه غوښتل چې د نفرت له مخې پر هغو ناړې تو کړي. پولټيکل د سترې مشې لپاره پاچا خان ته لاس ور اوږد کړ، مګر خان لاس ور نکړو او ورته ويې ويل:
«زه نه غواړم خپل لاس په هغه لاس مردار کړم، چې زما د ورونو په وينو سور شوی دی.» پاچا خان چې د سالارزيو د قام مشر وو، د خپل قام لپاره يې د بلې ډيوې حيثيت درلود.
پولټيکل ايجنټ (سياسي نماينده) غوښتل چې مشران د خان طرفدار کړي، نو هغوی يې مخاطب کړل: «که تاسې د مهربانۍ له مخې ماته فرصت راکړئ زه به ستاسې مطالبې د هند حکومت ته پېش کړم.» دی په رښتيا څه موده وروسته ولاړ.
هغه مهرباني او محبت چې قبايلي ورونو ماته د هغو اظهار وکړ او هغه مينه

چې دوی د خپل اولس سره لرله لا تر اوسه زما په حافظه کې تازه پاتې دي او ترڅو چې ژوندی یم له یاده به مې نه وځي. نه د انګرېزانو حکومت د برحالۍ په وخت کې او نه د پاکستان حکومت د نیمقارې له وېش نه وروسته، ما ته اجازه راکوله چې د خپلو قبایلي ورونو سره تعلقات وساتم، له دوی سره ووینم او ور سره و اوسېږم او د دوی په غمونو او خوشحالیو کې شریک شم.

انګرېزانو د پښتنو ګډه کورنۍ سره بیله کړه او د دوی شریک ملک یې پر جلا جلا اداري څانګو ووېشلو. له دې جملې نه یوه د صوبه سرحد سیمه ده چې هلته ما ژوند کاوه او «د ګورنر صوبه» نوم پرې ایښودل شوی و. یوه بله برخه یې د ایجنسیو سیمه ده چې هغه د پولټیکل ایجنټ تر اداري لاندې واقع شوې وه. دریمه حصه یې هغه علاقې دي چې مستقیماً د پولټیکل ایجنټ لخوا اداره کېدلې. جمله څلور جلا جلا قبایلي سیمې وې.

په اصل کې د پښتنو ملک په اتو برخو وېشل شوی وو چې یوې برخې یې هم له بلې سره حقوقي او اداري تعلقات نه لرل.

د انګرېزانو «او له هغو نه پس د پاکستان» مقصد له دې وېش نه دا وو چې د پښتنو په منځ کې د وروروګلوۍ ټینګ یووالی ایجاد نشي. د دوی دا خیال وو، که پښتانه په وړو وړو قبیلو او وړو علاقو ووېشلی شي او یو له بل نه جلا پاتې شي دوی ته به وېره او خطر نه پېښېږي. په تاریخ کې به هیڅ مستبد د اولس د تباهۍ او د خلکو د شکنجې لپاره له دېنه بدتره طریقه نه وي سنجولې. حتی د چنګېز خان غوندې خونخوار په باره کې چې په زرګونو خلک یې وژلي دي ویل کېږي: «دی په بد نیت راغی خو د ده د پوځ له پلونو نه هوساینه پاتې شوه.»

لېکن د انګرېزانو او وروسته د پاکستان د پالیسي په وجه د لکونو پښتنو له موجودیت او تاریخ څخه انکار وشو. دا هغه قام و چې د یوه متحد ټبر په

حیث یې د ایشیا د قامونو په قطار کې یو عظیم الشانه ملت جوړولی شو او بشریت ته به یې زیات خدمت کړی و.
زما او سنۍ مبارزه فقط د همدې ظلم او فشار په مقابل کې روانه ده. دې قام څه جرم کړی دی؟ په څه دلیل دغه قام باید د تاریخ له پاڼو څخه محوه شي؟ ولې یو داسې قام چې سړي او ښځې یې د پت، عزت او شرف ژوند خوښوي، په ارادي طور تباه شي، که له دوی سره دغسې منظور نه وای ولې یې د پښتنو د تابع کولو لپاره له داسې ناپاکه او ناوړه چلند نه کار واخیست.
له ما سره یوه ډېره لویه ارزو او ډېر لوی ارمان شته. زما ارمان دا دی چې ټول پښتانه له بلوچستان نه ترچترال‌ه پورې د ورونو په شان سره یو ځای شي.
زما آرزو دا ده چې دوی ټول د یو بل په غم او خوشحالۍ کې شریک شي او د برابرو حقوقو پر اساس په ګډه کار وکړي. زما ارمان دا دی چې دوی خپل ملي مکلفیتونه تر سره کړي، د دنیا د قامونو په صف کې د حق او عدالت په مقتضا م خپل مقام ونیسي او د خالق او د هغه د مخلوق خدمت وکړي.
خارجیانو زمونږ تصویر دنیا ته په غلط ډول پېش کړی دی او زه دا خبره په ډېر افسوس سره اظهار ول غواړم. هر کله چې زمونږ تعلقات له خارجي دنیا سره بېخي شکېدلی وو او ټولې دروازې زمونږ پرمخ تړل شوې وې، نو څوک مونږ ته را نژدې کېدی نشول او په دې نه پوهېدل چې مونږ څنګه خلک یو. دښمنانو زمونږ په مقابل کې هیڅکله خپلې پروپیګنډې نه بس کولې. دوی به ویل چې مونږ وحشیان یو، بې تهذیبه یو او خدای خبر دی چې نور څه ډول نسبتونه یې مونږ ته کول.
یو څوک چې انساني احساس لري، څنګه کولی شي چې دغسې ناوړه او له اهانت نه ډک نسبتونه چې زمونږ قبایلي ورونو ته کېدل وزغمي. له آزادۍ او خپلواکۍ سره د دوی مینې ته یې د بې نظمۍ او سرکشۍ نسبت

ورکاوه، د دوی زړه ورتوب او جرئت یې وحشت ګڼلو، استعمارچیانو ویل چې پښتانه په هیڅ شي نه دي تړلي او هر وخت یې چې هر څه زړه غواړي هغه کوي.
د پښتنو مېلمه پالنې او اجتماع پسندۍ ته یې بل رنګ ورکولو او ویل به یې چې دا خلک له مېلمنو نه پورونه غواړي او غلا ترې کوي. دوی وایي چې پښتانه بدې خواره او د ښه سلوک او ادابو رعایت نه کوي. دوی وایي چې (پښتون لکه بې مهاره اوښ غوندې دی.)
دا د زړه ورو او شریفو قبایلي پښتنو یو غلط تصویر دی چې د مکارو او دښمنو خارجیانو په ذریعه دنیا ته ښودل شوی دی، خود غرضو حکومتونو له دېنه د پښتنو د تباه کولو لپاره د حاجت په توګه استفاده کړې ده، په هغو یې بمونه ورولي دي، دوی یې په ما شین ګنو ربېلي دي، د دوی کورونه او نغري یې وران کړي دي.
دا وروستي څو پېړۍ زموږ د ژوند تیاره کلونه دي، د مصیبت کلونه دي، له مغلو نه د انګرېزانو او د پاکستان د سلطې تر وخته پورې له قبایلي پښتنو سره هیڅکله عادلانه او شرافتمندانه سلوک ندی شوی. دوی په سختو تږو او غرنیو سیمو کې اوسېږي، د غرونو په لمنو کې ژوند کوي چېرته چې مځکې بې حاصله دي او خاوره یې وچه ده. دا د دوی سر نوشت دی، دا بې حاصله مځکه نه دوی ته غله ورکوي او نه څه کومک ورسره کولای شي. د دوی تجارت څه ګټه نه کوي ځکه چې تجارت د مواصلاتو او ټرانسپورټ مناسب سیستم غواړي. دوی ته دا فرصت ندی میلاو شوی چې څه کسب او هنر زده کړي ځکه چې د دې کار لپاره امنیت او سالمه فضا په کار ده او پر دوی بمبار شوی دی. دوی وژل شوي دي، استعماري طاقتونو د دوی خاوره د پوځي تمریناتو د میدان په حیث استعمال کړې ده او امن پسنده علاقه یې د جنګ په میدان بدله کړې ده.

د دوی د اولاد د تربیې لپاره مکتبونه نشته، د دوی د رنځورانو د علاج لپاره روغتون نشته. دوی د دښتو د ګلانو په شان زرغونېږي، د څه وخت لپاره وغوړېږي، بې له دې چې څوک التفات ورته وکړي مړاوی کېږي. د هغو خاورو ته پام نه ورګرځي چې دوی ترې را ټوکېدلي وو.

دوی نه ډوډۍ لري نه اوبه، نه ځکې لري نه باغونه، دوی نه بازار لري، نه دوکانونه، دوی د ژوند له ضروري احتیاجاتو نه بې برخې دي او د ژوند حق ندی ورکړ شوی. زه نه پوهېږم چې دا بې رحمه او بې عاطفې دنیا له دوی نه څه غواړي.

د دې په ځای چې د دوی ښکلې پېغلې او ښایسته ځوانان د مینې او تحسین په نظر وکتل شي، بشریت د دوی قتل ته ملا تړلې ده او جفا ورسره کوي. آیا دا جفا نه ده چې څوک د نورو پسې شا کنځلې کوي او په سپکه نامه یې یادوي؟

زما په زړه کې ډېر لوی ارمان دی. زه غواړم چې د غه نجیب، زړور، وطن پرسته خلک د خارجیانو د ظلم له پنجو څخه خلاص کړم، چا چې دوی ته د بې عزتۍ او بې پتۍ ژوند خوښ کړی دی. زه غواړم چې دوی ته آزاده دنیا جوړه کړم، چېرته چې دوی په امن کې ژوند کولی شي او چېرته چې دوی د خندا او خوشحالۍ حق ولري. زه غواړم هغه خاوره ښکل کړم چېرته چې یو وخت د دوی وران کورونه هلته آباد شوي وو او وحشي اجنبیانو نه وو رنګ کړي. زه غواړم چې جارو را واخلم او د دوی لیارې او کوڅې پاکې کړم، زه غواړم چې پخپلو لاسو د دوی کورونه پاک کړم. زه غواړم چې د دوی له کالیو نه د وینو داغونه پربمینځم، زه غواړم دنیا ته وښایم چې دا د غرونو خلک څومره ښکلي خلک دي او پس له هغې نه زه غواړم ټولو ته اعلان وکړم. (که تاسې کولای شئ ماته د دې نه زیات باوقاره مهذب او نجیب قوم راوښیئ).

# دګاندي ایروین تړون

کوم وخت چې د ګاندي- ایروین لوظنامه دستخط شوه له مانه پرته نور ټول سیاسي قیدیان ازاد شول.
زه د ګجرات په جېل کې یوازې پاتې شوم.
ما د جېل له منتظم نه تپوس وکړ: «تاسو زه ولې دلته ساتلی یم؟» ده ماته وویل چې د مسلمانانو د لیډرانو یو هیات زما د لیدو لپاره راځي. د دوی په ډله کې فضل حسین صاحب او صاحبزاده عبدالقیوم صاحب هم شامل وو. ما منتظم ته وویل چې زه له دوی سره د ملاقات خواهش نه لرم. ما وویل: «کله چې مونږ په مشکلاتو کې وو دوی زمونږ د امداد لپاره یوه ګوته هم جګه نکړه. دوی مونږ بالکل له یاده ایستلي وو. اوس ناڅاپه دوی ته ور په یاد شو. ولې؟ مهرباني وکړه دوی ته ووایه چې نه دې راځي ځکه زه نه غواړم چې دوی وګورم.»
پر همدې وخت د پښتنو یو هیات د ګاندي د لیدو لپاره هغه ته ورغلی وو، دوی ده ته وویل چې د ټولو بندیانو له جملې نه زه یوازینی سړی وم چې په جېل کې پاتې شوی وم. دوی ګاندي ته وویل: «دا غټه بې انصافي ده او د دې د لیل دا دی چې د صوبې چیف کمیشنر (سر سټیوارټ پیرز) د ده د آزادولو سره مخالفت کوي. د ده مخالفت تر دې حده رسېدلی دی چې وایسرای ته یې په مکتوب کې لیکلي دي:
«په صوبه کې مونږ دواړه نه ځایېږو، یا به زه له دې ځایه ځم، یا به عبدالغفار خان ځي.»
ګاندي لارډ ایروین ته ورغی او ورته ویې ویل چې خان عبدالغفار خان دې هم له جېل نه ووځي، ځکه چې هغه د عدم تشدد فلسفه لري. لارډ ایروین با خبره سړی وو. هغه ګاندي ته وویل: «ته فکر کوې چې پښتون به هم د عدم تشدد پابند وي؟ دا ناممکنه ده. هیڅ پښتون دا کار نه کوي. که دوی دا وایي نو دروغ وایي. ته باید پخپله د سرحد صوبې ته لاړ شي او معلومات

وکړي چې پښتانه تر کومې اندازې د عدم تشدد طرفدار دي».
د دې خبرو با وجود، لار ډا یروین زما د خوشې کولو امر ورکړ.
کله چې زه صوبه سرحد ته را وګرځېدم، زه د ملک حالاتو او د خلکو شوق او همت تر ژور تاثیر لاندې راوستم. ما سملاسي بیا په کار پیل وکړ او یوه دقیقه مې له لاسه ورنکړه. ما غوښتل چې خلکو ته د جرئت او خودي درس ورکړم. ما پخپلو لکچرونو او خطابو کې دوی ته وویل: «د انګرېزانو یو ښکر مخکې مات شوی دی. اوس پښتنو ستاسو وار دی چې بل ښکر یې هم ور مات کړئ.
یا ځئ ! د غیرت ملاوې مو وتړئ، دا ستاسې ملک دی، هغه ملک چې خدای تاسې او ستاسې اولادونو ته درکړی دی. خو ستاسې د خودغرضۍ په وجه او ستاسې د بې اتفاقۍ په سبب خارجیانو ستاسې په دې ملک قبضه کړې ده. که څه هم خدای دوی ته خپل ملک ورکړی دی، خو د دوی حرص دومره زیات دی چې راغلي دي او ستاسې ملک یې هم نیولی دی. ستاسې اولادونه مجبور دي چې لوږه تېره کړي، څو د دوی اولادونه په خېټه ماړه شي. پورته شئ دا بل ښکر هم ورمات کړئ.»
انګرېزانو ته زما په خطابه قار ورتلو، په تېره بیا د مات ښکر په هکله خبرې یې بدې ایسېدې. دوی زما حزبي ملګرو ته ویل: «تاسې نه ګورئ؟ دی امن نه خوښوي او مسالمت آمېزه فیصلې نه خوښوي. تاسو زمونږ دا خبره په غوږ کې ونیسئ، دی به خامخا تاسې له مشکلاتو سره مخامخ کړي.»
دوی به ویل چې: « تاسې ټول لایق اشخاص یئ، خو دی ستاسې په شان تعلیم یافته ندی. تاسو نه وینئ چې ټول کار تاسو کوئ او نوم د ده جګېږي.»
انګرېزان په دې کامیاب شول چې زما ځینې حزبي ملګري تر تاثیر لاندې راولي. دغه کسان مردان ته ولاړل او د قاضي عطاء الله په کور یې جرګه جوړه کړه. دوی له ما نه وغوښتل چې له خطابو نه لاس واخلم او د مات ښکر په هکله نور څه ونه وایم.
ما ورته وویل: «پوه شوم. ښه تاسې راته ووایئ چې زه پس له دې خلکو ته

څنګه خبرې وکړم؟»
دوی وویل: «دوی ته وو ایه چې اوس زمونږ ترمنځ روغه شوې ده، راځئ چې انګرېزانو ته د دوستۍ لاس ورکړو.»
ما ورته وویل: «دا خبرې خو له پښتنو نه هغسې غیرتي وطن پرستان نشي جوړولی چې زه یې غواړم، له دې نه علاوه دا خبره هم ده چې دا موقتي روغه ده، ډېر به دوام ونکړي. خدای مونږ ته اوس ډېر ښه فرصت په لاس راکړی دی چې کار وکړو او وخت له لاسه ورنکړو.»
خو زما ځینې ملګري وېربدل. دوی پخپله هم له کاره لاس اخیستی وو او ماته یې هم د دې کار موقع نه را کوله. دوی فکر کولو که زه خپلې دورې ته ادامه ورکړم او خطابې ورکوم زه به بیا بندي شم او له هغې پس به دوی هم بندیان شي. دوی دې ډول قربانۍ منلو ته تیار نه وو.
د ټول هند د کانګرس کمېټې په کراچۍ کې غونډه کوله او مونږ هم دې غونډې ته بلل شوي وو. نژدې سل تنه خدایي خدمتګار، له خپلې دستې سره چې ټولو ښکلې سرې جامې اغوستې وې، له ما سره ملګري شول.
په لاره کې مونږ تبلیغات هم کول. په هر ځای کې به چې مونږ توقف وکړو، خدایي خدمتګار او دسته به یې له اورګاډي نه ښکته شول او د خلکو زیات پام به یې ځانته اړولو. مونږ کراچۍ ته په سلیقه کې راغلو.
کانګرس زمونږ لپاره خاصه او جلا خېمه درولې وه. زمونږ خدایي خدمتګار ډېر زړه ور او مشتاق وو، دوی خپل ډسپلین کلک ساتلی وو او په همدې وجه د کانګرس په جلوس کې دوی ته مشکلې وظیفې ورسپارل شوې وې. دوی خپلې ذمه وارۍ په دومره وقار او ښه وجه سرته ورسولې چې ډېر ژر یې زیات محبوبیت وګټلو او هر چا دوی ته د احترام په سترګه کتل.
د کانګرس په دې جلوس کې مونږ ته فرصت په لاس راغی چې له ګاندي او جواهر لال نهرو او د کانګرس له نورو لیډرانو سره اشنا شو او د علاقې وړ ملي مسایلو باندې له دوی سره بحث وکړو.

# زه او جواهر لال

یو ځل په ډیلي کې د کانګرس اجرایه کمېټې په غونډه کې د ګډون لپاره، د ډاکتر انصاري کور ته تللی وم. په هغه وخت کې ما جواهر لال نه پېژانده او ده هم زه نه پېژندم. وروسته البته زمونږ د دواړو ترمنځ دوستانه تعلقات پیدا شول او د یو بل په خوی او مزاج بلد شو.

د کمېټې په غونډه کې جواهر لال زه مخاطب کړم او راته ویې ویل: «مونږ د پېښور د کانګرس کمېټې ته د دوی د لګښت لپاره د میاشتې پنځه سوه روپۍ ورکوو او له دې وروسته مونږ غواړو چې ستاسې جرګې ته د میاشتې زر روپۍ درکړو.»

ما وویل: «پنډت جي، مونږ ستاسو پیسو ته ضرورت نه لرو. لطفاً مونږ ته هیڅ پیسې مه رالېږه. مونږ د نجونو لپاره د یو ښوونځي جوړولو ته ضرورت لرو.»

په دې خبره جواهر لال خپه غوندې شو او ماته یې هیڅ جواب را نکړو. دی ډاکتر انصاري ته ورغلو او هغه ته یې له مانه شکایت وکړو چې دی مغرور او پر ځان مین دی. وروسته ډاکتر انصاري له مانه تپوس وکړو چې جواهرلال له تانه په څه خپه شوی دی؟ ما ورته وویل: «له ما سره دا اراده نه وه چې زه دې هغه خپه کړم.» ما ورپسې دا خبره هم زیاته کړه: (زه خدایي خدمتګار یم او که څوک پر ځان مَین وي، نو د خدایي خدمتګار لقب له هغه سره نه جوړېږي. )

ما ډاکتر انصاري ته کټ مټ هغه خبرې تکرار کړې چې زما او د جواهر لال نهرو ترمنځ شوې وې.

څه موده پس چې ما او جواهر لال نهرو ښه سره وپېژندل او د یو بل په مزاج ښه پوه شو، زمونږ ترمنځ ډېره زیاته مینه پیدا شوه.

رښتیا خبره دا ده چې ماته د پیسو خبرو خوند نه را کولو او ما په ټول

ژوند کې دا کار ونشو کړای چې له چا نه پیسې وغواړم، د اجرایه کمېټې غړو دا عادت وو چې د اورګاډي د کرایې پیسې واخلي. جواهر لال په دې باره کې هم له ما سره شخړه وکړه چې زه ولې د کرایې پیسې نه اخلم، خوما همېشه د کرایې پیسې له ځانه ورکولې.

کله چې زه له کراچۍ نه بېرته را وګرځېدم، ما په یوه بله دوره شروع وکړه. زه لومړی کوهاټ ته ولاړم او د هغې سیمې په دوره مې پیل وکړ. د برتانیې د پوځي مکلفیت افسرانو له مانه وایسرای ته شکایت وکړ او ویې ویل:

«کوهاټ داسې ځای دی چې مونږ هلته د پوځي خدمت لپاره نفر نیسو. له همدې امله مونږ عبدالغفار خان ته اجازه نشو ورکولی چې په دې علاقه کې وګرځي. که دی لاس نه اخلي، نو مونږ به یې ګرفتار کړو.»

لارډ ایروین په دې وخت کې تللی و او په ځای یې لارډ ویلنګډن د وایسرای په حیث مقرر شوی وو.

ده ګاندي جي ته خبر ورکړ چې افسران غواړي ما ګرفتار کړي، خو ګاندي جي په جواب کې ورته ویلي وو چې دوی دا کار نشي کولی ځکه چې دا د ګاندي- ایروین له تړون نه تېری ګڼل کېږي. ګاندي جي وایسرای ته دا هم وویل چې لارډ ایروین له ده (ګاندي) نه غوښتي وو چې صوبه سرحد ته ولاړ شي او له وایسرای نه یې د تګ اجازه وغوښته، خو وایسرای دا خبره ونه منله. نو ګاندي جي ورته وویل: «ښه ده، که ته زما له تګ سره مخالفت کوې جواهر لال نهرو دې زما په ځای ولاړ شي.» خو وایسرای دا غوښتنه هم ونه منله، وروسې ګاندي جي د خپل زوی د یوداس په باره کې دا غوښتنه تکرار کړه او بالاخره وایسرای په نه زړه موافقه وکړه.

زمونږ له دیوداس سره په پېښور کې ملاقات وشو او دی مو له هغه ځایه په لارۍ کې اتمانزیو ته بوتلو.

کله چې له شبیي باغ نه تېر شو زمونږ یو ملګری په ګړندي موټر کې راورسېدو. مونږ لارۍ ودروله او په واړه موټر کې سپاره شوو. دوه خدایي

خدمتګار په مخکې سيټ کې کېناستل يوه يې موټر چلاوه. دوی ښکلې سرې جامې اغوستې وې او د موټر د پاسه ملي بيرغ رپېده. ديوداس، خورشيد بهن او زه په دوېم سيټ کې ناست وو. کله چې چارسدې ته ورسېدو مونږ ته پته ولګېده چې يو غل د سر درياب پله ته نږدې ځنګله کې زمونږ لپاره پټ انتظار باسي او غواړي په هغه لارۍ حمله وکړي چې ګومان کېده مونږ به په کې سپاره يو. کوم وخت چې مونږ ښه ورنږدې شو، نومورې شوکمار پر لارۍ ډزې وکړې، کله چې لارۍ ودرېده ده د لارۍ په تلاشي پيل وکړ خو چې مونږ يې په لارۍ کې پيدا نکړو ډېر به نامينده شوی وي. يو سړی ژوبل شوی و او مونږ هغه د درمل لپاره روغتون ته يووړ.

وروسته مونږ پوه شو چې د دې واقعې تر شا څه رمز پروت و. مونږ ته ثرګنده شوه چې قلي خان دغه سړی ورغوښتی و او د حکومت په تجويز يې ده ته سپارښت کړی و چې په ځنګله کې پټ شي او پر مونږ د حملې او قتل لپاره اشارې ته انتظار وباسي. کله چې مونږ له پېښور نه ووتلو، شوکمار ته د محلي پوليسو په ذريعه خبر ورکړ شو چې مونږ په لارۍ کې سفر کوو. دا د خدای فضل و چې مونږ ته ملګری په مخه راغی او د ده په موټر کې سپاره شو او په دې ترتيب د حکومت ماهرانه دسيسه له ناکامۍ سره مخامخ شوه.

څه موده پس ماته وويل شو چې هغه شوکمار اپريدي و ژلی دی ځکه چې د ده دغه کار د پښتنو د اخلاقي دستور (پښتونولۍ) پرضد ؤ.

اپريدي ده ته وويل: «ستا دې خبرې ته پام نه و که چېرې د ګاندي زوی وژل شوی وای په هند کې به زمونږ حيثيت او اعتبار ته څومره صدمه رسېدلې وای؟».

مونږ خپل ځای ته بې له کومې واقعې سلامت ورسېدو. بيا ديوداس په ټوله علاقه کې وګرځېد او مونږ دی له حالاتو سره اشنا کړ. دی په دې پوه شو چې د انګرېزانو له مونږ سره په دې ورانه وه چې مونږ د خپل ملک او اولس لپاره کار کولو.

په هغو ورځو کې مسلم ليګ زمونږ په صوبه کې موجوديت نه لرلو.

انګرېزانو د دې احساس وکړو چې باید زمونږ د تحریک په مقابل کې مخالف تشکیل منځته راولي او له همدې امله یې د پېښور د های سکول د مدیر عنایت الله خان مشرقي په مرسته د (خاکسار) ګوند جوړ کړ.

د خدایي خدمتګارو نهضت ډېر پیاوړی او منلی و، نو پر همدې سبب د خاکسار ګوند په صوبه سرحد کې پرمختګ ونشو کړای او د هند په نورو برخو کې تیت شو. څه موده پس عنایت الله خان له کاره لاس واخیست او په لکنهو کې یې حکومت ته خپل معذرت پېش کړو. په دې ترتیب د خاکسار ګوند ختم شو.

د دې په شان ځینو نورو ګوندونو هم په صوبه کې په فعالیت لاس پورې کړ، مګر هیڅ یوه یې د خدایي خدمتګارو مقابله ونشوه کړای او لږه موده وروسته له منځه ولاړل.

مونږ په رښتیا په صوبه سرحد کې سخت زحمتونه پر ځان وګالل او د خدایي خدمتګارو نهضت لکه لېونی اور هرې خواته خپور شو. یوازې د کوهاټ په علاقه کې یو لک تنه خدایي خدمتګار وو. انګرېزانو زمونږ دومره محبوبیت نشو زغملای او غوښتل یې چې ما ګرفتار کړي. زه په دې خبره ښه پوهېدم او له همدې امله مې چې څومره وسه رسېده خپل فعالیت ته مې دوام ورکولو. انګرېزانو زما د بندي کولو په باب حتی د ګاندي جي د موافقې د حاصلولو لپاره کوښښ کولو، خو ده ورسره موافقه ونکړه. د ګاندي جي او وایسرای ترمنځ په دې باب مباحثه شوې وه او په پای کې ګاندي جي مجبور شوی ؤ چې ما وروغواړي.

ګاندي جي په باردولي کې ؤ او ده غوښتل چې زه هلته ورشم. په لیاره کې د بهوپال په سټېشن کې زه په اتفاقي طور له شعیب قریشي سره چې د محمد علي زوم ؤ مخامخ شوم. زه له محمد علي سره د خلافت په تحریک کې ملګری وم. دی اوس د بهوپال له نواب سره ؤ. ده اصرار کولو چې زه باید د نواب د مېلمه په حیث په بهوپال کې شپه تېره کړم. شوکت علي هم هلته ؤ. ما له نواب سره ډېرې اوږدې خصوصي خبرې وکړې. ده ما ته وویل: «که

ستاسو خوښه وي مونږ دواړه به له وایسرای سره ملاقات وکړو، زه هیله لرم چې دی به تا ته غوږ ونیسي او هرڅه چې د پښتنو لپاره غواړي هغه به درسره ومني.»

ما انکار وکړو او نواب صاحب ته مې وویل: «کوم اعتماد چې ته یې پر وایسرای لرې، زه په هغه اعتماد کې له تا سره برخه نه اخلم. سربېره په دې زه اوس باردولي ته روان یم چې ګاندي جي ووینم.»

په باردولي کې ما له مهاتما ګاندي سره مفصلې خبرې وکړې او ورته ومې ویل: «دا ټول تومتونه چې پر ما کېږي مقصد یې دا دی چې ما ګرفتار کړي، حکومت نه غواړي چې زه خپل فعالیت جاري وساتم. ته له وایسرای نه مطالبه نه شې کولی چې هغه ټول کسان ته راولېږي څوک چې له مانه شکایت کوي؟

نو بیا ته او وایسرای قضاوت کولی شئ چې د دوی خبرې تر کومه حده رښتیا دي. که تاسو دوی حق په جانب وبلل، زه به هر ډول سزا ته غاړه کېږدم.»

ګاندي جي وایسرای ته په مکتوب کې نه یوازې زما پېشنهاد تکرار کړ، بلکې دا غوښتنه یې هم وکړه چې ده (ګاندي) ته دې اجازه ورکړه شي چې صوبه سرحد ته ولاړ شي او د هغه ځای حالات ځانته معلوم کړي. ده زیاته کړه که وایسرای موافقه وکړه، مونږ دواړه به د ده داوړي استوګنځي ته چې په سیمله کې دی ور شو او پر موضوع به له ده سره بحث وکړو.

ګاندي جي له ما نه غوښتنه وکړه چې څو ورځې هلته پاتې شم او د وایسرای د جواب انتظار وباسم. کله چې جواب را ورسېد په هغه کې ویل شوي وو تاسې ته حاجت نشته چې سیملې ته راشئ او ګاندي ته لازمه نه ده چې صوبه سرحد ته سفر وکړي.

له دې جواب نه ګاندي ته پته ولګېده چې زه حق په جانب وم او ما ته یې وویل: ورځه خپل فعالیت دې جاري وساته.

# په سیمله کې

زه د کانګرس د اجرایه کمېټې په غونډه کې د ګډون لپاره سیملې ته ولاړم. له ما سره دوه تنه خدایي خدمتګار ملګري وو، په دې غونډه کې د لندن د ګردې مېز د کنفرانس او په هغه کې د برخې اخیستلو لپاره د ګاندي جي د راتلونکي مسافرت په باب هم یو څه خبرې وشوې.

د ګاندي جي له تګ نه وروسته مونږ په سیمله کې پاتې شولو. د اسلامیه کالج یوه محصل چې پلار یې د استخباراتو د دفتر غټ افسر ؤ، ماته په سیسیل هوټل کې مېلمستیا وکړه. ده فېروز خان نون او یو څو نور پنجابي ملګري هم را بللي وو.

له ما سره هغه دوه تنه خدایي خدمتګار هم ولاړل. دوی دواړه ښکلي ځوانان وو او په سره یونیفورم کې ډېر ښایسته ښکارېدل. ډوډۍ خونه له انګرېزانو او د دوی له مېرمنو نه ډکه وه. کله چې مونږ د ډوډۍ خونې ته ورننوتلو، ټولو زمونږ خواته د استعجاب په نظر کتل.

فیروز خان نون ګیله وکړه چې له کانګرس سره زمونږ ترڅ پوالی د مسلمانانو په ضرر تمام شوی دی.

ما ورته وویل: «دا زمونږ تقصیر ندی. مونږ له ټولو نه مخکې تاسې ته درغلو، خو تاسې په ځرګند ډول منفي جواب راکړو. نو مونږ مجبور شو چې له کانګرس سره یو ځای شوو. مونږ د انګرېزانو له غلامۍ نه ستړي شوي یو. مونږ آزادي غواړو. که تاسو هم آزادي غواړئ، مونږ به ستاسې ملګري شو.»

فیروز خان نون وویل: «ډېره ښه ده، زه به په دې باره کې له خپلو ملګرو سره خبرې وکړم او بیا به تاته خبر درکړم». مګر د ده احوال

معلوم نشو. بل وار ته مې دی په ۱۹۴۲ کې د بهار د اړ دوړ په ترڅ کې په پټنه کې ولیدو.

کله چې زه په سیمله کې وم، مسټر هوویل د برتانوي هند د حکومت د خارجه چارو وزیر ماته یو خط را واستاوه چې په هغه کې ویل شوي وو : «که ته یو ځلې راشې او ما وګورې ډېر به خوښ شم» ما ځواب ورکړ : «تاسف کوم چې زه تاسې ته نشم درتلای او ملاقات درسره نه شم کولی» بیا مسټر هوویل په دې باره کې ګاندي جي ته ولیکل او ګاندي جي له ما نه تپوس وکړ چې ولې مې د مسټر هوویل له ملاقات نه ډډه کړې ده.

ما ګاندي جي ته وویل: «زه یو عاجز مخلوق یم کېدای شي چې وښویږم. بهتره دا وه چې ځان له ښویېدو نه بچ کړم.»

ګاندي جي دې خبرې ته وخندل. ده وویل: «زه پخپله هم له انګرېزانو سره ګورم او بحثونه ورسره کوم. داسې نه ده؟» ما ورته وویل: «ته مهاتما یې.»

په آخر کې ما د ګاندي جي په خاطر موافقه وکړه چې له مسټرهوویل سره خبرې وکړم مسټر هوویل یو خوش طبع سړی ؤ، ده څه موده په صوبه سرحد کې تېره کړې وه او د ده مرستیال مسټر وایلي چې ما له پخوا نه ښه پېژانده هم په صوبه سرحد کې ملازمت کړی ؤ.

د خبرو په ترڅ کې ښاغلي هوویل ګیله وکړه: «مونږ له پښتنو سره ډېر ښه تعلقات درلودل، خو ځینو پښتنو په اورنیو خطابو پیل وکړ او په دې ترتیب هرڅه له منځه ولاړل.»

ما ورته وویل: «اورنی خطابې په حتمي ډول تعلقات نه خرابوي. زمونږ د مناسباتو د خرابوالي علت پخپله د انګرېزانو سلوک دی. ښاغلی وایلي کولی شي په دې باره کې تاته توضیحات درکړي.»

ما ښاغلي وایلي ته مخ ور واړاوه او ورته ومې ویل: «ځوانه، ته

ولې څه نه وايي. ته په پېښور کې د پټې کميشنر وې او پوهېږې چې زه څه وايم. دا تاسې وئ چې مونږ مو له کانګرس سره يو ځای کېدو ته مجبور کړو.»

مونږ پخپلو منځو کې خبرې کولې، چې ټيليفون وجنګېدو او ښاغلي هوويل جواب ورکړ. د کورنيو چارو وزير ښاغلي ايمرسن هيله کړې وه چې زه ورلاړ شم او له ده سره ملاقات وکړم.

ما وويل: «ما له ده سره څمنه نه ده ايښې، نو څنګه کولی شم چې له ده سره وګورم؟» خو کله چې ښاغلي هوويل زما پيغام ده ته ورسولو، د کورنيو چارو وزير وويل: «مهرباني وکړه عبدالغفار خان ته ووايه چې فقط د يوې شېبې لپاره له ما سره وګوري.» ښاغلي هوويل پسې زياته کړه، «تاته در تلونکی دی.»

ما موافقه وکړه له ښاغلي هوويل او ښاغلي وايلې نه رخصت شوم او ښاغلي ايمرسن ته ورغلم.

کله چې کوټې ته ورننوتم، ښاغلي ايمرسن بې د يله وويل: «ګوره، په ميروټ کې تا پخپله خطابه کې ويلي وو چې د انګرېزانو مخونه سپين دي، مګر زړو نه يې تور دي، که زه دا خطابه په لندن کې نشر کړم، ګومان کوم هغه ريفورمونه به عملي نشي چې تاسې يې غواړئ.»

ما ځواب ورکړو:«دا خو زما ټوله خطابه نه وه. ما له دې نه زياتې خبرې کړي دي. زه تاته اجازه درکوم چې زما خطابه نشر کړئ، مګر په دې شرط چې ټوله نشر کړئ، ما ويلي دي چې مونږ له انګرېزانو سره ډېر ښه تعلقات لرل حتی مينه مو ور سره لرله. ما وويل چې انګرېزانو ته مونږ د خپلې روټۍ ډېره ښه برخه ورکړه، د دې په ځای چې مونږ يې وخورو او يا يې خپلو اولادونو ته ورکړو دوی ته مو پېش کړه. ما وويل مونږ تر خپلې وسې کوښښ کولو چې دوی خوشحاله وساتو، خو څه فايده يې ونکړه. دوی اصلاحات شروع

نکړل حتی هغه ریفورمونه یې هم رانه وستل چې هند یې منلو ته غاړه نه کېښوده. همدا دلیلونه وو چې ما وویل که څه هم د انګرېزانو مخونه سپین دي خو داسې ښکاري چې د دوی زړونه تور دي.»

د ښاغلي ایمرسن رویه د ښاغلي هوویل په شان نه وه. ښاغلی هوویل خوش خویه او مودب و، خو ایمرسن دا خواص نه لرل ښايي علت به یې دا وي چې ده ډېر وخت په پنجاب کې تېر کړی و.

کوم وخت چې زه په سیمله کې وم د «ملکي او پوځي نشریې» د خبریال یو ملګری به همېشه ماته راتلو.

د ده له خبرو پوه شوم چې نوموړي خبریال له وایسرای سره زما د ملاقات په باره کې ډېره زیاته غلط فهمي پیدا کړې وه. ده بالکل غلط خبر نشر ته سپارلی و او په هغه کې یې ویلي وو چې کانګرس اجرایه کمېټې د سرحد د پېښو په برخه کې د تحقیقاتو لپاره زما نظریه نه وه منلې او له دې امله ما استعفا کړې وه.

دې خبر په پنجاب او صوبه سرحد کې ډېره زیاته هنګامه اچولې وه.

کله چې زه لاهور ته ورسېدم صاحبزاده عبدالقیوم صاحب ماته یو سړی راولېږلو چې هغه له صوبه سرحد نه د یوه خاص پیغام سره راغلی و: «د خدای پار دی، کانګرس مه خوشې کوه ځکه که ته له کانګرس نه ووځې انګرېزان به زمونږ د صوبې په ګټه یو قدم هم وانه خلي.»

کوم وخت چې زه له سیملې نه راستون شوم ماته پته ولګېده، چې انګرېزانو زما د ځینو حزبي ملګرو په ماغزو کې ډار او خپګان کرلی دی او هغوی اوس په پټه لګیا دي زما پرضد د سیسې جوړوي. ځینو نورو ملګرو به ویل چې له دې نه تحریک ته څه فایده نشي رسېدلی. دې وروستې ډلې غوښتل چې له مانه سلا وغواړي

او لـه دې املـه یـې د میـان جعفـر شـاه پـه کـور کـې غونـډه وکـړه. زمـا مخـالفین هـم غونـډې تـه راغلـي وو. دوی وویـل چـې پـر هنـدوانو اعتمـاد کـول نـه دي پـه کـار او د دې احتمـال شـته چـې د ګـردي مېـز پـه کنفـرانس کـې بـه مـونږ لـه خپلـو حقوقـو نـه بـې برخـې شـو. دوی غوښـتل مـونږ بـه پـه دې هکلـه فیصـله صـادره کـړو. خـو مـا ورتـه پـه ځـواب کـې وویـل چـې هنـدوانو تـر اوسـه زمـونږ پـه مقابـل کـې لـه دوکـې او خیانـت څخـه کـار نـدی اخیسـتی او لـه همـدې سـببه د دغسـې فیصـلې د صـادرولو لپـاره کـوم ضـرورت نـه لیـدل کېـږي. د دوی پـه سـر تـر اوسـه هیڅـوک نـه ګرفتـار شـوي او نـه بنـدیان شـویدي» مـا وویـل: «کـه چېـرې دوی بـې وفـا ثابـت شـول، زه قـول درکـوم چـې زمـونږ د خـدایي خدمتګار ډله به په تاسې پسې ځو.»

په دې ترتیب مونږ وکولی شو چې خپل اختلافونه هوار کړو.

کوم وخت چې سر رالف ګریفیت د صوبه سرحد چیف کمیشنر ؤ ده اراده وکړه چې پخپل دفتر کې غونډه جوړه کړي او زه یې هم غونډې ته وربللی وم. ما دغه بلنه ونه منله، که څه هم د ده په پیغام کې ویل شوي وو، چې زه باید حتماً ورشم او له ده سره وګورم. زه نه ولاړم. ده په ما پسې پولیس راولېږلو او ما هم بې له تګه بله چاره نه درلوده.

ده پخپلو خبرو کې هغو خطرونو ته اشاره وکړه چې د ده په زغم دې ملک ته متوجه ؤ. ده وویل: «مونږ ته له درېیو خواوو خطرونه پېښېدای شي چې هغه قبایل، افغانستان او روسیه دي.»

ما ورته وویل: «که ته فکر کوې چې قبایل بالقوه خطرناک دي، نو د دې خطر نه د بچ کېدو لپاره ښه لیاره دا ده چې هلته اجتماعي ریفورمونه منځته راشي. مونږ حاضر یو چې تر ممکنه حده له تاسې سره په دې لیار کې مرسته او تعاون وکړو. خو مونږ له تاسو نه توقع کوو چې د قبایلو پر ضد اوسنۍ پالیسي پرېږدئ، دوی ته د دښمن په سترګه ونه ګورئ، بلکې دوستان یې وګڼئ او مونږ دا توقع هم لرو چې له مونږ سره کېنئ او زمونږ په مرسته د

قبايلو د واقعي ترقۍ لپاره پروګرام وضع کړئ او سرته يې ورسوئ.»

سر رالف پنسل او کاغذ را واخيستل او ما چې هرڅه ويل، ياد داشت کول يې.

ما خپلو خبرو ته دوام ورکړ: «که تاسې د هغو پيسو نيمايي برخه چې اوس زمونږ د قبايلو د تباه کولو او وژلو په منظور لګېږي د صنعت په لياره کې مصرف کړي، دوی به د خپل ژوند وسايل په ښه توګه تامين کړای شي، له فنونو، کسبونو او صنعت سره به آشنا شئ. که تاسو دوی ته ښوونځي جوړ کړئ، د دوی اولادونه به په دې وسيله نوی ژوند شروع کړي او که د دوی لپاره روغتون تاسيس کړئ، د دوی د ناروغيو د علاج په لياره کې به مرسته وکړي. دغه ډول اقدامات به اصيل او زړه ور پښتانه د پښتون د اولس په ګټورو غړو بدل کړي او ټول ملک به د دوی له خدمت نه فايده اوچته کړي.»

د افغانستان لخوا د خطر په باره کې ما چيف کميشنر ته وويل چې دا ستا د خپل تصور مولود دی.

ما وويل: «افغانان زمونږ ورونه دي، که تاسو له مونږ سره دوستانه تعلقات ولرئ، افغانان طبعاً په دې صورت کې له تاسې سره دښمني نه کوي.»

ما د خپل خبرو په ترڅ کې وويل که تاسو د کوم بل هېواد نه په اند ښنه کې ياست» نو دا به بهتره وي چې مونږ ته خپل حقوق راکړئ او زمونږ خپلواکي په رسميت وپېژنئ. مونږ له آمو نه تر پنجابه پورې په يوه پراخه سيمه کې ژوند کوو. څوک کولی شي چې پر مونږ تېری وکړي؟ که څوک پر مونږ د تېري خيال لري، نو مونږ به له خپل ملک نه د سر په ښندلو دفاع وکړو.»

سر رالف زما ټولې خبرې ياد داشت کولې او بيا يې ماته وويل چې دی به ډيلي ته ولاړ شي او له وايسرای سره به په دې خبرو وغږېږي. ما د ده له ټنډې څخه احساس کولو چې هغه له ما سره موافقې کولو ته مايل دی.

ده راته وويل: «ته به بيا راشې، که څنګه؟»

ما وخندل او جواب مې ورکړ: «که زه راتلم نو په هغه ترتيب به راځم، لکه چې نن راغلم. مقصد مې دا و چې که دی مې بيا غواړي، نو خامخا به خبره پوليس ته رسېږي.

ده وويل: «ګوره ! زما د ملاقات په انتظار څومره خلک ولاړ دي. ځينې يې ډېرې ورځې کېږي چې انتظار باسي. د دوی په ډله کې خانان او خان بهادران هم شته. خو ما نه د خبرو موقع ورکړې ده او نه مې د ملاقات وعده ورسره ايښې ده. خو تا چې زه پخپله راغواړم، بې علاقې ښکارې».

ما بيا وخندل او ورته ومې وويل: «ګريفيت صاحب ! دغه کسان چې ستا زيارت ته راځي دوی پخپلو شخصي ګټو پسې ګرځي. خو زه د خپل ځان لپاره له تانه هيڅ شی نه غواړم او نه ستاسې احسان منم، نو زه ولې ستاسې وخت په غوړه مالۍ ضايع کړم.»

ګريفيت مېز په سوک وواهه او ويې ويل: «په رښتيا چې دا حکومت بدبخته دی ځکه چې صادق خلک يې له ځانه لرې کړي دي او خود غرضه کسان ترې تاو شوي دي. خدای دې انګرېزانو ته انصاف ورکړي.»

ما له سر رالف نه رخصت واخيست. له دې ملاقات نه وروسته دی ډېر ژر د وايسرای د ليدو لپاره ډيلي ته ولاړ. ما هيله درلوده چې که خدای کول آخر به زما د اولس او وطن په ګټه څه کار روايي وشي.

خو کله چې سر رالف د وايسرای له ملاقات نه وروسته له ډيلي نه راستون شو، د ده لومړی کار دا و چې زما ازادي سلب کړي. د ۱۹۳۱ د ډسمبر په ۲۴ نېټه زه ګرفتار شوم. په هغه وخت کې په ټول هند کې زه يوازينی سړی وم چې د ګرفتارۍ حکم را باندې شوی و.

که څه هم ګاندي جي لا تر اوسه د لندن د ګردي مېز له کنفرانس نه بېرته نه و راغلی انګرېزانو په لاس اچولو پيل کړی و. زما له بندي کېدو نه پس، په زرګونو نور پښتانه هم جېل ته واستول شول.

# تشدد که عدم تشدد؟

زمونږ په صوبه کې د آزادۍ اخیستلو دوه نهضتونه وو چې یوه یې په تشدد عقیده لرله او بل یې په عدم تشدد. د تشدد نهضت مخکې تشکیل شوی و. ځلوېښت یا پنځوس کاله وروسته په ۱۹۲۹ کال کې د عدم تشدد حرکت پیل شو.

انګرېزانو د تشدد د تحریک په مقابل کې له تشدد نه کار واخیستلی شو، خو دوی سره له ټولو سختو ظلمونو او بې شمېره ګرفتاریو او بندي کولو په دې بریالي نشول چې د عدم تشدد تحریک له منځه یوسي.

د تشدد نهضت د خلکو په ماغزو کې جبن او ډار پیدا کړی و، د دوی جرئت او روحیاتو ته یې صدمه رسولې وه، لېکن د عدم تشدد نهضت خلک زړه ور او بې پروا ساتلي وو او دوی ته یې اخلاقي شهامت ور په برخه کړی و. د تشدد نهضت په اولس کې کرکه خوروله، خو د عدم تشدد نهضت د مینې او ورورګلوۍ درس ورکولو.

دې وروستي نهضت د پښتنو لپاره د نوي ژوند مطالبه وړاندې کوله یو داسې ژوند چې خپل قام او خپلو وروڼو ته وقف شوی و. دې نهضت په ارټ، کلچر، شعر او د اجتماعي ژوند په ټولو اړخونو کې د یوه ستر او عظیم انقلاب لپاره مبارزه کوله.

حقیقت دا دی چې تشدد له نفرت نه زېږېږي او عدم تشدد له محبت نه پیدا کېږي.

د کرکې یو اصلي علت د انګرېزانو غیر عادلانه سلوک و. که فرضاً چا به یو انګرېز وژلی و او ګرفتار به شو، نو انګرېزانو به نه یوازې قاتل ته سزا ورکوله، بلکې په ټول کلي او ټوله علاقه به یې

کړاوونه راوستل.

له خلکو به درنده جریمه اخیستل کېده، ډېر خلک به يې جېل ته استول او زيات شمېر به يې ګرفتارول.

خلکو به طبعاً قاتل او د هغه تېول تشدد آمېزه حرکات د هغو ظلمونو او مصيبتونو اصلي عامل ګڼلو چې پر دوی به کېدل.

همدا علت و چې د تشدد تحريک ناکامه شو او د عدم تشدد نهضت کاميابه شو. يوازې د عدم تشدد له لیارې د ملک ازادي لاس ته راتلی شوه او د عدم تشدد په ذريعه انګرېزان له ملکه شړل کېدای شول.

اما د خدايي خدمتګارو نهضت يوازې سياسي نهضت نه و. سربېره په دې چې دا د پښتنو يو سياسي ګوند ګڼل کېده، د يوه معنوي نهضت حيثيت يې هم لرلو. دا يو داسې نهضت و چې پښتنو ته يې د مينې او ورور ګلوۍ درس ورکولو، په دوی کې يې د يووالي احساس، هېواد پالنه او د خدمت کولو داعيه پياوړې کوله.

د پښتنو په منځ کې تربګنې وې. د نيکونو د وختو د ښمنيو او شخړو د دوی کورونه او خپلخانې تباه کړې وې.

د عدم تشدد له لیارې دغه تربګنۍ له مينځه ولاړې.

انګرېزانو به ويل: «هغه پښتون چې د عدم تشدد پابند وي، له هغه پښتانه نه ډېر خطرناک دی چې د تشدد طرفدار وي.»

همدا سبب و چې په ۱۹۲۳ کال کې انګرېزانو پر مونږ بې شمېره ظلمونه وکړل. له دغو تېولو ګرفتاريو او بندي ګريو او نورو بې شرمانه حرکاتو څخه د انګرېزانو مطلب دا ؤ چې پښتانه تشدد ته ولمسوي. خو د دوی دغه ناوړه او ناپاکه نقشه تطبيق نشوه.

زه به تاسې ته فقط يو څو مثالونه پېش کړم چې معلومه شي، دوی له څه ډول وسايلو نه کار اخيستلو.

انګرېزانو به له پښتنو نه کالي ايستل. کله چې خدايي

خدمتګارانو په چارسده کې جلوس کړی و، انګرېزانو دوی ته حکم وکړو چې کالي له ځانه لرې کړئ. بیا یې د دوی حساس اندامونه په پړو کلک تړل او په زوره یې کش کول.

کوم وخت چې سړیو له درد نه ضعف وکړو، نو دوی به یې یوه مردار ډنډ ته ور وغورځول چې له چټلو موادو نه ډک و.

دا فقط یو مثال دی چې د خدایي خدمتګارو په مقابل کې د دوی غیر مدني تعذیب او توهین څرګندوي. د دې په شان نور مثالونه هم شته چې د هغو بېرحمو او بې شرمانه اهانتونو څرګندول د قلم په څوکه نه راځي.

په کوهاټ کې د خدایي خدمتګارو له ډلې نه ډېر کسان ونیول شول. دا د جنوري میاشت وه او هوا ډېره سړه وه، دوی خدایي خدمتګارو ته په یخو اوبو کې غوټې ورکړې.

یوازې د هریپور په جېل کې لس دولس زره خدایي خدمتګار کوټه قلفي وو او سره له دې چې هوا ډېره سړه وه، دوی ته یوه کمبله او یو چپاتي ورکول کېده. داسې خلک هم وو چې دغه شیان هم نه ورکول کېدل

ډېر تعلیم یافته کسان به په متروکو «قمچینو» وهل کېدل. په ځینو به یې چاغني (د تیلو د ایستلو څرخونه) ګرځول. یو زیات شمېر یې د لېونیانو غوندې په ګوښه ځای کې توقیف کړي وو. لنډه دا چې دا هر ډول ظلمونه چې تاسې یې تصور کولی شئ. پر دغو مظلومانو کېدل.

د ۱۹۳۱ کال د ډسمبر په څلرویشتمه نېټه زه له خپل ورور ډاکتر خان صاحب سره اوسېدم. زه د ډېر کار له لاسه ستړی او ناروغه وم. په نیمه شپه کې پولیس راغلل او زه یې ګرفتار کړم. دوی زما ورور هم ګرفتار کړ. موټر یې په موټر کې هن د اټک پله ته بوتلو. لږ وروسته یې قاضي عطاء الله خان، سعدالله خان (زما د ورور مشر

زوی) هم چې مخکې نیول شوي وو، دلته راوستل. سعد الله په همدې نږدې ورځو کې له انګلستان نه راستون شوی وو. مونږ ټول یې په یوه خاص اورګاډي کې کېنولو. د پولیسو یو انسپکټر چې په اصل کې سیک و، زمونږ د ساتنې لپاره ګومارل شوی و. ده قاضي صاحب پېژانده او مونږ ته یې دا هم وویل چې یو وخت ډاکتر خان صاحب دی له مرګه ژغورلی ؤ. له مونږ سره یو بل پنجابی انسپکټر هم راسره ؤ.

زما تل دا عادت ؤ کوم وخت به چې ګرفتار شوم، له څارونکي یا ساتونکي نه به مې هېڅکله پوښتنې نه کولې او نه مې کومه غوښتنه ترې کوله. قاضي صاحب له پښتون افسر نه غوښتنه وکړه چې اخبار ورکړي، خو افسر وېرېده او د ده غوښتنه یې په ځای نکړه.

د پنجابي افسر وظیفه دا وه چې کله به مونږ کړکۍ خلاصې کړې هغه به راغلو کړکۍ به یې پورې کړې، چې پر مونږ د چا نظر ونه لګېږي. زه د ده له دې حرکت نه ستړی شوم او ورته مې ویل: «ځوانه مطلب دې څه دی؟ ته غواړې چې پر مونږ حجاب واغوندې؟ مونږ خو ښځې نه یو او ته په دې خبره پوهېږې.» خو ده هیڅ پروا ونکړه.

کله چې مونږ له متحدو ولایتونو «اوسني اوترپرادیش» نه تېر شو، یوه انګرېز منصبدار او یوه سپین سر جنټ ته یې وسپارلو.

انګرېزي افسر د اورګاډي د کوټې دروازه خلاصه کړه او ماته یې وویل: «ته ولې نه راښکته کېږې او پښې دې ولې نه خوځوې؟»

ددې انګرېز منصبدار او د هغه مسلمان پنجابي افسر ترمنځ څه فرق و؟ سره له دې مونږ له انګرېزانو سره جګړه کوله، مونږ غوښتل له دوی نه حکومت واخلو او داسې خلکو ته یې وسپارو لکه هغه زمونږ پنجابی ورور.

کله چې زه د اورګاډي کوټې ته بېرته ورغلم یو انګرېز ماته راغی، په دوستانه توګه یې ګیلاس راته ونیو او ویې ویل: «یو څه

وچښه» خو کله چې ما ورته وویل چې زه یې نه چښم اریان غوندې شو. سره له دې زه د ده مهرباني او ښه پېش آمد نه شم هېرولی.

په آله آباد کې یې ډاکتر خان صاحب له اورګاډي نه ښکته کړو او د (نیني) جېل ته یې بوتلو. لږ وړاندې یې سعد الله خان له مونږ نه بېل کړو او (بنارس) ته یې واستولو. کوم وخت چې له سرحد نه تېر شو او (بیهار) ته ورسېدو، قاضي عطاء الله خان یې (ګایا) ته ولېږلو. په پای کې یې زه (هزاري باغ) جېل ته بوتلم، چې د (هزاري باغ) له ستېشن نه څلوېښت میله لرې ؤ. زه یې له دې ځایه په موټر کې کېنولم، له ما سره د پېښور یو پولیس انسپکټر او دوه تنه انګرېز منصبداران چې یو یې ډپټي کمیشنر او بل یې د پولیسو سوپر انټېډنټ ؤ، راسره وو.

زه چې ځای ته ورسېدم، یو انګرېزي اخبار یې د مطالعې لپاره راکړو. دا هغه اخبار ؤ چې قاضي عطاء الله خان غوښتی ؤ او د پېښور د پولیسو افسر جرات نشو کولی چې ده ته یې ورکړي.

یو ځلې د ننه په جېل کې د جېل افسر چې یو هندو و له مانه پوښتنه وکړه: «ته هغه افسر پېژنې چې دلته یې راوستې؟ دی څوک دی؟ د کوم ځای دی؟»

ما ورته وویل ته ولې له مانه دا پوښتنې کوې؟

ده وویل چې «هغه سم سړی نه دی. ده ماته وویل چې زه باید تا تر خاص تعقیب لاندې ونیسم. ځکه چې د ده په عقیده ته ډېر خطرناک سړی یې».

زه یې قشلې ته ننه ایستلم او د بندیخانې له افسرانو نه پرته بل چا ته زما د لیدلو اجازه نه ورکول کېده. زه دولتي بندي وم.

# په جېل کې دوستي

کولکتېر به په میاشت کې یو ځلې زما د لیدو لپاره راتلو. کله چې زه یو ازې یم همېشه ناروغه کېږم او په دې وخت کې هم زما صحت ورځ په ورځ خرابېده. کولکتېر ډېر ښه سړی ؤ. ده حکومت ته ولیکل که ممکنه وي، د (ګایا) په بندیخانه کې زما حزبي ملګري دې د (هزاري باغ) جېل ته را واستول شي.

قاضي صاحب د (ګایا) په جېل کې ؤ او زما په شان یې په تجریدي توقیف کې ساتلی ؤ. ما لږ تر لږه کولی شول چې د شپې ښه استراحت وکړم، خو قاضي صاحب استراحت هم نشو کولی. دی هم زما په شان د حکومت د سترګو اغزی ؤ.

حکومت د کولکتېر غوښتنه ونه منله، خو د ده په ځای یې ډاکتر خان صاحب د (هزاري باغ) جېل ته راولېږلو. دی اریان شو چې زه یې څنګه په قشله کې ټول وخت کوټه قلفي کړی وم ځکه د (نیني) په جېل کې ده ته اجازه ورکول کېده چې له کوټې نه د باندې ووځي او تمرین وکړي.

د (هزاري باغ) د جېل منتظم یو پنجابی ؤ. ده ډاکتر خان صاحب پېژانده ځکه چې په یورپ کې د جګړې پر وخت دوی دواړه یوه ځای ته لېږل شوي وو. خو دی یو ډارن سړی ؤ. کله به چې ډاکتر خان صاحب له ده نه د چکر وهلو اجازه غوښته، هغه به ورته ویل: «که زه تا د باندې پرېږدم دوی به ما مړ کړي» خو ډاکتر خان صاحب به ټینګار کاوه او په پای کې به یې مونږ ته اجازه راکوله چې فقط له کړکۍ نه د باندې چکر ووهو.

څه موده پس ماته پته ولګېده چې را جندار پرا ساد، اچاریا کرپیپا لاني او نور ډېر سیاسي مشران له (بیهار) نه همدې جېل ته را استول شوي وو او ما داسې ترتیب جوړ کړو چې کله کله له دوی سره وګورم.

ما د بیهار له خلکو سره زیاته علاقه لرله او کوم وخت چې ماته له قشلې

نه د وتلو اجازه حاصله شوه، ما به له دوی سره وخت پر وخت ملاقاتونه کول او ډېر ژر مو دوستانه تعلقات پخپلو منځو کې قايم کړل.

د جېلخانې افسر چې په (چهوټې صاحب) مشهور ؤ، ډېر ښه احساسات لرل او له قام پرستو سره يې زياته مينه کوله. مونږ د ده په مرسته تجويز ونيو، چې کوم سياسي بنديان له بنديخانې نه خوشي کېږي، د رخصتۍ په شپه دې له مونږ سره ګوري. مونږ به هغو ته د خدای پاماني عصريه تياروله.

په رښتيا چې (بيهاريان) ډېر ښه خلک دي، خو دوی لږ متعصب غوندې دي او وېرېږي چې مبادا «فرقه يي موقف» ته به يې تاوان ورسېږي. دوی چې څه وخت له مونږ سره ګوزاره وکړه وسعت نظر يې ډېر زيات شو.

په يوه عصريه کې چې زمونږ لخوا ترتيب شوې وه، ما خپل مېلمه ته چای واچولو، پياله او يو پېشقاب پيکوړه مې په لاس کې ورکړل. ډاکتر خان صاحب سره کړي برينجال (يو ډول خواړه) د ده په پېشقاب کې کېښول. زمونږ مېلمه چې چای وڅښلو او څکه يې وکړه، نو بيا له خندا نه شين شو.

ما ورته وويل چې څه ټوکه در په ياد شوه که څنګه؟ ده وويل: «تاسې ګورئ! يوه ورځ يوه مسلمان پوسته رسان زما کور ته يو پوستې کارډ راوړ. ده پوستې کارډ په يوه کونج کې نيولی و او ما په ډېر احتياط سره د ګوټو په سرو هغه بل کونج ونيوه. زما ورور چې دغه جريان پخپلو سترګو ليدلی ؤ، راغی زما په لاسونو يې ډېر ژر اوبه واچولې او راته وېې ويل: «دا بايد پاک شي» زما د (بيهار) له مشرانو سره مينه پيدا شوه او د دوی خاطرې به زما په زړه کې همېشه نقش پاته وي. د (بيهار) ښځې په غيرت کې له نارينه وو نه کمې نه دي او د آزادۍ په لياره کې يې سترې قربانۍ ورکړې دي. زه به تاسې ته صرف د يوې بيهارۍ ښځې قصه وکړم. دا په هماغه بنديخانه کې چې زه په کې بندي وم بندي وه او (چهوټې صاحب) راته د دې قصه بيان کړه.

ده وويل: «د دې ښځې مېړه چې مدافع وکيل دی، نن د دې د ليدو لپاره راغلو. ده پنځه تنه ماشومان هم له ځان سره راوستلي وو. ده له خپلې ښځې نه وغوښتل چې دوه واړه ماشومان له ځان سره وساتي او پاتې نور به يې له

ده سره وي. خو ښځې دا خبره ونه منله او ورته ويې ويل: «که تا زما په خبره عمل کړی وای، ما به دوی ټول له ځان سره ساتلي وای. اوس د دوی مسوولیت ستا پر غاړه دی».

چهوټ صاحب له دې نه تپوس کړی ؤ، چې ستا د خبرو مطلب څه و او هغې په جواب کې ورته وويل: «کله چې د کانګرس طرم ووهل شو او له مونږ ټولو نه يې د وطن د آزادۍ په لياره کې د مبارزې غوښتنه وکړه، نو ما خپل مېړه ته وويل چې له کانګرس سره ملګرتيا وکړه. ده وويل: چې اوس په محکمه کې يوه دعوا پرمخ بيايم او تر هرڅه د مخه بايد هغه فيصله کړم. ما بيا تپوس وکړ چې د ملک د آزادۍ لپاره به څه وخت په کار پيل وکړې، ده به کله يو معذرت وړاندې کولو کله بل. آخر زه په دې وپوهېدم چې دی په مبارزه کې له ګډون کولو نه غاړه غړوي، نو ما د ځان سره پرېکړه وکړه چې د ګرفتارۍ خطر ته ځان تيار کړم او په هړتال کې برخه واخلم. همدا وجه ده چې زه اوس په جېل کې يم په هماغه جېل کې چې راجندرا بابو هم توقيف شوی دی.»

د دې په شان بې شمېره ښځې او سړي په همدې جېل کې پراته وو.

درې کاله وروسته، هغه وخت چې زه له جېل نه آزاد شوی وم، دغې زړه ورې ښځې ما ته پخپل کور کې مېلمستيا وکړه.

که څه هم زه دولتي بندي وم، خو زما ماشومانو ته مصارف نه ورکول کېدل، پداسې حال کې چې د ډاکتر خان صاحب او قاضي کورنيو ته معاش مقرر شوی ؤ. د اسدالله مور ته هم خرڅ ورکول کېده. نتيجه دا شوه چې غني د مفلسۍ په وجه له امريکې نه بېرته راغی او تحصيلات يې نيمګړي پاتې شول.

زه د زياتو شتو خاوند وم، خو چې ډېره موده په جېل کې پاتې شوم، زما جايداد هم بې سر پرسته پاتې شو. ما ته د ځمکې حاصل په لاس نه راتلو ځکه چې دهقانانو د حکومت په اشاره هرڅه له ځانه سره وړل او ما ته يې نه راکول.

زه له درې کاله بند وروسته خوشي شوم، خو ماته اجازه نه وه چې صوبه سرحد یا پنجاب ته ولاړ شم. مونږ ته ویل شوي وو چې تاسې له پنجاب او صوبه سرحد نه پرته بلې هرې سیمې ته تلای شئ. مونږ په (بیهار) کې ډېر دوستان لرل چې هماغه سیاسي بندیان وو، مونږ له (هزاري باغ) نه (پټنې) ته ولاړو او هلته مو له (راجندار پراساد) او نورو دوستانو سره ملاقات وکړو، له هغې نه پس (ورډ ها) ته ولاړو او هلته مونږ ته بلنه راکړه شوه چې له ګاندي جي او (جمنالال بجاج) سره پاتې شو، په هغه کال یعنې **۱۹۳۴** کې کانګرس په بمبۍ کې غونډه کوله.

کله چې (ورډ ها) ته زمونږ د راتلو آوازه خوره شوه، د هر کلي کمېټې فیصله وکړه چې ما د کانګرس د رئیس په حیث انتخاب کړي. (راجندرا پراساد) ما ته یو تلګرام هم واستاوه او په هغه کې یې ماته خبر راکړ چې زه د کانګرس د رییس په حیث انتخاب شوی یم.

خو ما انکار وکړ. ما په جوابیه ټیلګرام کې ورته وویل: «زه یو سپاهي یم او زه یو خدایي خدمتګار یم. زه یوازې خدمت کول غواړم.»

❋❋❋



# په بنګال کې

څو ورځې پس زه له (ورډ ها ) نه کلکتې ته ولاړم او د کارپوربشن لخوا زما تود هر کلی وشو. ماته پته ولګېده چې په بنګال کې زيات شمېر مسلمانان اوسېږي. د دې ځای مسلمانان په سياسي لحاظ ببرته پاتې وو، نو ما فکر وکړو چې زه بايد دوی ته خدمت وکړم. ما په کلکته کې څو خطابې ورکړې، ما پخپلو ويناوو کې مسلمانانو ته وويل: «زه دلته ستاسې د خدمت لپاره راغلی يم. زه غواړم چې په کليو کې فعاليت وکړم ځکه چې په کليو کې ډېر ببوزلي خلک اوسېږي.»
په کلکته کې «د مسلمانانو ټولنه» هم جوړه شوې وه چې (سهراوردي) او د دې په شان نور مسلمانان يې غړي وو. دغه کسان د دې په ځای چې له ماسره د کليو په کتنه ليدنه کې مرسته وکړي، د بنګال کليو ته يې زما د ورتګ مخه نيوله ځکه دوی وبرېدل چې ښايي د دوی ليډرشپ به ختم شي.
په دې وخت کې (پروفيسر پرافولاچندرا ګوش) زما يو پخوانی اشنا چې د کانګرس د اجرايه کمېټې غړی ؤ راغی او ماته يې وويل چې دی به ما کليو ته بوځي. خو ده دا خبره هم وکړه «چې د مسلمانانو کليو کې ژوند نشته».
زه په دې خوشاله وم چې يو بنګالی له ما سره ملګری ؤ ځکه چې خلک يوازې په بنګالي ژبه پوهېدل او ما په بنګالي خبرې نشوای کولی.
(پرا فولا بابو ) پر ما ډېر کلي وليدل او زه به چې هر چېرته رسېدم، پخپله معمولي طريقه به مې په کار پيل کولو. ما خلکو ته ويناوې وکړې، ما دوی ته وويل چې يو وخت هند د سرو زرو هېواد و په هر کور کې به پرېمانه شيدې، غوړي او وريجې پيدا کېدې.
ما پوښتنه وکړه: ښه نو بيا څه چل وشو چې دوی اوس په نس وږي او په تن بربنډ دي؟
ما له حاضرينو څخه چې په ډېره مينه يې غوږ نيولی و، تپوس وکړ: «تاسې

نن ولې دومره خوار غريب يئ؟» بيا ما دوی ته دا خبره څرګنده کړه چې ترڅو پورې ملک آزاد نشي او ترڅو پورې چې دوی د ملک اداره پخپلو لاسو کې وانخلي، دوی به هيڅکله په ګېډه ماړه نشي.
ما خلکو ته څو ورځې په همدې ترتيب خبرې وکړې.
بله ورځ مې جلسه جوړه کړه. تقريباً پنځوس تنه زما د وينا اورېدلو ته حاضر شوي وو. څو ورځې پس، دوېمې جلسې ته دوه سوه خلک راغلل.
له هغې نه پس وار په وار د خلکو شمېر زياتېده.
په دې وخت کې، د کانګرس جلسه چې په بمبۍ کې کېدله رانږدې کېدونکې وه او مونږ مجبور شو چې رخصت واخلو. ما (پرافولابابو) ته وويل چې دا خلک مړه او بې حسه نه دي. دلته فقط دا سې شخص ته ضرورت و چې د ژوند ډيوه بله کړي او روښانه يې وساتي.

***



# رښتیا ویل جرم دی !

کوم وخت چې زه په بمبۍ کې وم، ماته بلنه راکړه شوه چې (د هند د مسیحیانو په ټولنه) کې خطابه ورکړم. اوربېدو نکو له مانه غوښتنه وکړه چې د خدایي خدمتګار د نهضت په باب خبرې وکړم. ما دوی ته زمونږ د نهضت تاریخچه بیان کړه او څه چې په ما تېر شوي وو، هغه ټول مې ورته بیان کړل.

تر دې وخته زه په دې نه پوهېدم چې ګوندې د انګرېزانو په قانون کې رښتیا ویل جرم ګڼل کېږي. ماته د دې خبرې ډېر ژر پته ولګېده.

کله چې د کانګرس جلسه پای ته ورسېده، زه بېرته (ورډ ها) ته راغلم او بنګال ته مې د یوې بلې دورې لپاره پلانونه سنجول. ما پرېکړه کړې وه، څو پورې چې سرکار ماته اجازه رانکړي چې صوبه سرحد ته ولاړ شم، زه به د بنګال په کلیو کې فعالیت کوم.

کله چې سرکار زما له نقشې نه خبر شو، تصمیم یې ونیو چې بنګال ته زما د تګ مخه و نیسي، ځکه انګرېزان پوهېدل چې د بنګال هندوان ویښ شوي دي او که مسلمانان یې هم ویښ شي، له بنګال څخه به د دوی ټغر ببخي ټول شي.

نو دوی په ما پسې پولیس راولېږل او زه یې ګرفتار کړم. په ما د دوو کلو بند سزا وخته. دغه قید په اصل کې د هغې وینا انتقام و چې ما په بمبۍ کې (د مسیحیانو په ټولنه) کې کړې وه.

زه یې لومړی د بنګال جېلخانې ته ولېږلم، خو وروسته یې د (سبرماټي) بندیخانې ته تبدیل کړم. د دې جېلخانې انګرېزي منتظم یو سختګیره سړی ؤ. زه یې په یوه وړه کوټه کې بندي کړم او حتی نوکریوال ته اجازه نه ورکول کېده، چې د ننه راشي. دروازه د باندې خوا نه قلف شوې وه.

د (بې درجې) بندیانو لپاره کټونه نه وو او زه پر ځمکه څملاستم. هلته

دومره ځوک نه وو، چې ما خبرې ورسره کړې وای. وروسته ما ته د انفلوینزا (والګي) ناروغي راپېښه شوه. هیڅ چا دومره فکر ونکړ چې روغتون ته مې بوځي، یا دا چې اقلاً کټ راکړي، اوس لا هم مجبوروم چې په ساړه کانکریټي غولي څملم. په هر حال، بیا هم د خدای په مهربانۍ له هغې ناروغۍ څخه جوړ شوم. وروسته صوفیه زما لیدنې ته راغله، ورپسې مهاتما ګاندي هم زما پوښتنې ته راغی او د نومړي د هڅو په پای کې په (اې درجه) بندیانو کې ومنل شوم. اوس که څه هم زه د ښه خوړلو مستحق وم، خو دومره ځوک نه وو چې زما لپاره پخلی وکړي. وروسته د جېلونو پلټونکی کله چې په جېل کې په پلټنه بوخت و، زما لیدلو ته راغی. تر ټولو ړومبی ما ورڅخه دا غوښتنه وکړه چې یو تن آشپز را ولېږئ. څنګه چې ما په بمبۍ کې یو تن بندي اشپز پېژندلو، نو ور ته ومې ویل چې نوموړی به مناسب وي. دا مې هم ورته وویل چې د هغه ځای هوا زما د روغتیا لپاره ښه نه وه، نو که وکولای شي چې بل ځای ته مې بدل کړي. څنګه چې نوموړی پلټونکی خورا ښه او مهربان سړی ؤ، نو له ما سره یې وعده وکړه چې پنجاب ته مې ولېږي او یو تن پښتون اشپز هم راکړي. ما څو ځله په مکرر ډول ورته وویل، چې پنجابیان ما نه غواړي او هلته به زما تګ نامنلی وي او بل دا چې ما ورڅخه وغوښتل، چې هغه د بمبۍ اشپز راته راواستوي. مګر پلټونکي بیا هم دا ښه بلله چې پنجاب به زما لپاره خورا ښه وي ځکه چې کور ته هم نږدې و. او دا سې خیال ور سره ؤ چې یو تن پښتون اشپز به تر نورو زیات په ما زړه سوی ولري او ښه پالنه به مې وکړي، مګر د نوموړي په دا ډول ټولو هڅو برسېره پنجاب پخپلو جېلونو کې زما له منلې څخه غاړه وغړوله. د پنجاب له یوه جېل څخه یې ما ته یو تن اشپز را واستاوه چې نوموړی په پخلي هیڅ بلد نه و او د سېل په ناروغۍ هم اخته ؤ.

نو ضرور د دوی مطلب دا ؤ چې ګوندې ما هم په دې ساري ناروغۍ اخته کاندي. له سبرماتي څخه زه یو کوچني جېل (بریلي) ته واستول شوم. بریلي کې یوه مرکزي بندیخانه هم موجود وه، نو که چېرې زه هغه جېل ته استول

شوی وای، نو هلته نور سیاسي بندیان هم وو او زه به یوازې پاتې نه وای.
مګر د زور څښتنانو په ما د دومره زړه ښه والي لورونه هم نه درلوده او له
نورو بندیانو څخه یې لرې ساتلم. هغه ورځ را ورسېدله چې ډاکتر خان
صاحب مرکزي اسامبلۍ ته وټاکل شو او اجازه ورکړه شوه چې صوبه سرحد
ته لاړ شي. نوموړی او مېرمن یې دواړه بریلي ته زما د لیدلو لپاره راغلل. د
دې ایالت د جېلونو پلټونکی کرنیل سلامت الله خان خوږ سړی ؤ. کله چې د
جېل د کتنې لپاره راغی، ما ورڅخه غوښتنه وکړه چې له ما سره مرسته
وکړي چې هغه اشپز لرې کړم. ما ورته وویل: «هغه هېڅ اشپز نه دی! په دې
برسېره نوموړی د سېل پر ناروغۍ هم اخته دی، زه نه غواړم چې ناروغي
یې ماته را واوړي، که څه هم پوهېږم چې نوموړی د همدې منظور لپاره را
استول شوی دی، خو دا ډول کړه وړه زمونږ د دواړو لپاره غوره نه دي، نو
لطفاً بدل یې کړئ» پلټونکي دا خبره ومنله او اشپز یې بدل کړلو.
رفیع احمد کداوي او د جېلونو وزیر هم زما پوښتنې ته راغلل. څنګه چې
دوبی را رسېدلی ؤ او هوا ورځ په ورځ تودېدله، نو وزیر وویل چې ما باید
کوم ساړه ځای ته بدل کړي. لېکن په دې اوږده دوبي کې حکومت زما د
بدلونې په هکله هېڅ ډول ګام وانخیست. مګر کله چې مونسون (برسات)
پیل شو او هرڅوک له غرونو بېرته را وګرځېدل، زه یې الموړي ته واستولم.
باران په شپو او ورځو پر لپسې وورېدلو او بهر ته وتل له امکان څخه لرې
غوندې څرګندېده. وروسته زما د خلاصېدو نېټه را ورسېدله، مګر ماته د
صوبه سرحد ته د تګ اجازه رانکړل شوه او زه ورده ته لاړم. دا ۱۹۳۶ کال ؤ،
د ۱۹۳۷ کال د اګست تر میاشتې پورې هغه وخت چې د ایالت د اسامبلۍ
لپاره انتخابات پای ته ورسېدل، زه کور ته را ونه ګرځېدم. په ۱۹۳۶ کال
کې په صوبه سرحد کې د ایالتي اسامبلۍ لپاره انتخابات پیل شوي وو او
د خدایي خدمتګارانو ګوند اکثریت ګټلی ؤ، مګر په هغه برسېره بیا هم
ګورنر له نواب صاحبزاده عبدالقیوم څخه غوښتنه کړې وه چې حکومت
جوړ کړي. دې ښاغلي که چېرې پخپل ایالت کې هم ځان کاندید کړی وای،

نو انتخابات به یې هرو مرو بایللي وای. مګر نوموړی له هزاره کلي څخه، کوم چې هلته د خدایي خدمتګارانو شمېر ډېر لږ وو انتخاب شو. د حکومت په ملاتړ او لاربښوونه نوموړي د هندوانو، سیکانو او ځینو نورو مرکب حکومت جوړ کړ، خو د ده حکومت ډېر دوام ونکړ. پنځه شپږ میاشتې وروسته مغلوب شو. په ۱۹۳۷ کال کې مخالف لوري د عدم اعتماد رایه ورکړه او په ځای یې ډاکتر خان صاحب د خدایي خدمتګارانو په مرسته نوی حکومت جوړ کړ.

په دې حکومت کې قاضي عطاوالله خان د پوهنې وزیر ؤ. قاضي صاحب تر ټولو ړومبی پښتو ژبه د ښوونځیو په ښوونه کې جبري وګڼله. دې حکومت او دې وزارت د خلکو د رفاه او هوساینې لپاره ډېر خدمتونه وکړل. مګر په یوه اثنا کې یې زمونږ جنبش ته د ښېګڼې په ځای ډېر تاوان ورواړوؤ. په حقیقت کې ټول قدرت له ګورنر سره ؤ او د هغه وفادارو ملګرو زمونږ د حکومت د غړو هیڅ ډول خبرو کولو او عمل ته غوږ نه ایښود او هیڅ مرسته یې ورسره نه کوله. دوی هغه څه کول کوم به چې د ګورنر لخوا ور په ګوته شوي وو. «مونږ د پنځوسو پیسو قدرت په لاس راوړی ؤ، مګر هېواد د یوې روپۍ قدرت ته اړ و! اوس نو دا له کومه راغلې وای؟»

دا ډول انحصار او چال چلن زمونږ د جنبش لپاره پوره ماتې وه. څنګه چې زمونږ کارګرو په پاکۍ سره د اشیاوو وېش کولای نشو.

په ۱۹۳۹ کال کې د نړۍ دوېمه جګړه پیل شوه او په هندوستان کې هر ځای د کانګرس له وزیرانو سره یو ځای زمونږ وزارت هم استعفی وکړه.

***

# کورنۍ الې ګولې

کلـه چـې جاپـان پـه جګـړه کـې شـامل شـو، د کـانګرس چلنـدويي جرګـه ګـۍ يـوه جلسـه جـوړه کـړه. پـه دې جلسـه کـې پرېکـړه وشـوه چـې مـونږ بـه پـه جګـړه کې لـه برتـانيې سره مرسـته وکړو، پـه دې شرط چې لـه جګـړې وروسـته زمـونږ آزادي راکـړي. پـه دې وخـت کـې زه او مهاتمـا ګانـدي دې جرګـه ګـۍ څخـه مسـتعفي شـو؛ دا ځکـه چـې مـا او هغـه دواړو پـه شـدت عقيـده نـه لرلـه او کـه چېـرې مـونږ پـه دې جګـړه کـې برخـه اخيسـتې وای، نـو مانـا بـه دا وای چـې لـه شـدت څخـه مـو کـار اخيسـت. لـدې وروسـته پـه هېـواد کـې ځـانګړې تېـرې پيـل شـول، مګـر هېچـا اجـازه نـه لرلـه چـې پـه دې ليـاره لاړ شـي. مخکـې لـه دېنـه چـې د ګانـدي موافقـه يـې پـه لاس نـه وي راوړې. د شـمال لوېـديز صـوبې پـه هکلـه ټـولې پرېکـړې او تصـميمونه زمـا پـر غـاړه وو. حکومـت پـه صـوبه سـرحد کـې هيڅـوک د ځـانګړو تېـري کولـو پـه هکلـه نـه بنـدي کـول. دوی دا کـار نشـو کـولای، ځکـه چـې هغـوی تـل ترتلـه داسـې اعـلام کـاوو چـې دوی د آزادۍ او ديموکراسـۍ د لاسـته راوړلـو لپـاره جنګېـدل. دوی هيڅکلـه د هندوسـتان آزادۍ تـه اشـاره نـه کولـه. لـه دې کبلـه کـانګرس داسـې احسـاس وکـړ چـې د برتـانيې پـر ضـد اولسـي جنـبش راپورتـه شـوی ؤ. نـو هغـه وو چـې ګانـدي د ۱۹۴۲ کـال د اګسـت پـه مياشـت کـې د (هندوسـتان خوشـي کـړئ) پاليسـي اعـلان کـړه. دا شـعار پـه ډېـره چټکـۍ پـه ټـول هندوسـتان او صـوبه سـرحد کـې خپـور شـو. هغـه کـوم کسـان چـې پـه ځـانګړو تېريـو يـې لاس پـورې کـړی او خلکـو تـه بـه يـې ويـل: «دا لويـه ګنـاه ده چـې لـه برتـانيې سـره يـا مـادي او يـا معنـوي مرسـته وشـي. هـيڅ اعانـه مـه ورکـوئ او ځانونـه پـه لېسـت کـې مـه نيسـئ». د دې اولسـي جنـبش پـه طـرز کـې د «هندوسـتان خوشـي کـړئ»

شعارو زوړ د هر یوه برتانوي غوړونو ته ورسېد. په عین وخت په زرګونو خلک د برتانیې د قانون د ماتولو په هکله تر محاکمې لاندې ونیول شول. په هغه وخت کې ما په سر دریاب کې د خدايي خدمتګارو یو مرکز جوړ کړ، چې د (مرکز اعلی خدايي خدمتګار) په نامه یاد شو. په هندوستان کې کورنۍ الې ګولې پیل شوې وې، مګر مونږ تر اوسه پورې لا په صوبه سرحد کې نه وې پیل کړې، کله چې مونږ پرېکړه وکړه چې باید په صوبه سرحد کې هم دا کار وشي، نو ایالتي جرګې ماته واک راکړ چې د دې جنبش لارښوونه پر غاړه واخلم. ما د دې پوره واک اخیستلو په مقابل کې خپله نارضايي څرګنده کړه ځکه چې د کتاتورشیپ او اتوکراسي زما په طبیعت کې نه ده اخښل شوې او مخکې له دې نه چې به مې کومه پرېکړه کوله، له ملګرو سره به مې سلا مشوره کوله. باید دې ته اشاره وکړم چې هغه وخت کې چې په جرګه کې مونږ د دې جنبش په هکله تصمیم نیولو، د حاجي فقیر خان لخوا غوښتنه وشوه چې باید دا کار د ټیلیفون د مزیو په پرې کولو او ګاډې د پټلیو په شکولو سره پیل شي.

ما جرګې ته وویل چې دا کار به په یوه شرط جواز ولري چې تخریب کوونکی د پولیسو دفتر ته ورشي او پخپل کار اعتراف وکړي. دا کار به د هغه معنوي پیاوړتوب زیات کړي او د نورو کارګرو لپاره به د زړورتوب الهام وي. له بلې خوا د بندیخانې او مجازاتو خطر به بې ګناهو خلکو ته متوجه نه وي. هغه وو چې زما تر لارښوونې لاندې دا جنبش پیل شو او ټولو کار کوونکو په پوره ډسپلین خپلې دندې پر مخ بېولې. له پلان سره سم په پېښور کې یو تن مسلمان برتانوي کمیشنر جناب سکندر میرزا ؤ چې نوموړی د برتانیې دومره وفادار ؤ چې تل تر تله یې هڅه کوله چې د برتانیې په «ښه کتاب» کې یې نوم پاتې وي. په حقیقت کې نوموړی له

برتانویانو څخه ډېر برتانوي و ! او تر هغه پورې چې یې لاس رسېدو له ظلم او استبداد څخه یې مخ نه اړولو. یوه ورځ کله چې انګرېزانو پر یوه تن خدایي خدمتګار د لاتي وهلو امر ورکړ - ده پخپله هغه واخیسته او خدایي خدمتګار یې مرګ ته وواهه. یو تن سید اکبر چې تکړه خدایي خدمتګار ؤ، د ده له لاسه وژل شوی ؤ. د ده جناب له عملونو څخه بل دا ؤ چې یوه ورځ د خدایي خدمتګارو کمپ ته لاړ او د هغوی په پخلي کې یې زهر ګډ کړل. کومو خدایي خدمتګارانو چې هغه پخلی خوړلی ؤ، په ډېره جدي ناروغۍ اخته او روغتون ته یوړل شول او رښتیا هم چې د هغوی او مرګ ترمنځ د یوه وېښته غوندې منځ ؤ. ده پر پښتنو داسې نورې ډېرې مهربانۍ کړې دي ! مګر زه غواړم چې پر هغو ښادر وغوړوم او د خدای قضاوت ته یې پرېږدم، هغه خدای چې یوه ورځ به مونږ ټول د ده حضور ته ورځو. وروسته نو میرزا صاحب د پاکستان جمهور رئیس شو او خپل تون یې وګرځاوه.

«اسلام ! اسلام ! ای زما هېواده زه پر تامېن یم !» ناري یې وهلې. نومووړي زه په جېل کې واچولم دا ځکه چې د ده په فکر زه د هېواد دښمن او د اسلام پر ضد وم ! زه تل ترتله په مکرر ډول په صوبه کې راګرځېدم چې د ځانګړو تېریو تاثیر او پرمختګ وګورم. یوه ورځ کله چې زه کوهاټ ته روان وم، کله چې ساپنه پولیس سټېشن ته ورسېدم ګرفتار کړای شوم. موټر کې یې تر پېښور پورې یوړم او هلته یې خوشي کړم. ما پداسې لوبه کوم چرت نه خراباوو، پنځوس تنه ملګري مې سره را غونډ کړل او د مردان په خوا پلي روان شو. مونږ به کله چې له هر یوه کلي څخه تېرېدلو، هلته به مو غونډې جوړولې. هغه وخت چې میرویس ډېرۍ ته راورسېدو پولیس زمونږ لپاره سترګې په لیاروو. مونږ د یوه بل لاسونه کلک ونیول په مارش مو پیل وکړ او زمونږ یو له بل څخه بېلول نو اوس اسان کار

نــه ؤ. کلــه چــې پــولیســو تــه ځرګنــده شــوه چــې دوی دا انســاني ځنځیــر نشــو مــاتولی، نــو خپلــې تــازینې (لاتــې) یــې را وویســتلې او زمــونږ پــه وهلــو یــې پیــل وکــړ، بــې لــه دې ځــل ځخــه برتانویــانو تــل زمــا درنــاوی کــړی دی. پــه دې برســېره چــې دوی تنــد او بدخویــه وو، مګــر هېڅکلــه یــې دا هڅــه نــه ده کــړې چــې مــا تــه ځــاني تــاوان او بــې عزتــې را واړوي. د مثــال پــه توګــه کلــه چــې زه د ابوتابــاد پــه جېــل کــې وم، یــوه ورځ پلتېونکي مســتر سـمیت سـیخ جېـل تـه زمـا د لیـدلو لپـاره راغـی. زه پـه یوه ډېره کوچنۍ کوټـه کـې یـک تنهـا پـروت وم. کلـه چې یې لـه مـا سـره روغبـړ وکـړ، پـه ډېـره غصـه د بانـدې بېرتـه لاړ او سـپرانډنټ تـه یـې پـه تریــو تنــدي وویــل: «تــا پاچــا خــان پــه ځنګــه یــوه ځالــه کــې اچــولی دی، ولې ورته یوه لویه کوټه نه ورکوئ.» سپرانډنټ په ډېر درناوي وویل:

«مــا څــه کــړي وای؟ دا د حکومــت امــر و». مســتر لــه هغــه ځایــه د صوبې ګورنر ته ټېلیفون وکړ او ویې ویل.

«جیـورج ګنـنګهم! آیـا مېړانـه داسې وي چې لـه یـوه زړور سـړي سـره لکـه د پاچـا خـان غونـدې پـه دې ډول رفتـار وکـړې؟» جیـورج ګنـنګهم ښېـنه وغوښـتله او خپـل امـر یـې بېرتـه واخیسـت، مګـر مخکـې لـه دې نـه چـې دی کـوم تصـمیم ونیسـي، مسـتر سـمیت زمـا د بـل ځـای تـه لېږلـو امـر راکـړ. پـه نتیجـه کـې زمـا زوی ولـې او درې نـور ملګـري هـم هغـې بندیخانې ته ولېږل شول.

مـا دا ټـول نـه وو غوښـتلي، رښـتیا هـم چـې مسـتر سـمیت هڅـه کـړې وه چـې زمـا لپـاره مناسب ملګـری پیـدا کـړي او ځانتـه ځرګنـده کـړي چـې لـه کـوم چاسره بـه زه خوشـحاله یم، مګـر زمـا لپـاره کـوم تـوپیر موجـود نـه ؤ او دا کـار مـې د ده پـر غـاړه پرېښـود. نومـوړي مـاتـه یـو پیغـام راولېـږو چـې ویـل یـې: «زه د ځـان لپـاره ملګـری نـه پیـدا کـوم، بلکـې سـتا لپـاره- نـو فکـر کـوم چـې دا بـه مناسبه خبـره وي چـې پـه دې هکلـه مـاتـه خپـل نظـر راولېږي، زه نـه غـواړم چـې خپـل انتخـاب پـه تـا ومـنم.» کلـه چـې د مسـتر

سمیت مهربـاني ماتـه را پـه یـاد شـي، پـه ډېره خواشـینۍ زمـا هغـه چـال چلـن را پـه زړه شـو، کـوم چـې د پاکسـتان د حکومـت لخـوا لـه ماسـره کېـده، د دوی پـه حکومـت کـې زه تـل ترتلـه پـه توقیـف کـې پـروت وم او زمـا پـه ټولـو غوښـتنو او مکـررو یـادونو برسـېره بیـا هـم چـا زمـا لپـاره کـوم ملګـری رانکـړ او کـه چېـرې بیـا داسـې هـم پېښـه شـوې وي چـې ماتـه یـې کـوم ملګـری رالېږلـی وې، نـو هغـه بـه هـرو مـرو لېـونی او یـا پـه بـل مهلکـه نـاروغۍ اختـه ؤ چـې د ملګـري پـه ځـای بـه لویـه سـرخوږي وه. د برتانویـانو د حکومـت پـه وخـت کـې ځنـې هېـوادوال افسـران وو چـې زه بـه یـې ځـورولم، تعجیـزولم او دردولـم بـه یـې. چـې پـه دې هکلـه بـه بیـانو برتانویـانو ورتـه بخششـونه ورکـول. د میـرویس ډېـرۍ پـه پېښـه کـې دا یـوازې زمـا تـور بخـت ؤ چـې د داسـې یـوه ظـالم منصبدار پـه لاس ورغلـم. هغـه دومـره ووهلـم چـې دوې پښـتۍ مـې مـاتې شـوې وې. نومـوړی د پولیسـو یـو منصـبدار ؤ چـې خوشـدل خـان نومېـده. د دې ملګـري نـوم (خوشـدل) د ده لـه عمـل سـره هـیڅ برابـر نـه ؤ. دې د خـوښ زړه خـان بـه ممکـن پـه برتـانوي ښـو کتـابونو کـې د وفـادار نـوم ګټلـی وي، مګـر د رښـتیني شخصـیت څښـتن نـه ؤ. دې خـان صـاحب مـونږ ټـول د مـردان جېـل تـه بوتلـو- راتلـونکې ورځ مـونږ د سـیالپور او بیـا وروسته د هریپور بندیخانې ته واستول شو.

***

# تېرونو ته د جرګو لېږل

کله چې د جاپان لښکرې برما ته ورسېدې، مونږ وار خطا شو ځکه چې د دوی پرمختګ ډېر چټک و او که چېرته په هغه چټکتیا پرمختګ وکړي، نو په ډېر لږ وخت کې به هندوستان لاندې کړي، مونږ خصوصاً د اولسي تېرونو په هکله ډېر خواشیني وو. مونږ په دې هکله چې فکر مو کاوه چې کړکیچنې ورځې، شپې راتلونکې وې او غوښتل مو چې د راتلونکو پرابلمونو مخه په ګډه ونیسو او خپل هېواد په سربښندنه او زړورتوب وساتو.

نو له دې کبله ضروري خبره وه چې باید د عمل پلان په ګډه وسنجوو. نو له دې کبله مو فکر وکړ چې د دې خبرو اترو کولو لپاره باید یوه جرګه ولېږل شي. ما زمونږ د صوبې ګورنر ګننګهم ته یو لیک واستاوه او ورځخه مې غوښتنه وکړه چې مونږ ته د دې جرګې د استولو اجازه راکړي. ګورنر بېرته زمونږ په جواب کې یو لیک را واستاوه چې په هغه کې یې د داسې جرګې استولو نه مننه ښکاره کړې وه. له دغه نه وروسته مونږ د قومي جرګې غونډه وکړه او په هغه کې پرېکړه وشوه چې ځنګه چې دا د ژوند او مړینې مسئله وه او هېواد په لوی خطر کې و، نو که حکومت اجازه را کوي او که نه مونږ باید دا جرګه قومي ساحو او اولسونو ته ورواستوو. د صوبې ګورنر په دې هکله له خپل سیاسي مشاور سره کتنه کړې وه او داسې فیصله یې کړې وه چې تر هغه پورې چې جرګه قومي سرحدونو ته ننوتلې نه وي، تر هغه پورې به دوی هېڅ عکس العمل ونه ښیي.

مونږ وزیرو، مسودو، افریدو او باجوړ ته جرګې ولېږلې. هغه جرګه چې افریدو ته روانه وه، خپل منزل ته بې له ربړه ورسېدله، مګر هغه خدایي خدمتګاران چې د باجوړ جرګه یې جوړه کړې وه، له ډېرو

مشـــکلاتو ســـره مخــامخ شــول. د ملکنــۍ سیاســي ایجنــټ د رښا زایــي خانــان د لیــارې پــه اوږدو کــې وظیفــه دار کــړي وو. کلــه چــې زمــونږ د جرګــې غــړي ســخاکوټ تــه ورســېدل، د خانــانو لخــوا یــې مخــه ونیولــه شــوه او ورتــه وویــل شــول چــې ببېرتــه پــه شــا وګرځــي، ځکــه چــې دوی بــه په هیڅ ډول اجازه ورنکړي چې د هغو کلیو او قریو ته ور داخل شي.

د جرګـــې مشـــر کمـــدر خـــان خانـــانو تـــه وویـــل: «مـــونږ خـــدایي خدمتګاران یاستو او مونږ دلتـه د دې لپـاره راغلـي یـو چـې هېـواد مـو ممکــن لــه ډېــرو کړکیچونــو او کشــالو ســره پــه نــږدې راتلــونکي وخــت کــې مخــامخ شــي. مــونږ غــواړو چــې لــه تاســو ســره غونــډه او مشــوره وکــړو چــې پــه دې هکلــه بایــد څــه اقــدام وشــي.» لــېکن خــان صــاحبانو د دوی دې غوښــتنې او بلنــې تــه کــوڼ غــوږ ورواړاوه او یــوازینی جــواب یــې (نــه !) ؤ. دا ځکــه چــې دوی د سیاســي ایجنــټ لخــوا هلتــه استول شــوي وو، نــو د دوی وفــاداري یــوازې پــه هغــه ډډه کولــه او بــس. بیــا کمــدرخان ورتــه وویــل چــې کلــه چــې خــدایي خدمتګــار یــو ګــام پــه مــخ واخلي، ببېرته پر هغه باندې شاته نه درومي.

ورو ورو شــور او زوږ جــوړ شــو او ډېــر خلــک ســره غونــډ شــول. خــان صــاحبانو غوښــتل چــې جرګــه پــه زور لــه خپلــو کلیــو او قریــو څخــه وباسي، مګــر کلــه چــې ورڅرګنــده شــوه چــې د اولــس زړه ســوی د خــدایي خــدمتګارانو پــه لــوري و او کــه چېــرې دوی د هغــوی پــر ضــد کــوم خنډونه اچول، نو لوی فساد او جګړه به ورڅخه جوړه شوې وای.

هغــه وو چــې مجبــور شــول چــې اجــازه ورکــړي، وروســته خانــان زمــا لیــدنې تــه راغلــل او مــونږ د مینــې ورورولــۍ او هېــواد پــالنې پــه هکلــه اوږدې خبــرې وکــړې. خانـــانو لـــه مـــا څخـــه وغوښـــتل چـــې خـــدایي خــدمتګارانو تــه لارښــوونه وکــړم چــې بــاجوړ تــه د ملکنــۍ لــه لیــارې لاړ نشـي او کومــه بلــه لیــاره د ځــان لپــاره پیــدا کــړي. هغــه وو چــې مــا کمــدر

خان ته یو لیک ورواستاو او ورڅخه مې وغوښتل چې د ملکنډ په سرک لاړ نشي او د اتمانخیلو له لیارې که څه هم اوږده وه لاړ شي.

نومړي دا کار وکړ او د اګرې له لیارې اتمانخېلو ته لاړ. د لیارې په اوږدو کې د کاکا خېلو د قوم د میانو لخوا یې لار نیول شوې وه. کله چې خدایي خدمتګاران د میانو له یوه کلي څخه تېرېدل، د دې کلي ټول خلک را ووتل او بې له کوم یوه ځرګند سبب څخه یې وربانديې حمله وکړه. خدايي خدمتګاران یې ونیول، په سړک یې را غوځار کړل او بې له زړه سوي یې ووهل، دوی په دې هیله وو چې ګوندې سیاسي ایجنټ به د دوی په دې باتوري خبر شوي وي چې خدايي خدمتګارانو ته یې څنګه سبق ورښودلی دی ! ځینې بې خبره او ناپوهه خلک تل تر تله د وخت حکومتونو ته وفادار وو او دا وفاداري تر دومره اندازه پورې وه چې دوی به تر چترال پورې د برتانوي لښکرو ترمخ مارش پیل کړ او هرڅه به یې چې لاسته ورتلل لوټول به یې. کله چې جرګه په پای کې باجوړ ته ورسېده، په هغه ځای کې د استعمار ځینو وفادارو ډېر زیات خنډونه د دوی په مخکې واچول او داسې پروپېګنډې یې خپرې کړې چې کله چې سرخ پوشان «سره کمیسې» راورسېږي، نو څنګه چې ټول هندوان دي هر څوک یې چې مړه کاندي خدای به یې ښه عوضونه ورکړي !

یو ځل د باجوړ د قریې ځوانانو یوه عجیبه نظریه لرله، هغوی داسې فکر وکړ چې له خدايي خدمتګارانو څخه د هدف په شان ته کار واخلي، مګر مشرانو او سپین ږیرو یې دوی له دې کار څخه منع کړل، دوی وویل: «تاسو غم مه خورئ ! دا سرخ پوشان هېڅ ځای ته نه رسېږي، آیا داسې نه ده؟ راځئ ورشو او ورڅخه پوښتنه وکړو» دوی د یرې ته د خدايي خدمتګارانو د لیدلو لپاره ورغلل او له

هغــوی څخــه يــې پوښــتنه وکــړه چــې دوی څــوک وو او چېرتــه روان وو.
عبـد الملک اسـتاد چـې د پښــتنو لـوی شـاعر وو ولاړ شـو او جـواب يـې
ورکړ:

«مــونږ ورونــه ياســتو، مــونږ خــدايي خــدمتګاران يــو، د خــدای پــه خدمت کې، پاچـا خـان مـونږ دلتـه راسـتولي يـو چـې تاسـو تـه ووايـو چـې زمــونږ هېــواد لــه ډېــر لــوی خطــر ســره مخــامخ دی، دا خطــر بــه د لــوی سـېلاو پـه شـان تـه وي، پاچـا خـان مـونږ تـه لارښـوونه کړې، چـې پښـتانه وپوهــوو، بېــداريــې کــړو او کلــه چــې دا ســېلاو و راورســېږي، مخکــې له مخه تياري ولري چې د هغه څپې يې لاهو نکړای شي».

د عبـد الملک دې خبـرو پـه خلکـو بانـدې ښـه اغېـزه وکـړه او سـپين ږيــري ځوانــانو تــه ډېــر پــه غصــه شــول. پــه دې ټولــو برســېره د ځينــو کســانو تخريــب پــه بــاجوړ کــې د خــدايي خــدمتګارانو پــر ضــد لا پســې ډېـر شـديد شـو او نومـوړي واقعـاً پـه دې ځـای کـې اغېزنـاک کـار وکـړای شو.

مګــر چــا دا کــار نشــو کــولای چــې د پښــتنو فکــر واړوي ځکــه چــې مــونږ د پښــتنو پــه مــنځ کــې پــوره ځــای پيــدا کــړی و او پوهېــدل چــې آزادي څـه ده او د خپلـو ځـانونو لپـاره څـه وکـړي، دا هـم اوس لـه امکـان څخه لرې خبره وه چې اوس دوی څوک د اسلام په نوم وغولوي.

***

# د پښتنو ترمنځ وېش

زما په زړګونو ملګري د هريپور په هزاره مرکزي جېل کې بنديان شوي وو. کله چې د هغوی يو ډېر شمېر بېرته خوشي شول او لږ شمېر يې لاپاته وو ، زه يې هغه جېل ته واستولم. زمونږ څو تنه تر شديد کنترول او نظارت لاندې وو. ما له ځانه سره پرېکړه وکړه چې د دې په ځای چې بېکاره ناست يم بايد څه کار وکړم، هغه وو چې له حکومت څخه مې غوښتنه وکړه چې د فيتو اوبدلو وظيفې ته مې واستوي. په هغه زمانه کې فيته اوبدونکو ته د پنځه ويشت فوټه اوبدلو په مقابل کې پنځه ويشت پيسې ورکول کېدلې.

زما ډېرو ملګرو له دې ليارې ډېرې پيسې وګټلې او سپما يې وکړه، مګر يوه يې هم دا سپما د ځان لپاره ونه لګوله، بلکې هره سپما يې زمونږ مرکز ته ولېږل شوه. او بل يو اځينی کار نه ؤ چې مونږ کاؤ. زمونږ د خدايي خدمتګارانو زيات شمېر چې په دې جېل کې وو ، بېسواده وو او ما وکولای شول چې د دوی لپاره د ليک لوست زمينه برابره کړم. کله چې يې د بند موده پای ته ورسېده ډېر لږ شمېر يې بېسواده پاتې وو.

فکر کوم چې مناسبه به وي چې د اجنسيو په هکله څه ووايم. ما مخکې له مخه په دې هکله چې د پښتنو هېواد څنګه وېشل شوی، څه ناڅه ويلي دي- لومړی د انګرېز لخوا- او س د پاکستان په توګه، مګر نه غواړم چې په دغه بې شرمانه وېش او د سيسه باندې ډېر وخت ضايع کړم. په ځای يې بايد لږ څه د اجنسيو په هکله وويل شي.

د شمال لوېديز صوبه سرحد هغه قريې چې د چلندويي اسامبلۍ لخوا په حقيقت کې د ګورنر لخوا اداره کېدې، د مسکونه قريو په نامه ياد يدلې. د دغو قريو او آزادو قبايلو ترمنځ يوه ډالي سيمه (بفرزون) چې له ايجنسيو څخه عبارت ده پرته وه.

دوی د سياسي ايجنټ ترمستقيمې اداري لاندې راځي. د دوی لپاره

قانون نشته- اصول نشته او د سیاسي ایجنټ د امر په مقابل کې مرافعه نشي غوښتلی.

د دغو ایجنسیو تور بخته او بد مرغه اولس بېسواده او ناپوهه ساتل شوي. دوی تر دومره حده پورې ځپل شوي او مظلومان کړی شوي دي، چې مړینه او ژوند یې د فرد په لاس دی. له بلې خوا دوی اجازه لري چې وسله او ټوپک له ځانونو سره وګرځوي. دوی داسې اجازه هم لري چې یو بل ووژني ! غلا وکړي ! او د ژوندانه تر پایه د یوه او بل د ښمنان وي ! ! نو په دې هکله دوی تل تر تله د سیاسي اجنټ تر ګوتې لاندې ساتل شوي- دوی په لوی خطر کې ژوند کوي او د ځان ساتنې قیمت د عزت النفس او بشري غرور تر پښو لاندې کولو ورته تمامېږي.

له دې ډالي سیمې څخه منظور دا دی چې که چېرې د قبایلي سیمو لخوا په مسکونه قریو حمله وشي، نو لومړنی تاوان به د دې سیمې او سېډونکو ته متوجه وي. دا وګړي لکه د قبایلي سیمو په شانته آزاد نه دي- هغوی بېوزلي او ځپل شوي دي او د سیاسي اجنټ په زړه برابر ژوند او مړینه لري. دوی منظم قانون، اصول او محکمې لکه د نورو سیمو په شان ته نه لري. لومړی به انګرېزي لښکرې او ژاندارم پولیس په دې ځای کې ځای په ځای کړل شوي وو- او اوس یې پاکستاني پوځونو ځای نیولی دی. کله چې زه په جېل کې وم چرګې به مې ساتلې، هګۍ مې خرڅولې او عایدات مې د خدایي خدمتګارو مرکز ته لېږل.

ما به چرګانو ته دانه پخپله ورکوله. کله به چې ما د دانې ورکولو په وخت کې ورپسې نارې، نارې کړې ټولې به راټولې شوې، زما په سر- اوږو او زنګنونو به راپورته شوې او دانه به یې زما له لاسونو ټولوله.

یوه ورځ کرنیل سمیت چې عمومي پلټونکی ؤ، د هریپور جېل ته راغی. دا هم هغه کرنیل سمیت ؤ چې په ۱۹۳۰ کال کې د هریپور بندیخانې سپرانډنټ ؤ او له بندیانو سره یې ډول ډول ظلمونه او ناوړه رویه کوله. مګر اوس یې طبیعت ګرځېدلی ؤ- خورا ښه انسان او له ما سره یې ډېره ښه

وضعه کوله. حقیقت خو دادی چې برتانویان پخپله زړور او هېواد پالونکی کام دی، نور زړور او هېواد پالونکي خلک یې هم خوښېږي، کله چې کرنیل سمیت زه ولیدلم چې چرګو ته مې دانه ورکوله، نو له نورو ملګرو یې اجازه رااخیستله، غلی زما شاته راغی او ننداره یې کوله، څه شېبه وروسته یې بیا وویل:

«ورځ په خیر !» کله چې ما پورته وکتل، ده بیا وویل: «په څه کار دې لاس پورې کړی دی؟»

ما ورته وویل: «په دې کې د بشر لپاره ډېر لوی درس پروت دی. ګوره ! چرګان په دې ښه پوهېږي چې په حقیقت کې زه د دوی دښمن یم، دانه ځکه ورکوم چې د حلالولو لپاره مزي (چاغ) شي. مګر څنګه چې دوی پر ما ګران دي، په ډېر ګرانښت دانه ورکوم او مینه ورسره کوم، نو وینې چې زما پر سر او اوږو بې له دې چې کومه وېره ورسره وي- ناست دي. آیا دا د بشر لپاره لوی درس ندی؟ کله چې مونږ کولای شو چې په مینه حیوانات (څلور بول) د ځان ملګري کولای شو، نو آیا دا امکان نه لري چې انسانان چې د خلقت تاج او اشرف المخلوقات دی، د ځان ملګري کړو؟ مستر سمیت عجیبه سړی ؤ، نوموړي به تل ترتله ویل که چېرې پاکستان جوړ شي، نو دی به یوه ورځ هم په هغه هېواد کې تېره نکړي او رښتیا هم داسې وه، کله چې پاکستان جوړ شو، نوموړی په لومړني ګاډي (رېل) کې انګلستان ته لاړ.

په **۱۹۴۵** کال کې زمونږ وزیرانو فکر او پرېکړه وکړه چې باید زمونږ د پښتنو سیمه ځانته پخپله وزارت ولري. که چېرې مونږ دا وزارت جوړ کړای شو، نو په نورو ګټو برسېره به یوه لویه ګټه دا وي چې زمونږ هغه سیاسي بندیان چې درې کاله یې په جېل کې تېر کړي دي له بند څخه به خلاص شي. یوه جرګه ګاندي ته واستول شوه چې هغه ته دا حقیقت بیان کړي چې ګوندې هغه حالت چې په هندوستان کې مخ پر وړاندې روان دي له هغه حالت سره ډېر توپیر لري، کوم چې د پښتنو په سیمه کې دی. ګاندي په جواب کې ورته وویل، ده د سیاسي بندیانو د خلاصولو له واقعیت سره

موافقه لرله او زياته يې کړه چې په دې هکله بايد له ده سره مشوره وکړی شي. هغه وو چې يو تن نماينده ما ته جېل ته راغی او په دې هکله چې ګاندي څه ويلي و ماته يې خبر راکړ او دا يې هم راته وويل چې انګرېزانو نه غوښتل چې ما له جېل څخه وباسي. که چېرې وکولای شي چې د پښتنو په سيمه کې يو وزارت جوړ کړي نو ټول خدايي خدمتګاران به له بند څخه خوشې کړای شي.

لېکن نوموړی (نماينده) ماته قناعت نشو راکولی، ما ورته وويل چې زمونږ د سياسي بنديانو په هکله چرت مه وهئ او زياته مې کړه چې زما په خيال داسې يو وزارت چې پوره پياوړتوب ونه لري د دې په ځای چې ګټه ورسوي- تاواني به وي.

ما د وزارت له جوړولو سره موافقه نه لرله، بلکې په دې خيال وم چې که چېرته کوم ډول قونسل جوړ شي ښه به وي. په **۱۹۴۵** کال د مارچ په مياشت کې دا وزارت جوړ شو او ټول سياسي بنديان آزاد شول.

کله چې زه له جېل څخه خوشي شوم، نو سمدلاسه مې پخپل کار پيل وکړ او حکومت هم په ټول قدرت سره د خپلو د سيسو ماشين په کار واچاوه چې زما فعاليتونه شنډ کاندي. په حقيقت کې د اورنګزېب خان وزارت زمونږ لپاره په غير مستقيم ډول لوی کومک ؤ ځکه چې خلک ژر تر ژره وپوهېدل چې څومره دا وزارت د خلکو په خدمت کې ؤ او څومره خدايي خدمتګارانو د عامو اولسونو لپاره ګټې رسولې. اورنګ زېب د خلکو لپاره هېڅ ونکړل، نوموړي هغه څه کول چې د برتانويانو لخوا به ورته ويل کېدل او يا دا چې د ده په ځاني ګټه پورې يې اړه درلوده.

مګر وروسته کله چې په ځای يې ډاکترخان صاحب راغلو، نوموړي ترکومه پورې يې چې په واک او قدرت کې ؤ، تر هغه پورې يې د خلکو لپاره ګټې ور واړولې.

له ټولو غوره دا خبره ده چې دوی د برتانويانو د لاس آله نه وو، د دوی مينه او زړه سوی له خپلو خلکو او اولس سره وو.

# ریفرنډم او انتخابات

ما د ۱۹۴۵ او ۱۹۴۶ کلونو له انتخاباتو سره موافقه نه لرله، ځکه ما خیال کاوو چې که چېرې مونږ په انتخاباتو کې بریالي هم شو، نو تر هغه پورې چې د خلکو په ګټه کار ونکړای شو، نو بې مانا شان ته ښکاربږي. غوره او د غور وړ خبره دا ده چې مونږ په انتخاباتو کې بریالیتوب د دې لپاره نه غوښتلو چې په خلکو حکومت او حاکمي وکړو، بلکې مونږ د خلکو لپاره خدمت کول غوښتل.

(له دې وروسته ټول سرخط) ما د کانګرس د چلندویي کمېټې او په کلکته کې د پارلماني بورډ په غونډو کې برخه واخیستله. له دې نه وروسته چې ما پر اوضاع او حالاتو ګاندي ته احوال ورکړ، ورته مې وویل ما نه غوښتل چې په انتخاباتو کې برخه واخلم. ګاندي له ما سره دا خبره ومنله. پارلماني بورډ هڅه وکړه چې زما نظر بدل کړي، مګر بریالي نشول. کله چې د چلندویي کېمټې غونډې پای ته ورسېدې- زه بېرته خپل کلي ته راستون شوم او په عادي ډول مې پخپل کار پیل وکړ. که څه هم ما په انتخاباتو کې برخه اخیستل نه غوښتل، مګر په کور کې بېکاره کېناستل هم راته درونډ عیب ښکاره کېده. ژر تر ژره پخپل کار کې پوره بوخت شوم او په صوبه کې مې په ګرځېدو پیل وکړ. دې کار ماته دا ښه فرصت راکړ چې د حکومت هغه ماشین چې زما پر ضد یې فعالیت کاؤ را څرګند شي. ماته څرګنده شوه چې حکومت په پېښور کې اسلامیه کالج او نور ښوونځي ترلي وو او له شاګردانو څخه غوښتنه شوې وه چې د مسلم لیګ لپاره د رایو په لاس ته راوړلو کې هڅه وکړي. ما برتانوي ښځې ولیدې چې د رایو په لاس راوړلو لپاره به کورونو ته رواني وې او په ډېره زړنګۍ به یې د خلکو له رواج سره سم د درناوي په حال کې ویل: «زه ستاسو د لیدلو لپاره راغلې یم، نو تاسو باید ماته ټکری (پړونی) راکړئ. او دا پړونی چې زه یې له تاسو څخه

غوارم، ستاسو رایه ده.»
د بېگم شهباز لور هم له ځو نورو نجونو سره له پنجاب څخه راغلې وه. چې په دغه انتخاباتو کې برخه واخلي. یو ګڼ شمېر زده کوونکي د علیگړ مسلم پوهنتون، د کلکتې له اسلامیه کالج، کارگر او د مسلم لیگ نور غړي د هندوستان له ډېرو سیمو څخه د پښتنو سیمو ته را استول شوي وو. حکومت او مسلم لیگ ځینې مذهبي مشران هم د دې انتخاباتو لپاره موظف کړي وو. کله چې ما ولیدل چې برتانویانو او د هغوی ښځو د مسلم لیگ په گټه په ځومره مینه او جدیت سره کار کاوو، نو ما هم له ځان سره پرېکړه وکړه چې په انتخاباتو کې برخه واخلم. اوس نو د انتخاباتو نېټې ته یوازې یوه میاشت پاتې وه. د ۱۹۴۶ کال د انتخاباتو غوره موضوع چې د متحد هندوستان وروستني عمومي انتخابات وو عبارت له: هندوستان یا پاکستان- هندو یا مسلمان، اسلام یا کفر او جومات یا کلیسا وو. د مسلم لیگ طرفدارانو له خلکو غوښتنه کوله چې:«آیا تاسې خپله رایه جومات ته ورکوئ او که کلیسا ته؟» پښتانه د هندوستان د نورو مسلمانانو برعکس له سیاست څخه خبر وو، دوی په هر څه ښه خبر وو او هیڅا د اسلام په نوم نشو غولولای. هغوی د اسلام په رښتیني مانا پوره خبر وو. هغوی دا خبره د نشنالستي جنبش په دوره کې درک کړې وه، هغوی ته تر هر څه د هېواد مینه او خلکو خدمت درونډ او پتمن ؤ. د هندوستان په هېڅ یوه بل ځای کې مسلمانانو پداسې نشنالستي جنبشونو کې برخه نه وه اخیستې. د رایو گټلو ورځ راورسېدله، برتانویان ټول د مسلم لیگ د مرستې او د خدایي خدمتگارانو په شنډولو پسې را ووتل، مگر د خدای په مرسته مسلم لیگ مغلوب شو او مونږ په انتخاباتو کې په پوره اکثریت بریالي شوو. حکومت او د هغه ماشین هره هڅه او هر څه وکړل چې مونږ مغلوب کړي. مونږ دا خبره د حکومت له لوري ډېره ناروا وبلله او کله چې غونډه وکړه، په هغه کې داسې پرېکړه وشوه چې زمونږ لپاره د صدر جوړول تر دې شرایطو لاندې له امکان څخه لرې ؤ. مونږ له وزارت څخه د انکار کولو په ترڅ کې داسې

غوښتنه وکړه چې که چېرې له مونږ څخه څوک د صدر جوړول غواړي، نو مونږ باید پوره واک ولرو چې هغو حکومتي افسرانو ته چې په انتخاباتو کې یې د قانون او اصول په خلاف زمونږ پر ضد فعالیت کړی سزا ورکړو.
ډاکتر خان صاحب زمونږ په دې پرېکړه خبر شو. ده دا خبر سردار پاټېل ته ولېږه ځکه چې د نو موړي په فکر مونږ باید خپل وزارت تشکیل کړی وای، سردار پاټېل صوبه سرحد ته مولانا ابوالکلام آزاد راواستاوه چې له مونږ سره د دې پرابلم د حل په لیاره کې مرسته وکړي. مونږ له مولانا آزاد سره په پېښور کې یوه غونډه وکړه او سوچه مو ورته وویل چې تر هغه پورې چې حکومت زمونږ غوښتنو ته غاړه کې نږدي، مونږ وزارت جوړول نه غواړو. وروسته مولانا ازاد دهلي ته لاړ او د وایسرا لخوا یې یو لیک چې ګونګ او مبهم شانته و- راوړ، په دې لیک کې لیکلي وو چې حکومت زمونږ له غوښتنو سره موافقه لري. له هغه نه وروسته مونږ له خپلو ملګرو سره لیدنه وکړه اود وزارت په جوړولو فیصله وشوه او داسې پرېکړه مو وکړه چې باید ټول واک له مرکزي کمېټې سره وي. د ۱۹۴۶ کال د جولای په میاشت کې زه او مولانا ازاد د خدایي خدمتګارانو او د سرحد لخوا د مرکزي اسامبلۍ غړیتوب ته وټاکل شو. د دې اسامبلۍ وظیفه دا وه چې د هندوستان لپاره اساسي قانون جوړ کړي. د صوبه سرحد څخه مونږ درې غړي وو چې له مولانا ازاد، ما او یوتن بل چې د هزاره ضلعې اوسېدونکی و- څخه عبارت وو. په دې ضلع کې مسلم لیګ ډېره هڅه وکړه اوڅوکۍ یې ګټلې وه. دا حقیقت چې مونږ په دې خبره برسېره چې حکومت د هندوستان مسلمانان او نور داسې ډېر په انتخاباتو کې زمونږ پر ضد وو او بیا هم مونږ پوره اکثریت ګټلی ؤ، یوه څرګنده مانا لري، هغه دا چې اولسونو او اکثریت زمونږ ملاتړ کاوه، نو هغه وو چې کله چې په ۱۹۴۷ کال کې مونږ په زور او ظلم بل ریفرنډم ته وتړل شو، څرګنده بې عدالتي وه او مونږ نه غوښتل چې داسې کار دې وشي. مونږ پرېکړه وکړه چې د دې په ضد اعتصاب وکړو ترڅو نړۍ په دې بې عدالتۍ چې له مونږ سره کېدله- خبره شي. دا چې بل

«نوی ریفرنډم» یوازې د ویسرای امر وي- نه ځ بلکې دا انتخابات بې مانا ، نامناسبه متعصبانه او یو طرفه وو -که برتانویانو غوښتل چې دا به د هغوی لخوا مونږ ته خدای پاماني تحفه وي- مګر مونږ دا تحفه ونه منله. په هندوستان کې په هر ځای کې له هرې اسامبلې څخه پوښتنه وشوه چې ایا دوی غوښتل چې له پاکستان سره لاړ شي او که په هندوستان کې پاتې شي، مګر له صوبه سرحد څخه دا پوښتنه چا ونکړه او نه دا حق مونږ ته راکړ شو.
دا د ټول پښتون ټبر لپاره یو تعجیز و او مونږ به یې په هیڅ ډول او په هیڅ حالت کې ونه منو او له یاده به مو ولاړ نشي.
زه باید په دې خبره اعتراف وکړم چې حتی کانګرس هم په دې هکله چې مونږ ورڅخه هیله لرله کومه مرسته ونکړه او دا تریخ حقیقت به له ما سره تل تر تله پاتې وي.
هغه وو چې مونږ یې لاسونه او پښې تړلي د دښمن په لاس کې ورکړو !! د کانګرس چلندویې کمېټې لکه څنګه چې یې د اسلام په هکله زوړ پورته کړ، زمونږ لپاره یې غوړونه کاڼه اچولي وو. کله چې ګوپنیات باردولي د لارنس د پلان په اساس په ۱۹۴۲ کال کې د ګروپ بندۍ د مادې له منلو څخه غاړه وغړوله، نو د کانګرس چلندویې کمېټې د نومونړي د دریځ ملاتړ وکړ.
نو په دې حال کې او وروسته له دې څخه د دې پوښتنې ځای نه و پاته شوی چې ایا ما غوښتل چې په هندوستان کې پاته شم او یا دا چې پاکستان سره لاړ شو. کانګرس زمونږ لاسونه وتړل او د دښمن په ګوتو کې یې ورکړو ، نو په دې ټولو خبرو برسېره بیا هم ما پداسې بې مانا خبره لکه (په کوم خوا لاړ شم) له ځان سر لرلې نو دا به ضروري زما د پښتنولۍ او پښتني رواج پر ضد وای. د پاکستان په مقابل کې مونږ دریځ تر دې څخه ډېر د توجه وړ ندی.
هم دا دلیل ځ چې مونږ پخپله صوبه کې مسلم لیګ ته ماتې ورکړه او نور به په دې هکله سر خوږول بې ځایه وي.

کوم سوال او غوښتنه چې له ماسره موجوده وه هغه دا وه چې که چېرې څوک ریفرنډم غواړي، نو اساسي موضوع باید دا وي چې پښتونستان که پاکستان؟ مګر هېچا زما خبرو ته غوږ ونه نیو او ریفرنډم په زور او ظلم راباندې ومنل شو. کله چې مونږ په دې ریفرنډم کې د برخې اخیستلو څخه غاړه وغړوله، نو د مسلم لیګ دغولونې، حرص او ځان غوښتنې لپاره لیار هواره وه او هر څه یې چې په وس کې وو په کار یې واچول. په دې ټولو برسېره بیا یې هم په سلو کې پنځوس رایې وګټلې چې دا فیصدي په هېڅ دلیل او هېڅکله د یوه اولس او یوه هېواد مقدرات نشي فیصله کولای.
برتانویانو لکه څنګه چې د ژبې په سر د عدالت او بې طرفۍ دعوی کوله په رښا ورځ یې د پولیسو او پوځ قدرت په کار اچولی ؤ. دوی د رایو د ګټلو ځای ته هم پولیس ور لېږلي وو او د زیات شمېر خلکو لاسلیکونه چې نه یې غوښتل په رای ورکولو کې برخه واخلي په بې شرمۍ سره د رایو په پاڼو کې درج کړي وو. په ۱۹۵۸ کال کې کله چې زه د هریپور هزاره په مرکزي جېل کې وم، زما یوه تن بندي ملګري کرنیل بشیر د ریفرنډم په هکله دا سې کیسه راته وکړه. نوموړی په پوځ کې و او له خپل یونټ سره بنو ته نږدې په لتامبر کې ځای په ځای ؤ. د رایو د ګټلو په ورځ (نوموړي وویل) چې ده خپل یونټ درې ځله هغه ځای ته وروستلی و تر څو د پاکستان لپاره غلط او دروا غ لاس لیکونه وکړي او غلطې رایې راجستر کړي. وروسته ده ته په استخباراتو کې یو لوی پوست ورکړ شوی و او په پای کې یې له کار کولو لاس ختلی و. هغه وو چې بیا د کوم جرم په هکله په دوه کاله جېل محکوم او تصادفي مونږ دواړه په یوه جېل کې وو. له دې کبله چې سرخ پوشانو او خدایي خدمتګارانو په ریفرنډم کې برخه نه وه اخیستلې هغه وو چې حکومت، مسلم لیګ او نورو پالندویانو یې د خدايي خدمتګارانو په نوم په زرګونو رایې د پاکستان په ملاتړ ورکړې وې. حتی د خان امیر محمد خان نوم هم په دروغو او جعل کارۍ سره را جستر شوی ؤ.

# د کابینې ماموریت

مسلم لیګ د هندوستان د اساسي قانون د جوړولو له اسامبلې سره برخه وانه خیستله. ما دا خبره د مسلم لیګ له مسلمانو غړو سره په څو ځله مشوره وکړه او ورځخه مې وغوښتل چې د دې لپاره چې هندوستان یو رښتینی دیموکراتیکي جمهوریت شي، نو باید دوی له دې کار کولو څخه ډډه ونکړي. «که چیرې هندوانو له دې سره موافقه کړې وای، نو ما به خپله صوبه د فدراسیون په ډول له دوی سره ګډه کړې وای او که هغوی نه منلی، نو مونږ به له فدراسیون څخه وتلي وای. او زه اوس نو په دې هڅه کې وای چې له فدراسیون څخه ووځم او ځانګړی دولت به جوړ کړی شي» مګر مسلمانان دومره اغوا شوي وو چې هېڅ څه او هېچا ته یې غوږ نه ایښودلو. هغوی تل داسې جواب وایه:« ته هندو شوی یې !» په دې وخت کې د لارد پینیک لارنس تر مشرۍ لاندې یوه جرګه له لندن څخه راورسېده.
زه د هندوستان لخوا ددې جرګې غړی وم چې له دې جرګې سره خبرې وکړم. مونږ څلور تنه د کانګرس غړي وو چې له مولانا ابوالکلام آزاد- جواهر لال نهرو- سردار پاټیل او زما څخه عبارت وو. د مسلم لیګ لخوا هم څلور غړي وو: جناح- لیاقت علي - نواب اسماعیل او عبدالرب نشتر. مونږ په سیمله کې خپل کنفرانس پیل کړ. کله چې مونږ په دوېمه ورځ د غونډې اجنډا پیل کوله، ومو ویل چې تر ټولو لومړی غوره خبره داده چې ایا برتانیه غواړي چې هندوستان ته آزادي ورکړي او خپل پوځ وباسي اوکه نه؟ مونږ وویل: «مونږ نه غواړو چې په نورو خبرو خپل وخت ضایع کړو» «او اصلي خبره مو له یاده لاړه شي» هغه وو چې په راتلونکې غونډه کې جواهر لال نهرو همدا دوه پوښتنې وکړې:
وایسرای- لارد وافل- نهرو ته وویل. «مونږ په رښتیا غواړو چې له هندوستان څخه لاړ شو، مګر هندوستان چا ته خوشې کړو؟ ایا تاسو دا پرېکړه کړې ده؟ جواهر لال نهرو جواب ورکړ: «کولای شئ چې تاسو یې که

غواړئ مسلم ليګ ته يې خوشي کړئ، خو غوره دا ده چې تاسو ووځئ». دې خبرې پر جناح هم اغېزه وکړه او ويې ويل: «ډېر ښه ! دا به مونږ او تاسو بيا فيصله کړو» هغه وو چې غونډه وځنډول شوه. جناح صاحب او جواهرلال نهرو بلې کوټې ته لاړل. دوه ساعته وروسته دواړه راغلل. دوی پرېکړه کړې وه چې يو درې کسيزه کمېټه بايد جوړه شي چې غړي به يې يو تن له کانګرس څخه، بل له مسلم ليګ څخه او درېيم به داسې څوک وي چې دواړه خواوې يې ومنلی شي- ټاکل کېږي. هره فيصله چې زمونږ په اکثريت وشي د منلو وړ به وي او که چېرې کوم اختلاف پيدا شي، نو د دې درې کسيزې کمېټې پرېکړه به وروستۍ وي. مونږ ته دوه ورځې را کړل شوې چې دا کمېټه وټاکو. په درېيمه ورځ کله چې مونږ غونډه وکړه لارډ پتيک لارنس چې خورا د ښه خوی خاوند انګرېز و، د جناح څخه وپوښتل چې څه فيصله يې کړې وه، نوموړي له ټول وضعيت او داسې پېښې څخه انکار وکړ. ما نشتر صاحب ته اشاره وکړه چې زما خوا ته راشي او ورڅخه مې وغوښتل چې له جناح صاحب څخه هيله وکړي چې اوس هرڅه ويجاړ او خراب نکړي. څنګه چې ګاندي زما د کانګرس ملګرو ته زما تر مخه ويلي وو چې مسلمانانو ته به هرڅه دوی وغواړي ورکړل شي په دې شرط که د دوی غوښتنې اکثريت وي. نشتر صاحب لاړ او د جناح د څوکۍ څټ ته ودرېد، مګر هغه ځان پوه نکړ او بې اعتنا يې پرېښود. نشتر صاحب هلته څو دقيقې ولاړ و او وروسته بېرته پخپله څوکۍ کېناست. په پای کې هر څه ويجاړ شو. په حقيقت کې برتانويانو هېڅ وخت نه غوښتل چې د مسلمانانو او هندوانو ترمنځ دې روغه او سوله جاري وي او دا يې عزم کړی و چې هېواد ووېشي. کله چې دا ورڅرګنده شوه چې د کانګرس او مسلم ليګ ترمنځ پرېکړه له امکان څخه لرې وه نو کابينې پخپله فيصله وکړه. کله چې يې خپل پلانونه اعلام کړل نو جرګه بېرته لندن ته ستنه شوه. وايسرای يو منځنی حکومت جوړ کړ. د برتانيې حکومت اعلام وکړ چې برتانيه به په شپږ مياشتو کې له هندوستان څخه ووځي.

# سرحدونو ته د جواهر لال تګ

څنګه چې په مفکورو کې توپير موجود و، نو کانګرس د موقتي حکومت په جوړولو کې له مداخلې څخه ډډه وکړه، مسلم ليګ پر ټينګار وکړه چې دوی به دا ډول موقتي حکومت جوړ کړي، مګر هغوی ته د وايسرای لخوا اجازه ورنکړل شوه. په پای کې کانګرس حاضر شو چې دا ډول حکومت جوړ کړي.
کله چې حکومت جوړ شو، نو ما جواهر لال ته وويل چې په شمالي صوبه سرحد کې په ميليونونو روپۍ لګېدلې او مصرف شوې دي، مګر اولس ته له دغو ټولو لګښتونو څخه هېڅ ګټه هم نه ده رسېدلې. ټولې پيسې برتانويانو، خانانو، ملکانو او د هغوی خدمتګارانو حيف و ميل کړې وې. «اوس واک زمونږ پخپل لاس کې دی». ما جواهرلال ته وويل «نو ولې ته پخپله هلته نه ځې، چې د قومونو او اولسونو ژوند پخپلو سترګو وګورې؟ راشه او له خلکو سره وګوره. خلک ډېر بېوزلي او ځپل شوي دي، مګر باور لرم چې په هغوی به دې مينه راشي. هغوی د لوڅو او وچو غرونو په منځ کې ژوند کوي او د ځمکې پر مخ کومې شتمنۍ هم نه لري. که چېرته کوم شی، که څه هم ډېر کوچنی وي، دوی ته ورکړ شي چې ژوند يې لږ شان ته سيخ شي، که چېرې د دوی د ماشومانو لپاره ښوونځي جوړ کړل شي، نو له دوی سره به نوې هيلې او اميدونه راپيدا شي او ټولې هغه پېښې چې وار په وار راپيدا کېږي له منځه به لاړې شي». جواهر لال زما دا خبره ومنله او وعده يې وکړه چې ژر تر ژره به قبايلي سيمو ته سفر وکړي او وبه ګوري چې قبايلي سيمو ته څه کېدای شي. مګر هغه وخت چې دی سفر ته تيار شو د وايسرای لخوا اجازه ورنکړل شوه. جواهرلال وايسرای ته وويل چې «اوس ما عزم کړی، زه بايد لاړ شم.» وايسرای ته څرګنده شوه چې جواهرلال ته که اجازه ورکړي او که نه، خپله خبره به تر سره کړي او لاړ به شي، نو هغه ؤ چې په دې هکله يې نور څه ونه ويل. مګر د

صوبه سرحد ګورنر سر اولف کيرو ته يې لارښوونه وکړه چې حقيقت ته يې متوجه دی. نوموړي ګورنر د خدايي خدمتګارانو لوړه (قسم) خوړلې دښمن ؤ او د مسلم ليګ نږدې ملګری ؤ. نوموړی ډهلي ته لاړ او هلته يې له جواهرلال سره درې ورځې تېرې کړې. هڅه يې وکړه چې له خپل تصميم څخه يې واړوي، مګر د نوموړي پرېکړه رښتينې او وروستۍ وه.
کله چې سر اولف کيرو له ډهلي څخه بېرته راستون شو، ټولو سياسي اجنټانو ته يې ښوونه وکړه چې په کومه اندازه يې چې له وسه کېږي بايد د نهرو په مقابل کې خنډونه را پيدا کړي. کله چې نهرو راورسېد نو مونږ په قبايلي سيمو کې په ګرځېدلو پيل وکړ. مونږ د لياري په اوږدو کې له بې شمېره مشکلاتو سره مخامخ شو او څرګنده پوهېدلو چې دا ټول د ګورنر کارونه وو. مونږ لومړی وزيرستان ته لاړو. په هغه ځای کې ټول سياسي اجنټان برتانويان وو. هغوی ډېر مودبه او په ډېره ښکلې رويه يې مونږ په مقابل کې ډول ډول خنډونه او مشکلات ايجاد کړل. هغوی حتی زمونږ پر ضد وسله ييز اعتصابونه برابر کړل.
کله چې مونږ د ميرانشاه جرګې ته لاړو، ما غوښتل چې خبرې وکړم مګر ټوله جرګه ولاړه شوه او په يوه خوله يې نارې وهلې چې «مونږ د هندو حکومت نه غواړو».
کله چې ازمک ته ورسېدو هلته هم داسې پېښه وشوه. وروسته کله چې وانا ته لاړو هلته دا کار بيا تکرار شو. هغه وخت چې بېرته ميرانشاه ته را وګرځېدو او له سياسي اجنټانو او اوسېدونکو سره مو وکتل، نو د خبرو په ترڅ کې مو ور څخه پوښتنه وکړه چې هغه په ميليونونو روپۍ، چې په قبايلو کې لګېدلې وې، خلکو ته يې څه ګټه اړولې وه؟ هېچا جواب رانکړای شو. ما ووېل چې دوی د پښتنو لپاره ډېر کارونه کړي دي !.
برتانوي افسر په دې خبره خوښ غوندې شو.
کله چې مونږ ډوډۍ خوړلو ته کېناستلو يوه ځوان برتانوي افسر چې د وانا و ماته وويل: ښه ! نو ته فکر کوې چې مونږ د دې هېواد لپاره هېڅ نه دي کړي ! ما جواب ورکړ، چې: « ستا له خبرې سره سم ! تاسو هېڅ نه دي کړي.

که چیرې تاسو کوم ښه او کومه ګټه رسولې وي، نو مهرباني وکړه او را ویې ښیه، چې څه؟ او چیرته؟».
له میرانشاه څخه ټانک ته لاړو او له هغه ځایه مو جندولي ته ځان ورساوه. د هغه ځای سیاسي اجنټ یو هندو ؤ چې دیوان شیو سرانلال نومېده. د دې ځای خلکو زمونږ ډېر تود هر کلی وکړ او پسه یې راته حلال کړ. مونږ له هغوی سره اوږدې خبرې وکړې او هرڅه مو چې ویل د دوی لخوا ومنل شو. جندولي ته د سړک په اوږدو کې په هر ځای کې خلک د سړک غاړې ته راوتلي وو او مونږ ته یې ښه راغلاست وایه. له جندولي څخه بېرته پېښور ته لاړو. په دا بله ورځ خیبر ته لاړو. د دې ځای سیاسي اجنټ یو مسلمان ؤ چې صاحبزا ده خورشید نومېده. کله چې جمرود ته ورسېدو و مولیدل چې یوه ډله افریدي چې له مونږ څخه لرې ناست وو، خپل بوټونه وویستل او د توهین په توګه یې زمونږ په ضد ښورول. مونږ تر تورخم پورې ورسېدو. هلته مو چای وخوړ او له هغه ځای نه لنډې کوتل ته تېر شو چې هلته ډله ډله خلک د سړک په غاړو ناست وو. څنګه یې چې مونږ ولیدلو په تیږو ویشتلو یې پیل وکړ. د سیاسي اجنټ موټر مختنه ؤ. موټر یې ودراوه او د باندې ووت.
وسله والو محافظینو په خلکو باندې څو ډزې وکړې او خلک شاته لاړل. زمونږ پر موټر هم د تیږو څو وارونه وشول که څه هم د موټر کړکۍ ماتې شوې، مګر څوک ژوبل نشول. یواځینی څوک چې زمونږ له منځه ژوبل شو، یو انګرېز ، چې له موټر څخه چې کوز شو او عکسونه یې اخیستل، نوموړی په تیږو ولګېد. سبا ورځې ته د ملکنډ اجنسۍ ته ورسېدو.
مونږ خبر شوي وو چې د ملکنډ د اجنسۍ سیاسي اجنټ پېښور ته تللی ؤ چې ګورنر ووینې. نوموړی اجنټ چې شیخ محبوب علي نومېده، ډېر بخیل او بېرحمه انسان ؤ. نوموړي زمونږ خلک په روحي ناروغیو اخته کړي وو او د ډېرو ستونزو مسوول ؤ. دا هغه محبوب علي و چې په کابل کې د برتانیې د سفیر دیوید همفري په خدمت کې و او د دې لپاره چې امان الله خان د

افغانستان لـه پاچـاهۍ وغورځـوي، پخپـل ځـان يـې ډول ډول نومونـه ايښوولي وو. بريالی شو هغه وو چې امان الله خان لاړ او په ځای يې د سقاو زوی راغی. اوس بيا پخپل وار باندې يې زمونږ په تګلاره کې پـه څو ډولـه خنډونه را پيدا کړي وو. د هغو پېښـو او خنډونو لـه منځـه يـوه هم د ملکنډ پېښه وه. يو انسان ممکن دومره کبر او غرور پيدا کړي، چې کله کله ور څخه خپل خدای او خپل ځان هېر شي او فکر کوي هرڅه چې وکړي پروا نـه لري ! مګر د خدای قهر هم ځينې وخت بې لـه دې چې څوک پـوه شي، پـه ځمکه پاخه او کلک ويشتل کوي. هر څوک پـه دې خبر دي چې يـو وخت د محبوب علي بنګله څنګه په شان او غرور ولاړه وه، مګر نن د سپېرو خاورو ثلی دی. نوموړی د خپل ژوند پـه وروستيو ګړيو کې لـه دومـره ربړونـو سـره مخامخ شو او داسې څه ور باندې تېر شول چې حتی ډېر سخت زړونه به هم د ده په حال ژړا وکړي. نوموړي يوه مېرمن او دوه لوڼې لرلې. يوه لور يې د ده په کور کې د ده د مخه د ده خوريي ووژله. هغه بله لور يې هم مړه شوه. مېرمن يې وتښتېدله او له ځانه سره يې د ده ټوله شتمني يوړله. نن حتی د ده نوم هم د چا په زړه ندی. له ده څخه نه اولاد پاته شوی او نه ښه نوم. پخپله بـه هم د لوی خدای حضور تـه چې د اعمالو شمېرندوی دی. پـه تـور مخ د جواب ورکولو لپاره وړاندې کېږي.

دا محبوب علي و چې د ملکنډ سياسي اجنټ کار يې پر غاړه و. ما له جواهر لال څخه پوښتنه وکړه چې ايا ملکنډ تـه د تللو عزم لرې او کـه نـه؟ ده پـه جواب کې وويل: چې مونږ بايد پخپلو اساساتو منګولي ولګوو ! پـه وزيرستان کې له مونږ سره پوځي محافظان وو، مګر پـه خيبر کې پـوليس زمونږ ملګري شول. ما له ډاکتر خان صاحب څخه غوښتنه وکړه چې مونږ تـه پوځي محافظان راکړي چې ملکنډ تـه لاړ شو. دا مې هم ورپسې زياتـه کړه چې کـه چېرې دی دا کـار نـه شي کولای، نـو زه بـه يـې پخپلـه لـه خدايي خدمتګارانو څخـه تيـاری ونيسـم. دا مـې ورتـه وويـل چـې يـوازې دی د پوليسو محافظان نه مني. نوموړي ماته اطمينان راکړ چې دی به بې له شکه

پوځي محافظان زمونږ د بدرګې لپاره تيار کاندي. مګر هغه وخت چې رزالپور ته را ورسېدلو، څرګنده شوه چې زمونږ د بدرګې لپاره يوازې پوليس تيار ناست وو. زه رښتيا هم چې ډېر په غصه شوم او غوښتل مې چې هغوی سمدلاسه پخپل ځای خوشې کړم، مګر څنګه چې ما له ځان سره فکر وکړ، نو دا ځل مې داسې کړنه په ځای ونه بلله ځکه چې جواهر لال زما په غوښتنه راغلی و او که چېرې ما اوس پرځای پرېښوولی وای، نو بې خونده غوندې ښکاره کېدله. مونږ ملکنډ ته لږ څه له پلان کړل شوي وخت څخه ترمخ ورسېدلو، هغه وو چې څوک زمونږ د ليدلو لپاره مخې ته نه وو راوتلي. کله چې مونږ په کلي کې وو او په چای خوړلو ناست وو، د باندې مو ځينې نارې واورېدلې او له ځان سره وپوهېدلو چې د شيخ خلک رارسېدلي و. دوی سم پخپل وخت را ورسېدل، مګر مونږ له وخت څخه لږ څه د مخه هلته ورغلي وو.
د ملکنډ په اجنسۍ کې خدايي خدمتګاران هم وو. راحت خان چې د خدايي خدمتګارانو پياوړی مشر و، ماښام زما ليدلو ته راغی او ويې ويل چې شيخ محبوب علي نور ډېر خپل اولس را غوښتی و او مونږ بايد چې متوجه ياستو. مونږ شپه په ملکنډ کې تېره کړه. شيخ به تل تر تله د ډاکتر خان صاحب تر سر وړۍ تړلې او له بده مرغه د ډاکتر لوی ضعف هم دا و چې د دا ډول باتو مقاومت يې نه درلود. کله چې سهار شو او زمونږ د روانېدو ګړۍ را ورسېدله، يو تن خدايي خدمتګار راغی او مونږ ته يې وويل، چې ډېرو خلکو د سړک غاړې څارلې او طبعاً دوی بد قصد درلود او بايد مونږ د دې مخنيوی وکړو. ما ډاکتر څنګ ته کړ او دا کيسه مې ورته وکړه. ډاکتر دا خبره شيخ ته وکړه چې هغه يې په ځواب کې وويل: «ايا زه تاته د پلار په سترګه نه ګورم؟ آيا زه پښتون نه يم؟ آيا ته داسې فکر کوې چې زه دومره منافق يم چې ستا پر ضد داسې کار وکړم؟» ډاکتر صاحب د شيخ په غوړه مالۍ باور وکړ او ويې ويل: «راشئ ! راځئ چې و خوځېږو» بې له دې چې حتی د پوليسو د بدرګې انتظار وکاږي ووت او مونږ يې هم په شا پسې

روان شو. شیخ ترمخ روان و. د جواهر لال لیاره څو تنه انګرېزان په دروازه کې ولاړ وو. مونږ موټر ورته ودراوه، تر څو هغوی له نهرو سره روغبړ وکړي. په دې وخت کې شېخ په کومه چوله کې ځان ایستلی و. کله چې مونږ له دروازې نه ووتلو اوله برتانویانو څخه تېر شولو -نو خلکو چې د باندې ولاړ وو، په تیږو ویشتلو پیل وکړ. دوی د سړک په بر (عرض) باندې یوه لارۍ موټر درولی و او زمونږ لیار یې تړلې وه. یوه ډېره زما په شا ولګېده او نږدې وو چې ضعف مې کړی وای. یو جمه دار چې له مونږ سره یې سفر کاوه او مخ ته ناست و د ډېرو مخه یې نیولې وه. د ډاکټر خان سترګې د هغه په توپانچې ولګیدې، توپانچه یې واخیستله او د موټر له کړکۍ څخه یې د خلکو په لور ونیوله او چغې یې وهلې:

«شاته لاړ شئ! او که نه ولم مو». کله چې خلکو توپانچه ولیدله په شا یې منډه واخیستله، بیا ډاکترخان صاحب ډرایور ته وویل چې لارۍ له مخې نه لرې کړي، ډرایور ووېرېدو او لارۍ یې څنګ ته کړه.

مونږ هم اوږد اسویلی وکیښ اوروان شولو، خلکو هغه شېبه چې مونږ له کلا څخه ووتلو راباندې د ډېرو باران پیل کړ او انګرېزانو دا هر څه چې پېښ شول پخپلو سترګو یې ولیدل، مګر بیا هم له نورو سره د مرستې په هکله یې کوم کوچنی اقدام ونکړ.او دا په ټول هغه حقیقت برسېره وه چې له مونږ سره نهرو چې په کابینه کې د باندنیو چارو وزیر او شمالي صوبه سرحد صدر ډاکتر خان صاحب را سره یو ځای وو بیا هم انګرېزان داسې بې اعتنا پاتې شول. کله چې د ملکنډ له غونډۍ څخه ښکته کېدلو، مجبور شو چې موټر ودروو ځکه چې کړکۍ ماتې وې او مونږ هم ټول ژوبل شوي وو. کله چې له موټر څخه ښکته شو ومو لیدل چې زمونږ پوځي بدرګه زمونږ خواته راروانه وه را ورسېدله. مستر کرتیس چې د مردان د سیمې د کمشنر مرستیال و -د دې ټولې مشر و، ده ته حکومت لارښوونه کړې وه چې د دې بدرګې په هکله زمونږ ساتنه وکړي. نوموړی زمونږ خواته را نږدې شو او له دې نه چې ځنډېدلی وو، په عذر او بښنه غوښتلو یې پیل وکړ، مګر مونږ

ښه پوهېدلو چې دا د ده او شيخ محبوب علي ترمنځ يوه جوړه شوې دسيسه او توطيه وه. مخکې له دې نه چې مونږ سفر پيل کړو، ډاکتر خان صاحب ته مې وويل چې يوه لارې بايد زمونږ مخته وي او يوه مو هم شاته وي. هر کله چې ووينځ چې خلک د سړک غاړې ته را غونډ برېږي، مخکې لارې بايد ودرېږي او خلکو ته وو ايي چې لرې شي. که چېرې يې نه منله، نو محافظان بايد له خپلو (ډنډو) څخه کار واخلي. که چېرې دا کار هم بې اغېزې پاتې شو، نو د وروستنۍ لارۍ محافظان بايد څو هوايي ډزې وکړي. کله چې له ملکنډ څخه ښکته شو، درګۍ ته ورسېدو، هلته مو هم خلک وليدل چې را غونډ شول او زمونږ لور ته يې په ډبرو ويشتلو پيل وکړ. يوه ډبره د جواهر لال نهرو په خوا را وويشتل شوه مګر ما لاس له کړکۍ څخه ويوست او د هغې تګلاره مې بدله کړه، مګر زما خپل لاس ژوبل شو. يوه تن د چتليو لوښي راوويشت، په ما او نهرو ونه لګېد مګر د ډاکترخان صاحب جامې يې بې لمانځې کړې.
په پای کې مونږ په ډېرو مشکلاتو پېښور ته ورسېدو. رښتيا خبره خو دا ده چې دا ټول ربړونه د ډاکتر خان صاحب ګناه وه. که چېرې يې مونږ پرېښودلي وای چې د خپل ځان چاره پخپله وکړو، نو مونږ به خامخا د بدرګې په هکله دومره تياری نيولی وای چې ضروري و. په سبا ورځ مونږ پخپل مرکز کې غونډه وکړه، لېکن دا ځل مونږ مخکې له مخه تياری نيولی وو او د حکومت په پلان، تخريب او نورو خنډونو برسېره بيا هم څوک دومره زړور نشول چې راشي او زمونږ غونډه ماته کړي. وروسته مونږ ډاکترخان صاحب ته خبر ورکړ چې مونږ پخپله تياری نيولی و، د ده او يا د حکومت بدرګې ته حاجت نشته. کله چې هرڅه تيار شوي و، زه له جواهرلال سره ناست وم چې خبر راغی چې څو برتانويان د ډاکتر خان صاحب بنګلې ته ورغلي او د بدرګې د تيارولو په هڅه کې دي. هغه شېبه ډاکترخان صاحب پخپله راورسېد، ما ورته وويل چې برتانوي محافظان رخصت کاندي ځکه چې زمونږ په کار نه وو. ډاکتر خان صاحب وويل: چې «پرېږده دوی دې هم

راځي» څه پروا لري، مګر ما دا خبره و نه منله او بيا مې ورته وويل چې زمونږ په کار نه دي.
زه پخپله د باندې لاړم او برتانويانو ته مې وويل هغه وخت چې زمونږ ستاسو بدرګه په کار وه هلته تاسو هيڅ ونکړل، نن زمونږ تاسو او يا ستاسو بدرګې ته ضرورت نه لرو. مونږ پخپله باندې د ځان تياری نيولی. مهرباني وکړئ، پرې مونږدئ او په مونږ پسې مه راځئ» هغه وو چې برتانويان د ملا ګوري ليدلو ته ورغلل او له هغه سره يې توطيه جوړه کړه. ملاګوري د مکې شريف د پير صاحب مريد و. توطيه دا ډول وه چې پر مونږ له پېښور څخه څوارلس ميله د باندې بايد حمله وشي.
د دې حملې نښه کړې نقطه هم هغه ځای و کوم چې خام سړک د چارسدې له پاخه سړک سره يو ځای شوی و.
مګر مونږ د دا سې احتمالي پېښو تياری نيولی و. مسلم ليګيانو هڅه کوله چې څه خنډونه رابرسېره کړي خو دومره زړورتوب يې نه درلود. له پېښور څخه په سر درياب کې زمونږ تر مرکز پورې د سړک دواړه غاړې پر خدايي خدمتګارانو چې سره يونيفورمونه يې لرل-ډکې وې. د کليو خلک چې د ملکنډ د پېښې په هکله خبر شوي وو هم له وسلو سره راغلي وو. هغوی د (سور جامو ) خدايي خدمتګارانو شاته ولاړ وو.
له خدايي خدمتګارانو سره وسله نه وه ځکه چې هغوی پر عدم تشدد عقيده درلوده. يو څه شمېر د مسلم ليګ غړي راغلل چې اله ګوله جوړه کړي، مګر کله چې يې وسله وال کليوال وليدل بېرته په شا وتښتېدل.
د مرکز غونډې ته په زرګونو خلک راغلل. خدايي خدمتګارانو خورا ښه تياری نيولی وو. دا ټول ګڼ خلک ځای په ځای وو او د غونډې نتيجه رښتينی برياليتوب و. جواهر لال ته د خدايي خدمتګارانو په نمايندګۍ ښه راغلی وويل شو. نوموړي هم په جواب کې خبرې او وينا وکړه. ما هم خبرې وکړې. کله چې غونډه پای ته ورسېده، په دا بله ورځ مونږ بېرته پېښور ته لاړو او له هغه ځای څخه جواهر لال نهرو بېرته ډهلي ته ستون شو.

# عدم تشدد

هغه وخت چې زه په ۱۹۴۵ کال کې له جېل څخه ووتلم، ډېر ناروغ وم. زه چې په جېل کې یم-تل ناروغه کېږم. ګاندي هغه وخت په بمبۍ کې و او ماته یې ولیکل چې زه هم د ځو ورځو لپاره هلته لاړ شم.
هر وخت به چې زه بمبۍ او یا سیوا ګرام ته تلم، نو خامخا به مې څه ناڅه یوه شپه له دیوداس ګاندي سره تېروله. د دیوداس مېرمن تل تر تله مېلمه پاله او مهربانه ښځه وه او له دوی سره ماته هېڅکله ځان د مېلمه په څېر نه ښکاره کېده. زه بمبۍ ته لاړم. ګاندي د برلاس له کورنۍ سره اوسېده او هغوی زه مېلمه کړم. کله چې مونږ یوه ورځ خبرې کولې، د عدم تشدد موضوع راپورته شوه او ما ګاندي ته وویل: «ګاندي ستا اوس ډېر وخت وشو چې په هندوستان کې د عدم تشدد لارښوونه کوې، مګر ما پښتنو ته په دې هکله لارښوونه ډېره وروسته پیل کړې وه. بیا هم داسې څرګند ېږي چې د عدم تشدد تیوري پر پښتنو ډېر تاثیر کړی او له هندوستانیانو څخه یې ژر دا زده کړه کړې ده. یوازې دې ته ځیر شه چې ۱۹۴۲ کال په جګړه کې په هندوستان کې څومره شدت روان و، مګر په شمالي صوبه سرحد کې پښتنو که څه هم برتانویانو ورباندې ډول ډول ظلمونه کول او د تشدد او تېري قدرت هم ورسره و، مګر دا کار یې ونکړ. ددې جواب به څه وي؟
ګاندي جواب راکړ: عدم تشدد د بې غیرتانو کار ندی. دا د زړورو او پیاوړو خلکو لپاره دی. پښتانه له هندوانو څخه ډېر زړور او پیاوړي دي او همدا سبب دی چې پښتنو له تېري او شدت څخه پرهېز وکړ.» هر وخت چې زه په سیوا ګرام او یا بل کوم ځای کې په عبادت بوخت یم، تر ټولو لومړی زه قران مجید قرائت کوم. په سیوا ګرام کې یو جاپاني تل تر تله د خپل بودایي کتاب په لوستلو بوخت و. له هغه وروسته به د هندوانو د عبادت کولو وخت را ورسېد.

ګاندي د ټولو مذهبونو درناوی کاوه او ورته یې په یوه سترګه کتل. ده په دې عقیده درلوده چې د ټولو مذهبونو بنسټ په یوه حقیقت ولاړ و. زما پخپله هم دا ټینګه عقیده ده.

ما قرآن مجید او بګوات ګیت دواړه لوستلي دي، هغه وخت چې زه د ډېره غازي خان په جېل کې وم، زما سیکانو ملګرو به تل ترتله راته ګروګرانت لوست. ما د بودایي دین له زده کړې سره هم مینه لرله؛ دا ځکه چې زمونږ اولس مخکې له دې نه چې اسلام راوړي، بودایي مذهبه وو. مګر زما هیڅ نه په زړه کېږي چې په بودا ایېزم کې ما داسې کتاب پیدا کړی وي چې وربانديې وپوهېږم. زه د انجیل له لوستلو سره هغه وخت بلد شوم، کله چې په میسیون ښوونځي کې وم او په جېل کې به مې ډېر وخت لوستلو. ما د فارسیانو مذهب په لوست کې هم ډېره هڅه وکړه. ځکه چې دا د زورا ستر له لوستو څخه چې په بلخ کې زېږېدلی و عبارت و، مګر بیا باید ووایم چې تر اوسه پورې مې د نوموړي په هکله کوم ادبیات پیدا نکړل. ما له خورشید بېن او ځینو نورو فارسي ملګرو څخه غوښتي دي چې د زور استر د ژوندانه په هکله کوم کتاب ماته را واستوي مګر تر اوسه یې کوم احوال را ځرګند شوی ندی. زما مذهب سوله، رښتیا، د خدای او د هغه د مخلوق خدمت دی. هر مذهب چې نړۍ ته راغلی له ځان سره یې د سولې او وروګلوۍ پیغام راوړی. نو هغه څوک چې د همنوعانو ګټې د ځان نه بولي، هغه څوک چې زړونه یې له سولې او مینې څخه تش دي. هغه څوک چې په زړونو یې د نفرت او بدبینۍ پردې پرتې دي، هغوی د مذهب په اصلي مانا نه پوهېږي.

***

# کسات په کسات باندې

هغه اعتصابونه او ګډوډۍ چې په ۱۹۴۲ کال کې په هندوستان کې وشول. په رښتیا چې د مسلم لیګ د لمسوونو نتیجه وه. دا خبره باید ومنم چې په لومړي ځل څو تنه هندوان ژوبل او یا وژل شوي وو، مګر کله چې سیکانو او هندوانو د مسلم لیګ خبره ومنله او وار دوی ته ورسېده، نو د مسلمانانو ژوند او مالونو ته دومره تاوان او خرابۍ ورسېدې چې له عقل او ګومان څخه وتلي وو. بیا نو مسلم لیګ د دې لپاره چې دا ګډوډۍ دوامداره وساتي، په دې نوم چې د کلکتې کسات (انتقام) واخلي، په نوخالي یې حمله وکړه. دوی د هندوانو لپاره دوزخ جوړ کړ او په نوخالي کې یې داسې کړنه او ظلمونه وکړل چې هر بشر چې انساني زړه ولري، د هغوی په هکله به ټکر شي او د شرم ککره به ښکته وځړوي. برتانویانو له خپلې پالیسۍ او د (ډیوایډ اینډ رول) له فورمول سره سم یې هندوان هم پخپل تور (جال) کې ونیول. هندوانو بیا پخپل وار د کسات (انتقام) په ترخ کې د چنګېز خان د نوم او کارنامو یادګار په بهار کې جوړ کړ. د مسلم لیګ خوب رښتینی شوی و. هغه ورځ چې د خدای له درباره یې غوښتي وه د سهار سپېدې یې وچودلې. د دغو ناپاکو پلانونو شاته چې مسلم لیګ په لاس کې نیولي وو. څه پراته وو؟ او په ټول هېواد کې د دغو نفرتونو د اور له لګونې او د کسات له اخیستلو مقصد څه و؟


ولې د دوی لاسونه د خپلو هېوادوالو په وینو سره ککړ وو. له دې ټولو خبرو دا مفهوم لاسته راځي چې: یا مسلم لیګ د زور او پیاوړتوب په لاس راوړلو لپاره وړی و او یا دا چې غوښتل یې چې هېواد ټکر ټکر کړي. برتانویان په دې حقیقت ډېر خوښ وو چې ورڅرګنده شوه چې مسلم لیګ یې د لاس آله و او په لندن کې یې د کارګر حکومت ته داسې ور ترسترګو کړل چې ګوندې هندوستانیان یوازې هغه څوک وو چې یو د بل وینو ته تږي وو، د یوه او بل

د پښتو راغورځولو پسې وو او خپل هېواد او آزادۍ ته يې کوم قدر او قېمت نه ورکاوه.
په هندوستان کې حکومتي مامورينو داسې فکر کاوه چې «حکومت بايد په دې پوه شي چې په هندوستان کې برتانوي تسلط او اداره ډېره ضروري وه، که نه نو د دې هېواد اولس به د يوه بل وينې وڅښي !». زه پخپله بهار ته لاړم. په پټنه کې مسلمانانو ته ډېر تاوانونه رسېدلي وو. په ټول بهار کې کورونه لوټ شوي وو، له منځه وړل شوي وو او ورونه وراچول شوي وو، برسېره پردې ډېر ګڼ شمېر وګړي وژل شوي وو. زه په کليو کې وګرځېدم، ډېرې خرابۍ رسېدلې وې. ډېر خلک تللي وو او کوم څوک چې پاته وو په کمپونو او خېمو کې يې ژوند کاوه. په دې ټولو خرابيو او فسادو برسېره بيا هم د مسلم ليګ چل ول لا مخ پر وړاندې روان و.
هغوی غوښتل چې له دغه ټولو توربختيو څخه سياسي ګټه واخلي او هڅه يې کوله چې ټول بېوزلان دې ته وتړي چې بنګال ته مهاجرت وکړي او زه په دې وېرېدم چې څنګه به دا امکان ولري چې هغوی پخپلو کليو او کورو کې ځای په ځای شي.
مګر مسلم ليګ دوی دومره تر فشار لاندې کړي و چې زما خبرو ته يې غوږ نه نيولو. د مسلم ليګ د ليډرانو د ليدلو لپاره لاړم. دوی ټول د بارستر يونس په بېشانه بنګله کې ننوتلي وو-کله چې زه ورغلم، نو دوی په څښلو او خوړلو لګيا وو، ما ورته وويل چې: «زه د لته راغلی يم چې له تاسو څخه دا غوښتنه وکړم چې اوس دا ټولې بدمرغۍ او توربختۍ پای ته ورسوئ. ايا اوس خرابۍ له حده تېرې نشولې؟ که چېرې تاسو غواړئ چې دا بېوزلي خلک بنګال ته هجرت وکړي، که تاسو غواړئ چې هغوی هلته ځای په ځای شي، زه هېڅ اعتراض نه لرم، مګر ستاسو لپاره به دا مناسبه نه وي چې هغوی د خپلو آرزوګانو لپاره استعمال کړئ. دغو خلکو مخکې له مخه ډېر کړاوونه تېر کړي دي. لطفاً نور يې مه ځوروئ !» مګر د مسلم ليګ ليډرانو کوم زړه سوی ونکړ او ټول بهاريان يې بنګال ته واستول. مونسون رانږدې

شوی و. ما دا هڅه کوله چې که چیرې وکولای شم مخکې له دېنه چې
بارانونه پیل شي د دې خلکو کورونه جوړ کړم او ځای په ځای شي. مګر د
مسلم لیګ مشرانو له ما سره کومه مرسته ونکړه. دا څرګنده وه چې دوی د
جوړولو او اصلاح لپاره نه وو، بلکې د خرابۍ او ویجاړولو په هڅه کې وو.
هغه مسلمانان چې بنګال ته یې هجرت وکړ له هغو څخه یې لا ډېر په بد حال
و کوم چې شاته پاتې شول. ځینې په لارې مړه شول او ځینې یې هم په بنګال
کې. کوم څوک چې ژوندي پاتې شول هغوی پټني تـه لاړل. دوی اوس
احساس کړې وه چې د مسلم لیګ په وس کې هم نه وه او هم یې نه غوښتل
چې له دوی سره مرسته وکړي او په دې هم پوهېدلي وو چې دوی د مسلم
لیګ په سیاسي لوبه کې د شطرنج د پیاده ګانو په څېر استعمال شوي وو.
ډېرو مسلمانانو مخکې له دې نه چې له خپلو سیمو څخه هجرت وکړي خپل
ډېر قیمتي مالونه یې خښ کړي و او اوس ببرته په دې هڅه کې وو چې که
څوک پیدا شي چې هغوی خپلو سیمو ته وګرځوي او خپل ملکیتونه
تصرف کړي. مګر مسلم لیګیان له پټني څخه نشو وتلای. زه یو ائینی څوک
وم چې له هغو خلکو سره مې مرسته وکړه چې ببرته خپلو سیمو ته لاړ شي
او خپل ملکیتونه ببرته واخلي. څنګه چې د دې خلکو ډېرې خواشینۍ او
ځورونې لیدلې وې، نو ډار او وېره ور باندې زور شوه ماته راغلل او ویې
ویل چې مونسون رانږدې شوی و او دوی د ژوند کولو او اوسېدلو لپاره
سرپناوې نه لرلې. له ما یې غوښتنه وکړه، چې د بهار په حکومت زور واچوم
تر څو دوی ته د بارانونو له پیل څخه د مخه کورونه جوړ کړي. زما له
غوښتنې سره سم د بهار حکومت هم عملي ګام واخیست او د کورونو په
جوړولو یې پیل وکړ. مونسون ډېر رانږدې شوی و، خو له بلې خوا د کورونو
جوړولو کار هم ښه چټک مخ پر وړاندې روان و.
مګر ما خیال وکړ، که چیرې مهاتما ګاندي بهار ته راشي، نو د کورونو
جوړولو کار به نور هم پسې اوچت شي او مخکې له دېنه چې باران پیل شي
پای ته به ورسېږي. نو ما ګاندي ته چې هغه وخت په نوخالي کې ؤ ولیکل.

په نوخالي کې هم ډېر تاوانونه رسېدلي وو. کله چې زما ليک وررسېد، بې له درنګه راغی او په کليو کوڅو کې راوګرځېد. کوم ځای ته به چې لاړ، نو خلکو ته به يې تسلي ورکړه او په زړونو کې به يې ورته نوې هيلې پيدا کړې. د ودانولو کار هم ډېر چټک شو. مريد ولابن چې د ګاندي سکرتره وه، هم له ده سره راغلې وه. نوموړې هم په دې بېوزلو مسلمانانو زيات زړه سوی وکړ او د هغوی په هکله يې ډېر څه وکړل. د دې د بشر دوستۍ روحيه به هېڅکله زما له زړه څخه ونه وځي او تل تر تله به په دې هکله د نوموړې درناوی کوم. په هغه زمانه کې زمونږ ترمنځ د پلار او لور په شانته رابطه پيدا شوله او تر اوسه پورې لا دوام لري.

***



# د هندوستان وېش

د بهار د پېښې څخه وروسته اوس دا وخت رارسېدلی ؤ چې مسلم لیګ له پنجاب او شمال صوبه سرحد څخه کسات واخلي. مسلم لیګیانو یوازې د هندوانو او سیکانو ملکیتونو او شتمنۍ غضب نکړې، بلکې د دې لپاره چې قانوني حکومت له پښو وغورځوي او په ځای یې غیر اسلامي او د قانون په خلاف د حکومت جوړولو هڅه وکړي، نو په ېبځایه اعتصابونو او لمسونو یې پیل وکړ.
زه لا تر اوسه پورې په بهار کې وم او د مسلمانانو په منځ کې مې کار کاوه. سرحدي اسامبلۍ په کار پیل کړی ؤ. په پنجاب کې د ملتان، امرتسر، امبالا، راولپنډي او ګجرات په سیمو کې اعتصابونه پیل شول. له هغه ځای څخه یې پېښور ته غزونې وکړې. مسلم لیګ د دې لپاره چې ډاکترخان صاحب دې ته وتړي چې له خپلې وظیفې څخه استعفا وکړي، نو د ده پر ضد یې په ډول ډول پروپېګنډو او لمسوونو لاس پورې کړ. هغوی د پېښور په لیارو کوڅو کې د بې ګناه خلکو په وژلو او ژوبلولو پیل وکړ. د دې لپاره چې له هزاره ضلعې څخه یو تن هندو نجلۍ راوګرځوي، مسلم لیګانو په اولسي بغاوت پیل وکړ. له دوی سره دا معنوي قدرت نه ؤ چې ډاکتر خان صاحب ته په مخه ورشي؛ دا ځکه چې نوموړی پخپله او وزارت یې ډېر پیاوړي وو. نو هغه وو چې په تخریب او منافقتونو یې پیل وکړ.
جواهر لال او د کانګرس نور غړي چې په موقتي حکومت کې وو، په دې ناڅاپه لمسوونو ډېر خواشیني شوي وو. په پای کې په ټولو هیلو برسېره حتی کانګرس هم دې ته راضي شو چې هندوستان باید وویشل شي. د ۱۹۴۷ کال د جون په درویشتمه نېټه لارډ مونت باټن د هندوستان د وېش اعلام وکړ-کانګرس او مسلم لیګ هم خپله

مننه څرګنده کړه. ډاکتر خان صاحب د مسلم لیګ ټول بندیان خوشي کړل. برتانویانو د کانګرس د بندیانو لپاره جېلونه د کلپونو په شان ته جوړ کړي وو، په صوبه سرحد کې به بندیان د چکر وهلو لپاره د باندې وتل او حتی د شپې تېرولو لپاره به خپلو کورونو ته تلل. د کانګرس حکومت یوازې په نوم ؤ. برتانویانو له ډاکتر خان صاحب سره یوه کوچنۍ مرسته هم نه کوله، مګر د هندوانو لپاره د خدای فضل شوی ؤ ځکه چې ګورنر دوی ټول نشو ځورولای، ولې چې ډاکتر خان صاحب په مخ کې ؤ، ګورنر هم د ډاکتر خان صاحب په مخ کې لوی خنډ ؤ او ده ته یې موقع نه ورکوله چې د هندوانو هغسې ساتنه چې په زړه کې یې وه وکولای شي. د ډاکترخان صاحب او ګورنر تر منځ رښتینی اختلاف دا ؤ چې ډاکتر به د یوه لړ شمېر پښتنو له حقوقو څخه د فاع کوله. ځینو انګرېز مشرانو او هغو چا چې د مسلم لیګ سندرې یې ویلې او د هغوی موزیک ته یې نڅا کوله، داسې ادعا وکړه چې باید د خدایي خدمتګارانو وزارت ړنګ شي او د محکوم مرکزي پښتونستان ایالت د ګورنر تر فرمان لاندې شي. (دا هغه ګورنر «کارو» ؤ چې له هندوانو سره یې دښمني کوله او د مسلم لیګ خوږ ملګری ؤ) دوی د دې لپاره چې خپلې غوښتنې په ځای کړي، په منافقت او دوه مخۍ یې داسې غږ پورته کړی و چې ګواکې د خدایي خدمتګارانو حکومت د دوی ساتنه نشوه کولای، په دې خبر نه وو چې پخپل تابوت یې مېخونه وهل.

د پېښور په ښار کې دوکانونه تړلي وو، هندوانو او سیکانو ځانونه د ننه په کورو کې پټ کړي وو، په دې برسیره بیا هم د تړلو ورونو شاته پخپلو کورونو کې یې هم مال-اولاد او عزت ساتلی نه ؤ. پېښور ته لس زره تنه خدایي خدمتګاران په سرو یونیفورمونو کې راغلل چې هندوان او د ښار نور او سېدونکي وساتي. څنګه چې د خدایي خدمتګارانو د راتګ خبر یې غوږونو ته ورسېد -بې له درنګه هندوان راووتل-دوکانونه خلاص شول او

نورمال تجارت پیل شو. هغوی پوهېدل چې مال او مالونه به یې اوس ساتلی وي. خدایي خدمتګاران شپه او ورځ پیره وو او د خلکو هیلې هم کله چې به یې سرې جامې ولیدلې-نوې کېدلې او پوهېدل به چې اوس نو ډار نشته.

د انتخاباتو په وخت کې مسلم لیګ یو پنجابی منصبدار میجر خورشید د دې لپاره چې له دوی سره په رایو ورلو کې مرسته وکړي ورلېږلی ؤ. نوموړی منصبدار د بدې رویې په هکله له عسکری ځخه شړل شوی ؤ. مسلم لیګ میجر خورشید په دې هیله هلته استولی ؤ چې د پښتنو ترمنځ شخړه راپورته کړي. هغه لکچرونه چې نوموړي د مسلم لیګ لپاره په پېښور کې ورکړل ډېر د نفرت او کرکې سبب وګرځېدل. میجر به دا د خلکو غوږونو ته رسوله چې د کانګرس څو تنه غړي په دې هڅه کې دي چې ټول اولس د خپلې ګوتې لاندې وساتي باید هغوی ووژل شي. ده به ویل چې: «ولې چاته څه پیسې ورنکړو چې هغوی په قتل ورسوي-دا کار ممکن د لس یا شل زره روپیو نه وي، مګر ترهغه پورې چې دوی له مخې نه وي لرې شوي، زمونږ هېڅ کار به پر مخ لاړ نشي.» له دا ډول لکچرونو د ده مقصد دا ؤ چې خلک به مغشوش کاندي او پخپلو منځونو کې به په شخړو لاس پورې کړي. ده داسې فکر کاوه چې که چېرې یو تن خدایي خدمتګار ووژل شي، نو پښتانه به د هغه په کسات اخیستلو پسې راپورته شي او د مسلمانانو نور مشران به له منځه یوسي. په پای کې به نو دوی په خپلو منځونو کې داسې سره ولوېږي او دښمني به یې دومره اوږده شي، چې نور هر څه به یې له یاده ووځي او خاتمه به یې نو خامخا د دوی انهدام وي. د میجر خورشید یوازې مقصد دا نه ؤ چې خدایي خدمتګاران له منځه لاړ شي، بلکې د دوی مقصد له ټول پښتون او پښتني ټولنې ځخه ؤ. مګر کله چې زمونږ خلکو د میجر خورشید وروستنی هدف وموند ، نو سمدلاسه یې د خدایي خدمتګارانو د ساتنې لپاره بل سازمان جوړ کړ. د دې سازمان نوم پښتون زلمی ؤ-غړي یې ځوانان وو او د عدم شدت په تیوري یې هم عقیده نه درلوده.

د دوی دلیل په دې هکله دا ؤ چې خدايي خدمتګارانو له شدت څخه کار نه اخیست، مګر نورو پر هغوی ظلم او تېری کاوه، نو د دې لپاره هغوی د ځوانانو طبقې ته چې له دوی څخه په ځینو مواقعو کې دفاع وکړي ضرورت درلود. هغوی د اولس ترمنځ داسې اعلام وکړ چې پښتون زلمي به له دې وروسته د خدايي خدمتګارانو ملاتړ وکړي. مسلم لیګ د دې سازمان پر ضد یو بل سازمان جوړ کړ چې د غازي پښتون په نوم یاد شو. ځینې خانانو او ملکانو چې تر اوسه پورې هم د انګرېزانو وفادار وو، له مسلم لیګ سره یې زړه سوی ښکاره کړ، مګر دومره جرئت یې نه درلوده چې د میجر خورشید کاروايي مخ پر وړاندې یوسي ځکه چې دوی پوهېدل چې که چېرې دا کار وکړي، نو ژوند کول به یې په لوی خطر کې وي. نو دا د میجر خورشید او پنجاب د پلانونو پای ؤ چې غوښتل یې پښتانه تار په تار او ټکر ټکر کړي. زه ډېلي ته تللی وم چې د کانګرس د اجرايوي کمېټې په غونډو کې ګډون وکړم. دا هغه غونډه وه چې د هندوستان د بېلېدو او وېش خبرې په کې کېدلې. زه او ګاندي د بېلېدو پر ضد وو. زه نه پوهېږم چې نورو غړو په دې هکله څه فکر کاوو ځکه چې لاتر اوسه مو له هغوی سره خبرې نه وې کړې، مګر سردار پاټېل او راجا ګوپا لچري له بېلېدو سره موافقه درلوده او پر نورو یې هم زور اچولو. په دې غونډه کې په شمالي صوبه سرحد کې د ریفرنډم په هکله هم خبرې وشوې. زه او ګاندي د ریفرنډم پر ضد هم وو. ما ورته وویل چې د ریفرنډم لپاره هیڅ کوم ضرورت نه ؤ. پروسږ کال هم د پاکستان او هندوستان په مسئله ریفرنډم وشو، مونږ انتخابات له مسلم لیګ څخه په پوره اکثریت وګټل. نو بل ریفرنډیم به مو له دې څخه ساده نکړای شي.

سردار پاټېل او راجاګوپالچري له مونږ سره سترګې په سترګو نشو کېدلای چې په دې هکله راسره خبرې وکړي، مګر په حقیقت کې یې د کانګرس په اجرايوي کمېټې زور اچولی ؤ او د ریفرنډم ضرورت یې ډېر شدید باله، په پای کې اجرايوي کمېټې له دوی سره دا خبره ومنله او د دواړو (د

هندوستان وېش اوریفرنډم) په هکله یې رایې ورکړې. په دې فرصت کې ما ګاندي او اجرایوي کمېټې ته وویل چې مونږ پښتانه د هندوستان د آزادولو لپاره د دوی په څنګ کې اوږه په اوږه ولاړ وو او په دې هکله مو ډېرې سربښندنې او قرباني ورکړې دي، مګر تاسو اوس مونږ یوازې پرېږدئ او د لېوانو په خولو کې مو اچوئ. مونږ د هندوستان او پاکستان د مسئلې په هکله انتخابات وکړل او په هغو کې په ډېر اکثریت بریالي شو. آیا په دې هکله چې پښتنو څه غوښتل کوم شک شته دی؟

دا خبره ټولې نړۍ ته څرګنده وه. دا یو دلیل ؤ چې مونږ ریفرنډم نه غوښتلو. بل دلیل هم دا ؤ چې هندوستان مونږ په ډاګ پرېښودو. نو مونږ «د هندوستان یا پاکستان» په نوم د څه لپاره ریفرنډم وکړو؟!

رښتیا خبره خو دا ده چې د کانګرس د دې ضعف په هکله زمونږ وګړي ډېر خواشیني او په غصه شوي وو همدا دلیل ؤ چې مونږ ویل چې که چېرې ریفرنډم کول څوک غواړي، نو په دې مسئله به وي چې «پښتونستان که پاکستان؟!»

غوره خبره دا ده چې مونږ کانګرس خوشي نکړ، مګر کانګرس مونږ په ډاګ پرېښودو! که چېرې مونږ له کانګرس څخه لاس اخیستی وای، نو برتانیې به مونږ ته هر څه چې مو غوښتل راکړي وای- خو مونږ دا کار ونکړ. زه باور لرم چې که کانګرس دا خبره داسې ټینګه کړې وای، لکه کومه یې چې د ګورداسپو ټینګه کړه او یا یې داسې ټینګار کړی وای، لکه څنګه چې جناح د دې خبرې په هکله وکړ، نو ضرور به برتانویانو د کانګرس غوښتنې ته غاړه ایښودلې وای.

زمونږ لویه بدمرغي دا ده چې ګاندي زمونږ په منځ کې نشته. که چېرې هغه ژوندی وای، زه باور لرم چې له مونږ سره به یې مرسته کړې وای. مونږ له جواهر لال نهرو څخه ډېرې هیلې لرلې-ده لوی خدمتونه وکړل، مګر نه پوهېږم چې د پښتنو لپاره یې ولې څه ونکړل؟!

کله چې د کانګرس اجرایوي کمېټې د هندوستان د وېش او ریفرنډم په

هکله رای ورکړې، ماته داسې څرګند یدله لکه چې پر ټولو پښتنو یې د اعدام حکم کړی وی.

زه په ډېره خواشینۍ په چرتونو کې ډوب کېناستم. مولانا آزاد هم زما ترڅنګه ناست ؤ. نوموړي راته نصیحت وکړ: «ته باید اوس له مسلم لیګ سره یو ځای شې.» دا خبره اوس لاهم زما په ککره کې پرته ده او له یاده مې نه وځي چې څنګه دا توربخته او بدمرغه ټکی د ده له خولې راووت. تر اوسه پورې یې لا په سبب نه پوهېږم؛ دا ځکه چې مولانا لکه زما په شان د مسلم لیګ د ټولو کړو وړو او اساساتو کلک مخالف ؤ او په دې وخت کې د هغوی په پالیسو کې کوم داسې بدلون هم نه و راغلی چې مونږ لږ څه خوشبین شو او له هغوی سره یو ځای کېدو ته مینه دار شو. مسلم لیګ ټول عمر د تخریب لپاره فعالیت کاوه، مګر ما خپل عمر د جوړونې او اصلاح لپاره وقف کړی ؤ. که مولانا داسې فکر کولو چې زه باید له مسلم لیګ سره یو ځای شم نو ولې یې پخوا راته دا خبره نه کوله؟ ولې یې دا ټول وخت خپله مفکوره له ځان سره پټه ساتلې وه؟ پداسې وخت او داسې حالت کې د داسې خبرې کول لکه چې مولانا وکړه نه یې په ما کومه اغېزه درلوده او نه د ګټې وړ خبره وه. زه خپل اساسات او عقیده او خپل فکر ګړۍ په ګړۍ نه شم بدلولای او نه دا غواړم چې زما هېواد او اولس د کربوړي په شان ته بڼه بدله کړي.

کله چې بیا د احرار جنبش (مجلس الاحرار اسلام) د هندوستان له وېش څخه وروسته له مسلم لیګ سر یوه ځای شو-لیاقت علي سخته ضربه ورکړه او له لیګ نه یې وشړلو.

***

# آیا آزادي داسې وي ؟

د پاکستان د جوړېدلو په لومړنیو اتلسو کلونو کې ما پنځلس کاله په جېل کې تېر کړل. د دې جېل په اوږدو کې- خدای دې هر څوک له داسې ترخو تجربو څخه وساتي ! آمین- په زرګونو خدایي خدمتګارانو ژوند له لاسه ورکړ. هغوی یوازې بندیان نشول، بلکې له هغوی سره داسې کړنې وشوې او داسې ظلمونه ورباندې وشول چې هېڅ بشر یې طاقت نشي کولای. د هندوستان او پاکستان له وېش څخه وروسته ما وویل:

«اوس چې د پاکستان جوړېدل رښتیني شول او دا حقیقت د کانګرس او مسلم لیګ لخوا ومنل شو، زما یوائینی هیله دا ده چې بې له دې چې د کومې برخې غوښتنه وکړم- خلکو ته خدمت وکړم. زما اولس هم اوس د دې هېواد یوه ټوټه یاد بږي، نو مونږ به هم د دې هېواد لپاره له وسه سره سم خدمت وکړو.»

لېکن پاکستاني حکومت په دې باور نه کاؤ او حتی زه یې متهم کړم، چې ګوندې د دوی اصلاحي پلانونه مې تخریبول.

هغه وو چې په جېل کې یې واچولم. داسې بهانې یې جوړې کړې چې زه په سرحدي سیمو کې راګرځېدلی وم. زما زوی ولي هم په همدغه بهانه باندې بندي شو او لږ څه وروسته د ډاکتر خان صاحب او غني پای هم داسې شو.

زه د کوهاټ د ډپټي کمیشنر مخ ته وروستلای شوم. نو موږي له ما څخه د ښې رویې تعهد وغوښت. ما ورڅخه پوښتنه وکړه چې ولې؟ ده راته وویل چې زه د پاکستان مخالف وم. کله چې ما ورڅخه غوښتنه وکړه، چې آیا د دې خبرې اثبات کولای شي ! ده مې په جواب کې وویل چې: «دلیل او خبرې جواز ندي». نو ما هم د تعهد له ورکولو څخه انکار وکړ. هغه وو چې په هغه شبېه یې زه په درې کاله ریاضت بند محکوم کړم او د مونټ ګومري جېل ته یې واستولم.

ماته د دې بند له مودې څخه کوم کموالی رانکړ شو او کله چې مې د بند موده خلاصه شوه، نو له یوه اصل سره سم چې په ۱۹۱۸کال کې جوړ شوی ؤ، تر شدید او نږدې نظارت لاندې وم.
د ۱۹۵۴ کال د جنوري تر میاشتې پورې خوشې نه شوم او کوم وخت به که چېرې خوشې هم وم، نو دا به هم یوازې په نوم ؤ. زه بیا بیا په بندونو محکوم شوم او په دې ډول پنځلس کاله ما د پاکستان په جېلونو کې تېر کړل. که څه هم مونږ خو کوم جرم نه وکړی، مګر د پاکستان حکومت دا سې ظلمونه او ناروا وې راسره وکړې چې هېڅکله مو د خارجي تېري کوونکو لاندې نه وې لیدلې. برتانویانو هېڅکله زمونږ کورونه لوټ نکړل، مګر د پاکستان «اسلامي حکومت!» دا کار وکړ.
برتانوي حکومت هېڅکله مونږ له خبرو کولو او د ورځپاڼو له نشرولو څخه ونه ګرځولو -مګر د پاکستان اسلامي حکومت! دا دواړه کارونه وکړل. زه په دې ډول خبرې نورې پسې کولای شم-مګر ګټه به یې څه وي؟ په چارسده کې د جمعې په ورځ پښتانه او د پښتنو ښځې جومات ته د لمانځه کولو لپاره روان وو. د هغوی په لاسو او سرونو باندې قران مجید ونه وو. کله چې د جومات وره ته ور نږدې شول او ننوتل، نو د پاکستان د اسلامي حکومت! سپاهیانو ورباندې خپلې ماشینګړې را واړولې او د ګولیو باران یې ور باندې جوړ کړ. یوازې پښتانه او د پښتنو ایمانداري مېرمنې په ګولیو غلبېل غلبېل نشوې، بلکې د قرآن پاک له پاڼو هم ګولۍ ووتلې!
په جېل کې د پاکستان د «اسلامي حکومت» د برتانویانو په اندول لس چنده پر مونږ ظلمونه او ناروا وې کولې. په پاکستان کې د ټولې شپې په اوږدو کې زمونږ د جېل په بارکونو او کوټو کې څراغونه نه وژل کېدل. په حیدرآباد (سند) کې زه په توقیف کې کوټه قلفي وم او هېچا ته اجازه نه وه چې له ما سره لیدنه او کتنه وکړي. د هغه ځای هوا زما له وجود سره موافقه نه وه او زمونږ روغتیا ته یې ډېر تاوان را ورساوه چې په پای کې سخت ناروغه شوم. ما ته د بدو ډو ناروغي راپیدا شوه چې دې ناروغۍ مې په

پښتو بده اغېزه وکړه. د هغه ځای جېلوان يو پنجابی مسلمان و او هېڅ ډول زړه سوی يې نه درلود.
که څه هم يو ځل يې کومه دوا راکړه، مګر هغې کوم تاثير ونکړ.
وروسته بيا د لاهور جېل ته واستول شوم. تر هغه پورې لا ناروغ وم. له هغه ځای نه د مونټګومري بنديخانې ته واستول شوم او توقيف يې کړم، صحت مې لا ښه نه ؤ او په حقيقت کې ورځ په ورځ مخ په خرابېدو ؤ.
ما پنځلس کاله د برتانيې په بنديخانه کې تېر کړل او پنځلس کاله د پاکستان اسلامي حکومت جېلي کړم او جرمونه يې هم را باندې پرې کړل.
يو ځل يې په ليو کې زما ځمکه چې بيه يې پنځوس زره کلداري کېدله په پنځلس زره کلداري ضبط کړه.
که برتانويانو له مونږ سره ظلم کاوه، هغه خو مو دښمن ؤ، مګر زه په دې خبره نه پوهېږم چې ولې او د څه لپاره د پاکستان اسلامي حکومت زه او په زرګونو خدايي خدمتګاران په جېلونو کې دومره کلونه واچولو. متاسفانه د پاکستان په مقابل کې له ما سره کومه ښه خاطره او ښه احساس نشته دی.
پاکستان د نفرت په اساس جوړ شو. پاکستان په مينه ونه زېږېد، بلکې په نفرت کې وزېږېد، په نفرت کې لوی شو او په نفرت او بدبينۍ کې مخ پر وړاندې روان دی. پاکستان د انګرېز له غوښتنو سره سم په دې منظور جوړ شو چې تل ترتله به د مسلمانانو او هندوانو ترمنځ شخړې روانې وې او دا به يې هېره وي چې دا قدرت خو وروړګلوي هم کولای شي. له پاکستان سره دا قدرت نشته چې په سوله او ملګرتوب کې ژوند وکړي. هغه غواړي چې د پاکستان اولس د اعتصابونو، شخړو او «جهاد» په ترڅ کې تر خپل کنټرول لاندې وساتي.

***

# آیا مونږ خپل اعتبار خوړلی دی؟

په دې کتاب کې مولانا آزاد وايي: «په کلکته کې ځینې پښتانه زما پوښتنې ته راغلل. کله چې ما له چای سره هغوی ته کلچې وړاندې کړې، نو دوی وویل چې مونږ پخوا هیڅ کلچې نه دي خوړلې. دوی ورپسې زیاته کړه چې ډاکتر خان صاحب او پاچا خان کلچې خوري او مونږ ته هیڅ نه رارسېږي!» مولانا صاحب څو ځله صوبه سرحد ته تللی او پخپله یې د پښتنو مېلمه پالنه لیدلې ده. ده ته به دا هم څرګنده شوې وي چې زمونږ تر منځ څومره عدالت او برابري موجوده وه. پښتانه دومره وړې هم نه دي چې پخپل ژوند کې یې کلچې نه دي خوړلې. مېلمانه خو پرېږده، زه خپله ډوډۍ له نوکرانو سره یوځای خورم او څه چې ماته رارسېږي هغه دوی ته هم ورسېږي. زمونږ په هېواد کې دا ډېر لوی شرم دی چې څوک له چای سره کلچې وخوري او مېلمنو ته چې په هغه ځای کې وي څه وړاندې نکړي. نو زه نه پوهېږم چې په کلکته کې مولانا آزاد لیدلو ته څنګه پښتانه ورغلي وو!؟ مولانا صاحب پخپل کتاب کې داسې هم وايي: «ډاکتر خان صاحب او پاچاخان د دې په ځای چې هغه پیسې چې د کانګرس لخوا ورکړل شوې وې، پخپل ایالت کې ولګوي، هغه به یې مرکز ته استولې» نو د مولانا په نظریه همدا سبب شو چې د دې ډول اقتصادي چال چلن زمونږ د تحریک تاثیر کم کړ او له منځه یې یووړ. د خدايي خدمتګارانو جنبش لکه د نورو جنبشونو په شان ټول تش سیاسي نه ؤ. هغه سیاسي، اجتماعي، ریفورمي او روحاني ؤ. خدايي خدمتګارانو د خپل هېواد او اولس خدمت د خدای په نوم کاوه، دوی حتی خپل یونیفورمونه هم پخپل لګښت جوړول. مونږ له کانګرس څخه هیڅ پیسې نه دي اخیستې. که کانګرس کومې پیسې هم راکړې وې، نو هغه به د پارلماني بورډ لپاره وي. مونږ د ملت او ملي ثروت څخه بېځایه ګټه اخیستل او د ځان لپاره یې په شخصي توګه استعمال د

خدای په مقابل کې لوی جرم بولو.
که چېرې دا خبره رښتیا وي چې زمونږ جنبش خپل اعتبار له لاسه ورکړی دی، نو ولې تر اوسه پورې په زرګونو خلک زمونږ ملاتړ کوي او جېلونه ورځخه ډک دي؟ البته په دې هم پوهېږو چې هغه ټول ظلمونه او ناروا وې چې د پاکستان حکومت یې له مونږ سره کوي، یو اځینی منظور یې دا دی چې زمونږ موثریت تهدید کاندي، مګر ما ته خو نه ده ځرګنده چې ترکومې اندازې پورې دوی بریالي دي. اوه ! مولانا ته ما ته داسې یو سازمان لکه زمونږ په شان ته راوښیه ! ایا دا دې په وس کې شته؟ دا هم ښه ده چې مولانا په یو خبره اعتراف کوي، چې مونږ له کانګرس ځخه کومې پیسې نه دي غوښتلې او مونږ په کانګرس پورې د یوه ګډ مقصد لپاره تړلي یو. د مولانا صاحب دا خبره چې مونږ د کانګرس پیسې بېرته ګرځولې، لږ ځه تفصیل غواړي. د خدایي خدمتګارانو جنبش ته هېڅ پیسې نه دي ورکړل شوې، دا خبره یو ځل بیا تکراروم چې که مونږ له کومې پیسې راکړل شوې هم وې، نو هغه به د پارلماني بورډ لپاره وې.
او په دې هکله چې مولانا صاحب وایي چې مونږ د کانګرس پیسې په ایالت کې پابندې لګولې او د ده په ګومان همدا سبب دی چې مونږ خپل اعتبار خوړلی دی، نو زه به له نوموړي ځخه غوښتنه وکړم چې هځه وکړي او په یاد یې شي چې: آیا د ده په زړه چې تر وېش نه پخوا او هغه وخت چې د خدایي خدمتګارانو جنبش نه و بند شوی، مونږ ځومره قدرت درلود؟ په دې خبره خو ضرور باید پوه وي چې تل تر تله به په انتخاباتو کې مونږ بریالي وو او حکومت زمونږ په لاس کې و، مګر د هندوستان له وېش او د پاکستان له زېږېدو وروسته خو کوم انتخابات نه دي شوي، نو ځنګه مولانا دا قضاوت کوي او دا ورته ځرګنده شوې ده چې زمونږ اعتبار او قدرت تر کومه حده پورې دی؟
زه داسې یوې موقع او فرصت ته سترګې په لیاره یم چې په پاکستان کې رښتیني انتخابات وشي، نو هغه وخت به نړۍ ته ورځرګنده شي چې زما

اولس څه غواړي او په چا پسې روانېږي ! ! او د پاکستاني واکدارنو ترمنځ دا او س اوس هم دا جګړه روانه ده او که څوک په انتخاباتي شواهدو برسېره زمونږ د اعتبار په هکله نور شواهد غواړي، نو زه ورته دا وايم چې:
«آيا په زرګونو بنديان په جېلونو کې نه ورستېږي؟ ايا په سلګونو خلق خپل ځانونه نه قرباني کوي؟ آيا ګڼ شمېر اولس چې په دې هم پوهېږي چې مالونه او شتمنۍ يې ضبطېږي، په تبعيد کې ژوند نه کوي؟ آيا اولسونو د خپل هدف د لاس ته راوړلو او خپلو حقوقو د اخيستلو لپاره ټينګې ملاوې نه دي تړلې؟ آيا څوک تر دې زيات ثبوت هم غواړي؟ زه ولې بندي شوم؟ که چېرې ما او يا زما ګوند په هېواد کې اعتبار ونه لري، نو د پاکستان حکومت ولې دومره په وېره کې دی چې زه يې ټول عمر د پنجرو شاته وساتلم.»

***





د افغانستان پخوانی جمهور رییس حامد کرزی د المان پخواني جمهور رییس کریستیان ولف ته د
«زما ژوند او مبارزه» الماني کتاب ورکوي.
بوخوم المان ۲۰۱۵

# Foreword of Publisher

This book is the Pashto translation of “My Life and Struggle: Autobiography of Badshah Khan” which was written in accordance with Badshah Khan’s narration to K. B. Narag, and then it was published, in English, in India in 1969. It was translated into Pashto by Ghulam Mohammad and printed in Governmental Press in Kabul.

I saw a version of this book in Hamza Baba Library in Kama District, Nangarhar, and, after typing, it is offered to you dear readers. I appreciate the service of Ustad Sameem in this regard.

The English text of this book was reprinted by Afghanistan Times in Kabul in 2008, and its German version was printed in 2012.

As this book’s Pashto version is not available in much quantity, it is reprinted in order for people to become aware of Badshah Khan’s life and his struggles and act upon his path.

I compiled and published another book entitled “Quotations of Badshah Khan” from various books; I would like to rewrite what I have written in the preface of that book:

“It is reported on the media in Afghanistan almost every day about explosion, war or suicide attacks in which people get wounded or lose their lives. A main cause of such situation is our people who want to satisfy their ambitions and reach to their social and political targets through violence. And this is a main cause of the three

decades war in our country, as well. Dr Mohammad Cyrus, the head of Presidency of Religious Affairs in Turkey says, "The main problem of Muslims is that they do not make their lives in accordance with their religion. Many Muslim leaders and scholars, instead of resolving problems, create problems."

Badshah Khan paid attention to this vital issue, hundred years ago, and he struggled for resolving it. But unfortunately, Afghans either do not have the knowledge about violence or do not work for eliminating it. Unluckily, Afghans, Muslims and other people are not aware of Badshah Khan's ideas and actions. He analyzed, examined and knew Afghan and Islamic society, and, for reforming its weaknesses, he worked successfully. He struggled for reducing his nation's problems throughout his life. He spread his ideas on peace, brotherhood, love and nonviolence everywhere.

We and our leaders are to be blamed for not getting awareness of Badshah Khan's thoughts and struggles and not following his path. One of the purposes of publishing of "Quotations of Badshah Khan" and other books on him is to make the society aware of nonviolence.

Dr Yahya Wardak
Kabul, November, 2015

| | |
|---|---|
| Book Name | My Life & Struggle: Autobiography of Badsha Khan |
| Narrated to | K. B. Narang |
| Translator | Eng Ghulam Mohammad |
| First Edition | 1974, Kabul |
| Second Edition | 2016, Kabul |
| Copies | 1000 |
| Printed at | Sahar Printing Press, Kabul, Afghanistan |

ISBN